

دپوښتی تصویر: په ۲۰۱۱ زیږدیز کال کې د ټولنې مشران د کندهار ولایت په ژیړی ولسوالی کې پر امنیتي موضوعاتو خبرې کوي (کاسی ګاریټ جانسون)

# د سولې د لارې نقشه

## مدني ټولنه او د افغانستان د سولې پروسه

د ۱۳۹۵ غبرګولی

OPEN SOCIETY AFGHANISTAN
جامعه باز افغانستان

HREVO
Human Rights & Eradication of Violence Organization

CPAU

PTRO

TLO

EPD Equality for Peace and Democracy

# د مطالبو فهرست


**له ۲۰۰۱ کال وروسته د بې وسلې کولو او ملکي ژوند ته د راستنېدلو پروګرام او د سولې او عدالت نوښتونه**

I. لنډيز او سپارښتنې ..... 5
1. د موندنو لنډيز ..... 5
2. افغان حکومت او نړيوالو برخه اخيستونکو ته وړانديزونه ..... 9

II. پېژندګلوي (معرفي) ..... 13

III. تګلاره (ميتودولوژي) ..... 15

IV. له ۲۰۰۱ کال وروسته ډي، ډي، ار (بې وسلې کول او ملکي ژوند ته د بېرته ستنېدلو پروګرام) او د سولې او عدالت نوښتونه ..... 17
1. د ډي، ډي، ار پروګرامونه ..... 18
2. بشري حقونه او د انتقالي عدالت نوښتونه ..... 21
3. د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرامونه ..... 24

V. د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام ..... 25
1. پرمختګ ..... 25
2. جوړښت او مالي سرچينې ..... 27
3. موخې، اهداف او ستنې ..... 28
4. د پلي کولو ستراتيژي ..... 29
5. سياسي اړيکې نيول ..... 30
6. د ملي يووالي حکومت په دوره کې ..... 31
7. پايلې او ننګونې ..... 32

VI. موندنې ..... 43
1. لنډه کتنه ..... 43
2. سيمه ييزې، ملي او ولايتي پروسې ..... 45
3. منځګړيتوب او سوله راوستل ..... 48
4. د ټولنې د رغونې پروژې او انتقالي مرسته ..... 54
5. ښښنه او انتقالي عدالت ..... 57
6. سياسي پخلاينه او د واک شريکول ..... 62

VII. ملونه (ضمايم) ..... 64
7. لومړۍ مل پاڼه ..... 64
8. دويمه مل‌پاڼه: ډي ډي آر او د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو نور نوښتونه ..... 65
9. دريېمه مل‌پاڼه: د سولې عالي شورا اوګډې دارالانشا ته د مدني ټولنې دګډون په اړه وړانديزليک ..... 68

**لنډیزونه**

| | |
|---|---|
| ACC | دکرنې د محافظت ډله |
| AIHRC | د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون |
| ANA | د افغانستان ملي اردو |
| ANBP | د افغانانو د نوي پیل پروګرام |
| ANP | د افغانستان ملي پولیس |
| ANSF | د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه |
| AOG | د وسله والو مخالفینو ډلې |
| APRP | د افغانستان د سولې او سوله‌ییز ژوند ته راستنېدلو پروګرام |
| ATA | د افغانستان انتقالي دولت |
| AMF | د افغانستان پوځي ځواک |
| ARTF | د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق |
| CDC | ټولنیزې پرمختیایي شوراګانې |
| CSO | د مدني ټولنې ارګان |
| DDA | د ولسوالۍ پرمختیایي شورا |
| DIAG | د ټولو ناقانونه وسله والو ډلو انحلال |
| DDR | بې وسلې کول او ملکي ژوند ته د بېرته ستنېدو پروګرام |
| FGD | متمرکز ګروپي بحث |
| FRIC | سوله ییز ژوند ته د بېرته ستنولو د په زوره ستنولو پړاو |
| FOCS | د مالي څار د کمېټې سکرتریت |
| GIRoA | د افغانستان اسلامي جمهوري دولت |
| HPC | د سولې عالي شورا |
| IAG | ناقانونه وسله وال ګروپ |
| IDLG | د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره |
| ISAF | نړیوال سوله‌ساتي ځواکونه ( ناټو ماموریت له ۲۰۰۱ نه تر ۲۰۱۴) |
| JS | ګډه دارالانشا (سکرتریت) |
| MoD | ملي دفاع وزارت |
| MoI | کورنیو چارو وزارت |
| MoLSAMD | دکار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو چارو وزارت |

| | |
|---|---|
| NCPJ | د سولې ملي مشورتي جرګه |
| NDC | د بې وسلې کولو ملي کمیسیون |
| NUG | د ملي وحدت حکومت |
| PRTF | د سولې او پخلاینې وجهي صندوق |
| PPC | د سولې ولایتي کمېټې |
| PJST | د ګډې ولایتي سکرتریت ډله |
| PTS | د سولې د ټینګښت پروګرام |
| RS | پرېکنده ملاتړ (حمایت قاطع) (د ناټو ماموریت، له ۲۰۱۵ هاخوا) |
| SGP | کوچنۍ پروژې |
| UNAMA | په افغانستان کې د ملګرو ملتونو استازندویه دفتر |
| VET | د حرفوي زده کړو روزنه |

## I.  لنډیز او سپارښتنې

پنځه کاله وړاندې د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام له پیل راهیسې په دغه پروګرام ګنې مطالعې شوې. دا مطالعې تر ډېره په ملي او سیمه ییزه کچه په سیاسي او امنیتي موضوعاتو څرخېدې او یا هم د سولې او جګړو په اړه په ټولیز ډول د پراخو نظرپوښتنو له لارې په اندېښنو او اخیستونونو متمرکزې وې. هغه څه چې تر ډېره په دا رنګ مطالعوکې یې غبرګ له پامه غورځېدلی مدني ټولنه یا هغه لوری دی، چې په ځایي کچه د سولې په راوستلو او د شخړو په حل کې ښکېل دي. اوس چې په افغانستان کې د سولې پروسه په حساس پړاوکې ده او د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام هم له نامعلوم برخلیک سره مخ دی، تر بل هر وخت ډېره اړتیا ده چې دا غږونه واورېدل شي.

د ۲۰۱۵ زیږدیز کال په اوږدوکې د افغانستان د پرانیستې ټولنې (جامعهء بازافغانستان) په مالي مرسته د مدني ټولنې د پنځو مؤسساتو شبکې په خپلو ټولنوکې د سولې په ټینګښت او د شخړو په حل کې د فعالو ۵۰۰ مدني فعالانو سلامشورې راټولې کړې. دغه کسان که څه هم بېلابېلې مخینې لري خو د منځګړیتوب، د عمومي پوهاي د لوړولو، وړتیاوو روزنې، رسنیو او معلوماتي فعالیتونو او نورو هلو ځلو له لارې د سولې د ټینګښت او شخړو د حل ګډې تجربې لري. د دوی ډېری یې په افغانستان کې د دودیز منځګړتوب او خبرو اترو وړتیاوې او پوهه لري او د خپلو اړوندو ټولنو اندېښنو ته ځواب موندلای شي. شاوخوا ۵۶۰ مرکه کوونکي چې د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو ځایي چارواکي، د سولې شورا غړي او پخلا شوي جنګیالي هم پکې شامل دي په دې اړه خپل نظر شریکوي چې څرنګه د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو بهیر پرمخ لاړ.

دهغې محدودې باورمندۍ په پام کی نیولو سره چې افغانان یې اوس د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو په پروګرام او د سولې په عالي شورا لري، (د سولې د لارې نقشه) هغه ننګونې ارزوي چې باید د افغانستان د اوسني حکومت له خوا په اصلاحاتو سره له مخې پورته شي او دغه راز د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام او سولې عالي شورا د اړتیا او اغېز په تړاو سپارښتنې او وړاندیزونه کوي. په ټول کې، دا کارنقشه د هغو ننګونو په ګډون چې په ملي کچه بحث ته اړتیا لري د سولې، بیا پخلاینې او انتقالي عدالت د پروسو پر وړاندې بنسټیزې ننګونې په ګوته کوي. دا هغه پروسې دي چې د طالبانو په مشرۍ له روانې اورپکۍ څخه مهمې دي او اړتیا ده چې که پایداره سوله ټینګیږي باید ورته رسېدنه وشي.

### 1.  د موندنو لنډیز

**په افغانستان کې د سولې بحث د طالبانو په مشرۍ له اوسنۍ اورپکۍ څخه ډېر پراخ مفهوم دی:** کله چې مرکه کوونکو د سولې په اړه خبرې کولې دوی په هېوادکې په تېرو څلورو لسیزو جګړوکې د هغې په ماهیت خبرې کولې،

نه دا چې یوائې د طالبانو په مشرۍ په روانه اورپکۍ. سوله یوائې د اوسنۍ جګړې پای ته رسېدل نه دي، بلکې د عدالت ټينګښت او د بشري حقونو په برخه کې د اوسنيو لاسته راوړنو ساتنه ده (لکه زده‌کړو ته لاسرسی او سیاسي او ټولنيز مساوات چې د اوسني اساسي قانون په وسیله پېژندل شوي او د حکومت په پالیسیو کې روښانه شوي دي). دا د دې څېړنې په اوږدو کې روښانه شوه چې په تېرو لسیزو کې شوو بې عدالتیو ته نه رسېدنه په اوسمهال کې په سوله او ټیکاو نېغ اغېز لري. ځینې وخت داسې ښودل کېږي چې تېر اوس تېر دی یا هم دا چې لومړی باید له طالب جنګیالیو سره د سولې تړون وشي او بیا دغو موضوعاتو ته رسېدنه وشي. د دغې څېړنې موندنې ښيي چې یوائې هغه مهال د اوسنۍ جګړې حل‌لاره راوځي چې د سولې هر اړخیزه پروسه پلې شي. لږ تر لږه ځواب ویونکو دا احساس‌کاوه چې که انتقالي عدالت پلی کېږي باید د تېرو څلورو لسیزو جګړو په ټولو ښکېلو کسانو پلی شي نه یوائې په طالبانو.

**د سیمه ییز رسمي او غیررسمي ډیالوګ او بحث ملاتړ:** د طالبانو مشرتابه او سیمه ییزو هېوادونو ته په ملي او سیمه ییزه‌کچه د پیغام رسولو په برخه‌کې د ملي یووالي حکومت له تمرکز څخه پراخ ملاتړ‌کېږي. دا هڅې له دې امله هم حساسې ګڼل‌کېږي چې په هېواد دننه‌کې د بحث فرصت رامنځته‌کولای شي، هغه فرصت چې د مرکه‌کوونکو په وینا ډېر تنګ شوی دی. په افغانستان او پاکستان دواړو‌کې د مدني ټولنو تر منځ د غیر رسمي ډیپلوماسۍ یا Track 2او 1.5 هلو ځلو د دوام او دغه راز د پولې دواړو غاړو ته په دواړو هېوادونو‌کې د مدني ټولنې تر منځ د بحثونو د تبادلې لپاره ملاتړ شته دی. دا چې په اوسنۍ سیاسي فضا‌کې د رسمي او غیررسمي پیغام رسونې له لارې څه تر لاسه‌کېدای شي واقع‌بینانه تمې شته خو دواړو غاړو ته دا باور هم شته چې د باور جوړونې لپاره اقدامات او د ولسونو تر منځ اړیکې او ناستې پاستې له اغېزناکو لارو چارو څخه دي چې‌کولای شي اوسنۍ د تور لګونې لوبه ښېرته خپل مسیر ته برابره‌کړي. که څه هم په دې چې غیررسمي او ولسي ډیپلوماسي څرنګه پرمخ تله نیوکې شته وې. د اوسنۍ پروسې ګډونوال تر ډېره په داسې ډول غوره شوي، چې د خپلو اړوندو حکومتونو دریځ بیانوي چې دا د یادو شوو بحثونو او ناستو ولاړو ډول او اغېز له پوښتنې سره مخ کوي.

**د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام په اړه ګونګتیا:** ښکاري چې د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام په اړه د ډې، ډي، آر او یا هم د نورو وروستنيو د سولې د ملي نوښتونو په پرتله ډېره پوهه موجوده ده. که څه هم چې د پروګرام د اوسني حالت، اوسنيو موخو او یا هم د ملي وحدت حکومت تر مشرۍ لاندې په سیمه ییزو خبرو اترو کې د هغو د رول په اړه په ټولیز ډول‌ګونګتیا شته ده. دا ګونګتیا د باورمندۍ له موضوع سره یوځای د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام ملاتړ له ستونزو سره مخ کړی (البته په ټول کې د سولې پروسه، نه یوازې د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام). د روڼتیا او حساب ورکونې نشتوالی د دې لامل شوی چې په دواړو لوروکې ناوړه‌ګټه اخیستونکي وګړي ځای ومومي.

**له سولې راوړونکو لورو سره ناخوښي:** د سولې له عالي شورا او د سولې له ولایتي کمېټو سره پراخه ناخوښي دوه ستر دلایل لري. لومړی دا چې مرکه‌کوونکو بیا بیا په دې اداروکې، د سولې او پخلاینې په موضوع کې په ټولیز ډول

خو د پخلاکېدونکو د پراختیايي پروژو یا مرستو په ورکړه کې په ځانګړي ډول، د پراخ فساد خبره کوله. دویم دا چې دا جوړښتونه په عمومي ډول د جګړې یو لوری بلل کېږي تر دې چې دوی د جګړې د لورو تر منځ د منځګړي په رول کې وي؛ چې له همدې امله له جنګیالیو سره دوی ته اړیکې هم ستونزمنې دي.

**د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام اصلاح:** د سولې د عالي شورا او د سولې د ولایتي کمېټې د اصلاحاتو لپاره پراخ ملاتړ موجود و، خو دا اړتیا هم وه چې د اصلاحاتو تر څنګ د دغو ادارو رول هم جوت شي. د دې مانا دا نه وه چې هر سپین ږیری باید د سولې د ولایتي کمېټې غړی شي. پوښتل شوي کسان احساس کوي چې په پای کې به را پخلا شوو کسانو ته لاسرسی محدود او قومي مشران به له ګواښ سره مخامخ شي. د دې پر ځای، مرکه شوي کسان په دې باور دي چې د سولې ولایتي کمېټې باید د همغږي کوونکي په توګه کار وکړي او له قومي مشرانو سره د اړیکې نیولو ترکچې نه د هغوی د راښکېلولو ترکچې له ممکنه پخلاکېدونکو کسانو سره د پیغام د تبادلې د دریېمې مرجع په توګه وکاروي.

**بښنه او انتقالي عدالت:** مرکه شوو کسانو د عدالت او بښنې په تړاو بېلابېل نظرونه وړاندې کړي؛ له هغوی رانیولې چې له ۱۹۷۰موکلونو راهیسې د ټول پراو لپاره انتقالي عدالت غواړي او هغوی چې فکر کوي د اورپکو هڅول او د حکومت مخالفینو د پخلاکولو یواځینۍ لاره د سراسري بښنې اعلان دی تر هغه اکثریت پورې چې د اسنادو په راټولولو، عمومي بښنې غوښتلو او بښنې کولو او د هرې قضیې پر بنسټ د جنایتکارانو د محاکمې ننګه او ملاتړ کوي. نظریات ځینې وخت تر ډېره بریده شخصي وو او د هغه دریځ یې په دې هم ښوده چې ترکومه د هغه یا هغې کورنۍ له تاوتریخوالي څخه زیانمنه شوې وه. مستقیمه تجربه تر ډېره بریده مهمه وه او د اوسېدو تر ولایت او جنسیت هم د ډېر رول لرونکې وه‌که څه هم ښځینه تر نارینه وو ډېر د عدالت د غږ پورته‌کولو لېوالتیا لري. په دواړو ختیځ او لویدیځ افغانستان‌کې بښنه د عدالت پر وړاندې بحث د ښاري اوکلیوالي سیمو په وېش سره بیانېده، ځینې وخت یې د تاوتریخوالي له اوږدو تجربو سره اړیکه لرله، هغوی تر ډېره په بښنه ټینګار کاوه په داسې حال کې چې د امن ولایتونو اوسېدونکو بیا د عدالت پلویتوب کاوه.

**سیاسي ادغام:** په مشوره شوو کسانو کې د ټول هېواد په‌کچه په دولت کې د طالبانو د ګډېدو په اړه ملاتړ شته دی دا څه په ملي‌کچه دي او څه هم په سیمه ییزه، خو په څو مشخصو شرطونو سره او هغه دا چې د اساسي قانون ټولې مادې ومنې او د ښځو لاسته راوړنې خوندي کړي او لږکي (اقلیتونه) هم خپل حقوق تر لاسه کړي او په دې ټولو سربېره ښوونې ته لاسرسی هم خوندي پاتې شي. ډېری داسې فکر کاوه چې د سیاسي ادغام‌کچه به د سولې د پروسې په توګه تر لاسه کېږي او دا ښکارندویې به‌کوي چې ترکومې‌کچې پورې دا پروسه تلپاتې ده او یا دا چې دا ادغام په‌کومه‌کچه دی؟ په هره‌کچه اوکه په ټیټه‌کچه، د بېلګې په توګه یواځې په سیمه ییزه‌کچه اوکه د تصمیم نیونکو چارواکو په‌کچه چې‌کولای شي اوږدمهالې سوله کړي.

**د ناخوښيو او لېوالتياوو درک:** که څه هم د هېواد په يو شمېر برخو کې اورپکي څکه جګړه کوي چه دندې نه لري، خو دا په ټول هېواد کی صدق نه کوي او د جګړې د عواملو د بيان په برخه کې خطرناکه چاره ده. نورو سيمو کې افراد ځکه جګړه کوي چې دوی په يو څه باور لري چې جګړه ورته کوي: دا ښايي اېډيالوژي وي خو دا د افغانستان له حکومت څخه د مخامخ ناخوښۍ او نارضايتۍ لامل نه دی. په حقيقت کې دا ناخوښي ځکه دربيمګړي لوري ته اړتيا مومي چې په رسمي ډول له سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام سره تړاو نه لري. د دغو ناخوښيو په پېژندنه کې پاتې راتګ او بيا د دربيمګړي لوري له خوا د هغو د يو شمېر په ګوته کېدل تر څو د حکومت او مخاليفينو تر منځ خبرې اترې وشي په دوامدار ډول په سيمه ييزه کچه د سولې هلې ځلې له ستونزې سره مخ کوي. مدني فعالان د دوديزو هغو يعنې ملاامامانو او قومي مشرانو په ګډون فکر کوي چې دوی د دغو نارضايتيو د ليل او لاملونو په پيژندنه کې مخامخ رول لوبوي او ډېری فکر کوي چې دا د سولې په پروسه کې تر ټولو ډېر اغېزناک رول دی چې مدني ټولنه يې لوبولای شي.

**د ښځو ګډون:** د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام که څه هم د جنډر د مراعات پاليسي لري خو بيا هم د ښځو ګډون پکې لږ دی، په تېره بيا د پرېکړې په سطحه. دغه راز د بياپخلاينې د فعاليتونو د څارنې او ارزونې ځانګړو جنډر پروګرامونو محدوديت او په ښځو کې د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام په اړه لږ معلومات شتون لرېږ دواړو، نارينه او ښځينه ځواب ويونکو احساس کاوه چې د سولې په پروسه کې د ښځو ګډون حياتي دی او د بشري حقونو او برابرۍ د ساتنې په برخه کې چې له ۲۰۰۱ کال راهيسې تر لاسه شوي مهم دي. په ملي کچه هم ګډو ځواب ويونکو احساس کاوه چې دا د سولې عالي شورا د ښځينه غړودکار کيفيت دی چه دوی د ونډې د پوره کولو په برخه کې ناتوانه کوی. د نارينه وو په برخه کی هم ورته اندېښنی موجودی وی لکه د مسلکي‌توب، بې پرې‌توب او نورو په اړه . په داسې حال کې چې ډېرو د مدني ټولنې او ښځو په وسيله په تر لاسه شوو لاس‌ته راوړنو وياړ کاوه ډېری يې په دې نظر و چې د ستونزو په حل، ننګه او ملاتړ، بحثونو او هره هغه موضوع کې چې په محلي کچه پوره ادغام پکې ممکن نه و د ښځو داخلول او ښکېلول او له هغوی سره پراخې سلامشورې لا هم کمې وې او اړتيا يې لا هم شته ده.

**د پوهاوي لوړول:** د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام د عامه پوهاوي برخه تر ډېره په ملي او ولايتي کچه تمرکز کوي، او د ولايتونو له مرکزونو بيرون لږ اړيکې لري. د معلوماتو د ورکړې لارې چارې لکه تبليغاتي بيلبورډونه او تلويزوني اعلانونه اغيزناک نه دي ځکه دغه بيلبورډونه او اعلانونه د ټولنې ډېرو وګړو ته نه رسيږي او دغه لارې چارې د هغو ملي پرمختګونو د بيانولو لپاره بسنه نه کوي چې ټولنې يې په لټه کې دي. دغه بيلبورډونه او اعلانونه چې طالبانو ته (بد) او حکومت ته (ښه) وايي، د هغو افغانانو وړتيا ته يو سپکاوی دی چې په اند يې روانه جګړه تر ښه او بد ډېره پيچلې ده. په ولايتي کچه د مدني ټولنې ادارو د پوهاوي لوړولو او زده کړو ورکولو هڅې ډېرې لږې دي او يا هم هيڅ نشته.

**د ټولنې پرمختګ:** د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام پرمختيايي پروژې چې ډېری يې د څاګانو، استنادي ديوالونو او ځنګلونو د پروژو په څير لنډمهالې او کوچنۍ زيربنايي پروژې دي، تر ډېره په ښه ډول

او پر وخت تکمیلیږي، خو ډیری وخت ټولنې نه پوهیږي چې دغه پروژې د پخلاینې د پروسې یوه برخه ده ځکه په ځینو واردو کې پخلا شویو کسانو ته په دغو پروژو کې ځای ندی ورکړل شوی او د پروژو موقعیت د پخلا شویو کسانو د ټولنې د موقعیت پر بنسټ نه وو ټاکل شوی. که څه هم دغه پروژې د هغو ټولنو لپاره طرحه شوې دي چې جنګیالي پکې پخلا شوي وي، خو په ځینو هغو ځایونو کې چې موږ یې کتنه وکړه، ټولنې په دې اړه لږ پوهیږي. ډیری خلک فکر کوي چې د سولې ولایتي شوراګانو د سولې پروسه دګټې وټې یوه لاره ګرځولې ده، چې په پایله کې یې دغه ولایتي شوراګانې په هغو پروژو باندې تمرکز کوي چې مهم پخلا شوي کسان لاسرسی ورته نه لري، او په پایله کې د پخلاینې پروسه ټکنۍ کیږي او یوه بله ستونزه رامنځته کیږي.

**د پخلا شوو کسانو خوندیتوب:** که څه هم ډیری پخلا شوو کسانو ویل چې د ژوند د لومړنیو اسانتیاوو نه شتون د دې لامل کیږي چې دوی بېرته وران کارۍ ته مخه کړي، خو تر ټولو د اندیښنې وړ موضوع چې مخکښې جنګیالي وران کارۍ ته هڅوي د دوی اساسي امنیت دی. ولایتي چارواکو ومنله چې دوی نه دي توانېدلي ترڅو پخلا شوو کسانو (او د دوی دکورنیو) لپاره امنیت برابر کړي، او د دوی د طالبانو له ګواښونو سره مخ دي.

## 2. افغان حکومت او نړیوالو برخه اخیستونکو ته وړاندیزونه[1]

**د پخلاینې په اړه د ملې خبرو اترو رامنځته کول او پلې کول:** په مرکزي کچه باید حکومت د سولې د پروسې او د واک د شریکولو ترمنځ د توپیر په اړه روښانه تګلاره ولري؛ د واک شریکول ښه پایله نه لري او تر ډېره جګړې ته نور هم زور ورکوي. دا د پخلاینې په اړه د ملي خبرو اترو وخت دی چې باید نه یوازې د فزیکي پرمختګ په اړتیاوو بلکې پرهغه قانوني سیاسي نارضایتۍ هم تمرکز ولري، چې د جګړې د زور لامل شوی دی، دغه ناخوښي د نابرابر سیاسي ګډون (په ټولو کچو)، پیژندنې، محاسبې، بیا پیوستون او په ځینو ځایونو کې د هغو جرایمو په پایله کې د قانوني چلند له امله دی، چې د ټولو ډلو له خوا تر سره شوي دي. سوله کولای شي په سیمه کې د بیلا بیلو کچو شته ناخوښۍ لرې کړي او داسې ستراتیژیانو ته لاره هواره کړي چې په پایله کې یې په ولایتونو او ولسوالیو کې سوله رامنځته شي. په دغه ډول به په ولایتي کچه د پخلاینې هڅې د پخلاینې له لویې ملي پروسې سره یو ځای شي. دغو خبرو اترو ته به ان په هغه حالت کې هم دوام ورکول کیږي، چې که د سولې په اړه رسمي خبرې پای هم ومومي. د دغو ملي خبرو اترو لپاره باید مدني ټولنه په ولایتونو کې د ټولنې د مشرانو په همغږۍ د ولایتي کچې خبرو اترو لپاره لاره هواره کړي. دغه خبرې اترې به په څلورو لویو برخو وویشل شي (۱) د ناخوښۍ په اړه لیکل، (۲) د انتقالي عدالت پروسې او مېکانېزمونه، (۳) د پخلاینې لپاره عملي ستراتیژي ګانې، (۴) سیاسي ګډون، استازیتوب او د دولت اړیکې. دا مهمه ده چې دغه پروسه په ملي او سیمه‌ییزه کچه د داسې کوچنیو ګامونو په پورته کولو سره پیل چې په پایله کې یې ښه باور رامنځته شي او بالاخره اوربند ته لاره هواره کړي. ډېری ځواب ورکوونکي په دې باور وو، چې د رهبرۍ په کچه ټول شوي کوچني کارونه په ولایتي کچه د خبرو د رامنځته کولو لپاره اړین دي،

[1] په دغه برخه کې راغلي وړاندیزونه د انفرادي مرکو، ډلییزو بحثونو او له مدني ټولنې، د افغانستان د سولې او پخلاینې پروګرام چارواکو، او نورو حکومتي چارواکو، په کابل کې د سولې په برخه کې د سیمه ییزو او نړیوالو کسانو په ګډون جوړ شوي ملي او نړیوال کنفرانس په پایله کې لاسته راغلي دي.

**د سولې د پروسې په اړه د يوې روښانه بيانيې وړاندې کول:** د ملي يووالي حکومت بايد د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام د راتلونکي او د سولې د ملي پروسې او د ملي خبرو اترو د جهت (لوري) په اړه يوه روښانه بيانيه وړاندې کړي. دا په دې معنا نه ده، چې د ځانګړو موضوعاګانو په اړه توضيحات ورکړل شي او يا د سولې د شته هڅو لپاره مهالوېش برابر شي، بلکې دا په دې معنا ده، چې بايد روښانه شي کومې مهمې ادارې لکه د سولې عالي شورا او ولايتي شوراګانې به دوام پيدا کوي او کله چې څلور اړخيزې خبرې پيلېږي څوک به په خبروکې ګډون کوي او په کومو بنسټيزو موضوعاتو به بحث کوي.

**د افغانستان او پاکستان د مدني ټولنو ترمنځ دويم پړاو خبرو ته دوام ورکول:** که څه هم مدني ټولنه د افغانستان، پاکستان، چين او متحدو ايالتونو ترمنځ د همغږۍ د څلور اړخيزې ډلې د روانو خبرو ملاتړ کوي، خو بيا د سولې په ستراتيژيګانوکې د مدني ټولنې دګډون اړتيا شته په ځانګړي ډول په دغه وخت کې چې د ۲۰۱۶ کال د مارچ را په ديخوا څلور اړخيزه خبرې په ټپه دريدلې دي. د دې لپاره چې د افغانستان او پاکستان تر منځ د باور فضا رامنځته شي موږ د دويم پړاو خبرو د دوام وړانديز کوو. پردې سربېره دا مهمه ده چې په دغو هڅوکی نه يوازې برخه اخيستونکي بلکې، د ټولنو هغه نامتوکسان هم برخه واخلي چې له حکومت سره ډېره پياوړې اړيکه نه لري. په ځانګړي ډول سوداګريزه ټولنه او د دواړو هېوادونو د پولې دواړو خواوو ته پراته اوسيدونکي بايد برخه واخلي چې داکار به په سياسي او امنيتي برخوکې د خبرو د دوام لپاره يوه ليوالتيا رامنځته کړي.

**د اصلاحاتو د يوې اجنډا پر مخ وړل:** د ملي يووالي حکومت بايد خپلې نوې د ښې حکومتوالۍ/ اداري فساد سره د مبارزې د اصلاحاتو اجنډا ته لومړيتوب ورکړي. په دغه څېړنه کې څرګنده شوه چې د بيوزلو خلکو خفګان او ناسمه حکومتوالي د جګړې مهم لاملونه دي او په پايله کې يې ډېر خلک د مخالفينو ليکو ته ورځي، بل مهم لامل د سولې له پروسې څخه د افغان وګړو لږ ملاتړ دی. د ملي يووالي حکومت بايد اداري او د کارکوونکو د حساب ورکولو تګلارې رامنځته کړي.

**د سولې په عالي شورا او د سولې په ولايتي شوراګانوکې د اصلاحاتو راوستل او د دوی د دندو روښانه کول:** د سولې د عالي شورا په جوړښت يا ترکيب کې بايد له هر ډول اصلاحاتو وروسته ورته اصلاحات د سولې په ولايتي شوراګانوکې هم رامنځته شي. لومړی ګام بايد د سولې د ولايتي شوراګانو د دندو تعريفول وي: ايا دوی دربېمګړې ډله ده که د افغانستان د حکومت استازي دي؟ اوسمهال دوی دواړه کارونه کوي او په يوه برخه کې هم اغېز نه لري. که دوی د دربېمګړي رول لوبوي، بيا نو بايد ډېر پېژندل شوي او بې پرې غړي ور وپېژندل شي. دا د يو شمېر قومي مشرانو او يا يو شمېر ملايانو ټاکنه نه ده، بلکې بايد داسې کسان وټاکل شي چې بې پرې وي او د جګړې دواړه لوري ورته درناوی ولري او مهمو پخلاکېدونکوکسانو ته د لاسرسي په برخه کې يې وړتيا ښودلې وي. بل لوري ته، د سولې ولايتي شوراګانې (او د سولې عالي شورا) به د حکومت د استازو په ډول خپلې دندې په ښه ډول پر مخ بوځي، چې د لاسرسي او دربېمګړيتوب فعاليتونه بايد د ټولنې مشرانو ته ورکړل شي چې دوی به د سولې د ولايتي شوراګانو (او حکومت) او مهمو وسله والو مخالفينو ترمنځ د دربيمګړو رول ولوبوي.

**د سولې په پروسه کې د مدني ټولنې دګډون لپاره د يوکاري پلان رامنځته کول او پلي کول:** په ۲۰۱۳ زيږديز کال کې له ټول هېواد څخه د مدني ټولنې ۵۹ ادارو د سولې له دارالانشا او د سولې له عالي شورا سره يو هوکړه ليک[2] لاسليک کړ، چې په هغه کې د همکارۍ برخې او هغه لارې چارې په ګوته شوې وې، چې په پايله کې به يې مدني ټولنه په فعال ډول د سولې له پروسې څخه ملاتړ کوي. د همکارۍ مهمې برخې په يوه معلوماتي ياددښت کې د سولې عالي شورا او د سولې دارالانشا ته وړاندې شوې (دريمه ملپاڼه وګورئ). تر دې دمه دغه معلومات او د همکارۍ برخې يوازې دکاغذ پر مخ پاتې دي او دکاري پلان د رامنځته کولو په برخه کې کوم کار نه دی شوی. د دغه هوکړه ليک دليل دا و، چې د سولې هوکړه ليکونه هغه وخت ډير دوام کوي چې د مدني ټولنې پراخ ګډون پکې وي، او نن هم همدغه دليل په ورته ډول موجود دی[3]. د نارضايتۍ د له منځه وړلو په برخه کې د ملاتړ، د سولې د زده کړو، ټولنيزو مشورو او د باور جوړولو د هڅو په ګډون په هوکړه ليک کې د همکارۍ ممکنه برخې لاهم په ملي کچه د سولې د معاملاتو تر سره کولو او په ولايتي کچه د دغو معاملاتو د پلي کولو لپاره د مهمو اړتياوو په ډول پاتې دي. د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام د يوې برخې په ډول، بايد د دغه معلوماتي ياددښت په پايله کې د لاندې برخو په ګډون يوکاري پلان جوړ شي:

- **د ټولنې مشورې او د باور جوړولو هڅې:** سيمه‌ييز ملکيت د دوام لرونکې سولې لپاره د ملا تير جوړوي او ټولنې بايد دا په ډاګه کړي چې دوی له چا غواړي چې پخلا شي او څنګه د افغانستان د سولې او سوله‌ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام له ټولګو (پکيجونو) څخه ګټه اخلي او سره شريکوي يې (لکه پرمختګ، پوهنه، اقتصادي خوځښت). د دغه کار لپاره د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام د اړوندو غړو او د افغان ټولنې د بېلابېلو سکتورونو ترمنځ په ځانګړي ډول په سيمه‌ييزه کچه، خبرو اترو ته اړتيا ده. د مدني ټولنې بنسټونه کولای شي دغه ډول خبرو ته د بحثونو د زمينو، ولايتي او ملي بحثونو او يا سيمه‌ييزو مجلسونو په ډول لاره هواره کړي.
- **څېړنه او څارنه: پر وخت خبرتيا او د تر لاسه شوو موندنو راټولول:** پوهه ځواک دی او د جګړې په منځپانګه او د جګړې په لاملونو پوهېدل لومړنی مهم ګام دی، ترڅو د جنګياليو د پخلاکولو او د سولې له پروسې څخه د ټولنې د ملاتړ پيداکولو لپاره لارې چارې ولټول شي. د جګړې د داسې انځورونو کښلو او تمرينولو سربېره چې په ټولنه کې مهم فعالين او نښلوونکي او همدارنګه د جګړې مهم لاملونه او د حل لارې يې په نښه کوي، د مدني ټولنې اداري کولای شي د سولې له دارلانشا او د سولې له عالي شورا سره د سولې د ولايتي شوراګانو د فعاليتونو او د دوی په اړه د خلکو د فکر د څرنګوالي په ګډون د پخلاينې د اوسنيو پروسو په څارنه کې مرسته وکړي.

---

[2] په افغانستان کې د مدني ټولنې اداري د سولې د پروسې په ملاتړ کې: د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د بېرته ستنېدو د پروګرام د سولې د عالي شورا او د سولې د دارالانشا لپاره معلوماتي ياددښت، ۲۰۱۳.
http://www.i4pinternational.org/files/512/civil+society+and+aprp+(cs+working+group).pdf

[3] د سولې د سرچينو لندن ميشتې غيرانتفاعي اداري د ۱۹۸۹ او ۲۰۰۴ کلونو ترمنځ لاسليک شوي د سولې ۸۳ هوکړه ليکونه ارزولي دي، چې په پايله کې يې ځرګنده شوه چې يوازې له دريو په يوه برخه خبرو کې د غير وسله والو او زيانمنو شويو ټولنو استازو ګډون درلود. خو په هغو خبرو کې چې دغه ګډون پکې و، بيرته جګړې ته د ګرځيدو خطر ۶۴ سلنه کم شوی و. (ډيزري نيلسون، «د سولې ټينګول: د سولې په خبرو کې مدني ټولنه او دوام لرونکې سوله» نړيوالې خبرې ګڼه. ۳۸، شميره ۲: ۲۴۳ – ۲۶۶، د ۲۰۱۲ کال سپتمبر مياشت http://www.c-r.org/accord/legitimacy-and-peace-processes/civil-society-peace-accords-and-durability-peace)

- **د ناخوښۍ د له منځه وړلو په برخه کې ملاتړ:** مدني ټولنه کولای شي ټولنو ته د جنګیالیو د بېرته راوستلو لپاره لومړنۍ خبرې وکړي. په دغه برخه کې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام یوه مهم برخه چې د ناخوښۍ (نارضایتۍ) له منځته وړل دي، ډېرو هڅو ته اړتیا لري.
- **وړتیا لوړول:** د ناخوښۍ د له منځه وړلو سربېره مدني ټولنه د منځګړیتوب او د جګړو د سوله‌ییز حل د مهارتونو او همدارنګه د ناخوښۍ د له منځه وړلو لپاره د حکومت او وګړو په منځ کې په ولایتي او د ولسوالۍ په کچه مهمو برخه اخیستونکو ته د سولې د زده‌کړو د ورکولو په برخه کې پراخه تجربه لري. د مدني ټولنې بنسټونه همدارازکولای شي د مهارت لرونکو اسان‌چارو، پر پایلو ولاړ ورکشاپونو او بحثونو، د شالید معلوماتو برابرولو او بنسټیزوګډونوالو د په نښه‌کولو په برخه کې مرسته وکړي.
- **د سولې په اړه روزنه او د سولې د فرهنګ وده:** په هغو ټولنو کې چې په اوږدو جګړو کې ښکېل دي، د سولې د فرهنګ رامنځته‌کول یو مهم کار دی. مدني ټولنه کولای شي خپل ځان دودیزو او دیني مشرانو او همدارنګه ځوانانو او د نورو ډلو استازو ته ورسوي ترڅو د سولې په اړه د شریعت پیغام او سیمه‌ییز دودونو ته وده ورکړي او په ټولنیزو بحثونو کې یې ځای پر ځای کړي.

**د عمومي بښنې پر ځای انفرادي بښنې ته لاره هواره شي:** د بښنې او پخلاینې موضوع د سولې د پروسې یوه ډېره شخصي برخه ده ځکه دا کار په دغه خبره پورې تړاو لري چې تاوتریخوالي په څه ډول په ځانګړو ټولنو، کورنیو او ان خلکو اغېز کړی دی. نو دا چې دغه موضوع په هره برخه کې توپیر لري، عمومي بښنه که څه هم د جنګیالیو د راجلبولو لپاره یوه ښه لاره ده، خو که ټولنو ته دا وړتیا ورنه کړل شي موضوع ګام په ګام حل کړي، عمومي بښنه کولای شي یوې نوې جګړې ته هم لاره هواره کړي. د دغو موضوعاتو حل کول د غچ اخیستلو په معنا نه دي. دا په دې معنا دي، چې داسې عام بحثونه رامنځته شي، چې د جګړې عاملان پکې په خپل تېروکړو وړو پوه شي او بښنه وغواړي. د ښځو په ګډون ټولنې ته باید د پېښو د راټولولو په برخه کې دنده ورکړل شي، داسې قضیې هم ښایي موجودې وي، چې باید د محکمو د رسمي سیستم له لارې د جرمي قانوني کړنې لپاره تعقیب شي. دا ډېرې پیچلې موضوع ګانې دي او په اړه یې د افغان حکومت، ټولنو او د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام ترمنځ ښې همغږۍ او خبرو اترو ته اړتیا ده ترڅو یو د منلو وړ اډانه (چوکاټ) رامنځته شي، چې په هغه کې ټولنو ته روښانه برخه ورکړل شوې وي او همدارنګه داډ رامنځته شي چې دغه ټولنې د ملي او نړیوالو قوانینو په رڼا کې کار کوي.

**په ټولو کچو کې په حقیقي ډول د ښځو د ګډون زیاتوالی** د مدني ټولنې له روان نوښت څخه ملاتړ کولو له لارې ترڅو د سولې په پروسه کې د ښځو د ګډون کیفیت لوړ کړي. د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه د کاناډا د سفارت په مرسته د پارلمان د فعالو ښځینه غړو، حکومت او د مدني ټولنې د استازو ترمنځ په دې اړه خبرو ته په لاره هوارولو بوخته ده. د دغو خبرو په پایله کې په راتلونکې کې د سولې عالي شورا ته د ښځینه غړو د نوماندولو لپاره معیارونه جوړ شوي دي، ترڅو ډاډ رامنځته شي چې ډېرې په‌کارېوه او وړ نوماندانې شورا ته ور پېژندل کیږي. د دغه معیار پر بنسټ، د ۲۰۱۶ زیږدیز کال د فبرورۍ د میاشتې په نیمایي کې د سولې د عالي شورا لپاره ۲۵ نامتو ښځینه نوماندانې وټاکل شوې. د دغو ۲۵ نوماندانو نوملړ په رسمي ډول له ولسمشر او اجرایه رییس سره شریک شو او په پایله کې دوه نوماندانې د سولې د عالي شورا د غړو په توګه وټاکل شوې. د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د

برابرۍ اداري د ملاتړ روان فعاليتونه په دغه ټاکل شوي معيار تمرکز کوي او ډاډ رامنځته کوي چې هغه کسان به د سولې په عالي شوراکې ټاکل کيږي چې په دغه معيار برابر وي. مخکې له دې چې په ملي کچه خبرو او رسمي ادارو لکه د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام کې ښځې ورګډې شي، اړينه ده په هغه څه پوه شو، تعريف يې کړو او وده ورکړو چې ښځې به يې په سيمه ييزه کچه تر سره کوي، په ځانګړي ډول هغه وخت کله چې پخلاکېدونکي جنګيالي له خپلو کورنيو سره يو ځای د خپلو ښځو او ماشومانو په ګډون له ټولنې سره يو ځای کيږي.

**د سيمه‌ييزو رسنيو له لارې د سولې په اړه پراخ پيغامونه وړاندې کول:** د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدو د پروګرام د ستراتيژيکو اړيکو اجنډا ډېره کوچنۍ ده، دا اجنډا بايد په طالبانو د اوسني تمرکز له پولو پراخه شي او د داسې خبرو اترو لپاره لاره هواره کړي، چې په پايله کې به يې د ښوونځيو او پوهنتونونو په نصابونو کې د پيغامونو ورکولو له لارې د سولې فرهنګ خپور شي. ټولنو ته بايد دا واک ورکړل شي، چې د سولې په اړه خپل پيغامونه جوړ او خپاره کړي. دا ډول يوه ستراتيژي به د اوسنۍ هغې چې د رواياتو خلاف ده پر ځای د بديلو رواياتو په يوه داسې فعاله ستراتيژي بدله شي چې د ټولنې د ودې لپاره به د سولې اجزا روښانه کړي – البته اوسنۍ ستراتيژي تر ډېره د طالبانو خلاف پيغامونه لري او په پايله کې خلکو ته څرګنديږي چې د پيغام او د توسعې د پروګرام ترمنځ ډېر واټن دی. ټولنيزې راديوګانې چې وکولای شي دګرديو مېزونو بحثونه جوړ کړي او د ناامنو سيمو تر خلکو ځان ورسوي، يوه ډېره کاريدونکې لاره ده. د سولې د پروګرامونو د جوړولو او خپرولو لپاره بايد له دغو راديويي ستيشنونو څخه ملاتړ وشي. بله لاره چه تر اوسه لږ کارول شوی د مدني ټولنې وړتيا ده، چې د زده کړو، پروګرامونو او هغو رسنيو له لارې سولې ته وده ورکړي، چې له ټولنو سره په اړيکه کې دي. د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدو پروګرام بايد د خپلو پيغامونو په تګلاره اوږده کتنه وکړي، دغه پيغامونه د مدني ټولنې د شبکو له لارې خپاره کړي، او له مدني ټولنې ملاتړ وکړي، تر څو د هغو پيغامونو د پرمختګ او خپرولو له لارې چې په تېرو دربيو لسيزو کې د جګړې عوامل په ګوته کوي، د سولې فرهنګ خپور کړي، دغه پيغامونه بايد کوچني نه وي او يوازې د پخلاينې تر پيغامونو او فعاليتونو پورې محدود نه وي.

**د سولې د پروسې غير پولي کول:** دا مهمه ده چې ډاډ رامنځته شي د پخلاينې په اړه پرمختيايي مرستې د ولايتي دارالانشاګانو له خوا په مشورتي ډول سره اداره کيږي. دغه بيلتون به د سولې د ولايتي کمېټو له هغو غړو سره مرسته وکړي چې لومړنۍ موخه يې د پيسو لاسته راوړل نه ده، او د پرمختيايي پروژو د ادارو پر ځای به په خپلو اصلي دندو تمرکز وکړي، ځکه په دغو مرکوکې ډېری کسانو داخبره په ډاګه کړې ده.

## II. پېژندګلوي (معرفي)

له يوې لسيزې جګړې او پرله پسې نا امنۍ وروسته په افغانستان کې د سولې پروسه اړينه ده. د سولې د عالي شورا د سياسي پراختيا پروګرام په ملي او ولايتي کچه لږ پايلې درلودې. په سيمه ييزه کچه د ډېری خلکو په اند د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام د پخلاينې فعاليتونو خپل هغه قانونيت چه مخکی يی درلود له لاسه ورکړی دی. که څه هم په ولايتي کچه مدني ټولنه د سولې د پروسې يوه مهمه برخه پاتې شوې، خو بيا هم د سولې

ډېر مهم فعالیتونه چې د مشرانو او فعالینو له خوا تر سره شوي، د دوی له دایرې د باندې د لږ خلکو له خوا پېژندل شوي دي. که څه هم په وروستیو کلونو کې د سولې په اړه بېلابېلې ارزونې شوې، خو داسې یوه سیستماتیکه هڅه نه ده شوې، چې پوه شو په سیمه ییزه کچه رسمي او غیر رسمي پروسې څنګه کار کوي او یا یې نه کوي. *د سولې په اړه د افغان وګړو د خبرو اترو*[4] په څېر مهمې څېړنې په عمومي ډول د ټولنې د ناخوښۍ او د جګړې د لاملونو په اړه وې او دغه څېړنې د لویو سروې ګانو له لارې شوې دي، په داسې حال کې چې د نورو رپوټونو تمرکز بیا هغه سیاسي او امنیتي موضوعات وو، چې په ملي او سیمه ییزه کچه رامنځته کېږي[5].

دغه رپوټ له هغو خلکو سره (د ټولنې دوديز منځګړي، د مدني ټولنې ډلې، د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام ولایتي چارواکي، ولایتي اړوند ریاستونه او خپله پخلا شوي کسان) چې د سولې په سیمه ییزو هڅو کې ډېر ښکېل دي د خبرو اترو له لارې په شته لیکنو کې یوه تشه ډکوي او په سیمه ییزه کچه د پخلاینې او بیا پیوستون د رامنځته کېدو د څرنګوالي په اړه یو حقیقي انځور وړاندې کوي. نن ورځ په سیمه ییزه کچه د سولې راوستو او منځګړیتوب په لاره کې کومې مهمې ننګونې شته؟ د اړیکو او افهام او تفهیم کوم مهم ډولونه ښه نتیجه ورکوي؟ د زیاتو قانوني منځګړو د په ګوته کولو لپاره څه کېدای شي؟ د جګړې په ټولو خواوو کې تخریبوونکي کسان څنګه په ښه ډول اداره کېدای شي؟ ټولنه د طالبانو سیاسي پخلاینې او د انتقالي عدالت موضوع ګانو ته په کومه سترګه ګوري؟ ایا د سولې په تړاو د مرستو او پرمختیایي پروژې پایله ورکوي؟

د دغې څېړنې موخه د سولې پروسې ته د نظر ورکول او د هغو رغنده لارو په ګوته کول دي، چې په وسیله به یې د سولې ملي او سیمه ییزې هڅې بشپړې او په پای کې ډېرې اغیزناکې وي. په داسې یو وخت کې چې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام یو مهم ځای ته رسېدلی دی، د سولې په اړه به دغه څېړنه افغان حکومت او نړیوالې ټولنې ته د دغې پروسې د پرمخ بیولو لپاره تازه لرلید او رغنده مفکورې ورکړي. تر دې وړاندې، دغه څېړنه به د مدني ټولنې ترمنځ او له هغه بیرون د مدني ټولنې او نورو ملي برخه اخیستونکو لکه د سولې د عالي شورا ترمنځ د ښې همغږۍ د پیل ټکی او یو چوکاټ شي، او په پای کې به دغه څېړنه اوکړنلاره له نړیوالې ټولنې سره د ګډ کار یو بنسټ جوړ کړي.

---

[4] د سولې په اړه د افغان وګړو خبرې اترې: د سولې د یوې رغنده پروسې لپاره د بنسټ جوړول، د ۲۰۱۴ کال د جون میاشت http://www.aihrc.org.af/media/files/Reports/Report%201393/(Eng)%20Report%20-%20Afghan%20Peoples%20Dialogue%20on%20Peace%20-%20Building%20the%20Foundations%20for%20an%20Inclusive%20Peace%20Process.pdf

[5] سیمه ییزې څېړنې دا دي: پاکستان ته د اشرف غني تلل، http://www.usip.org/sites/default/files/SR376-Ashraf-Ghani-Pakistan-Outreach-Fighting-against-the-Odds.pdf
د یوسف او سمیت له خوا. د امنیتي سکتور څېړنې دا دي: د افغان جنګیالیو پخلا کول، http://www.rand.org/content/dam/rand/pubs/occasional_papers/2011/RAND_OP327.pdf
د سیت جون له خوا. او په افغانستان کې د وسله والو ډلو پخلا کول: له تېر څخه زده کړې، ,http://www.usip.org/sites/default/files/PB168-Reintegrating-Armed-Groups-in-Afghanistan.pdf
د دیدي درکسین له خوا.

## III. تګلاره (میتودولوژي)

د ۲۰۱۵ زیږدیز کال له جولای نه د ۲۰۱۶ کال تر مارچ پورې د ۹ میاشتو په موده کې د افغانستان د مدني ټولنې د پنځو ادارو – د اړیکو دفتر (TLO)، د سولې لپاره د روزنیزې او څیړنیزې موسسې (PRTO)، د سولې او یووالي لپاره همکاري (CPAU)، د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ دفتر (EPD)، د بشري حقونو او د تاوتریخوالي د له منځه وړلو ادارې (HREVO) – یوې ګډې ډلې د افغانستان د پرانیستې ټولنې (جامعه باز) (OSA) په مالي مرسته له سیمه‌ییزو منځګړو، دیني مشرانو، قومي مشرانو، د مدني ټولنې له فعالینو، د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام له چارواکو، ولایتي حکومتي استازو، او پخلا شوو جنګیالیو سره یو لړ مرکې او ټولنیزې مشورې وکړې. دا نمونه په دې معنا نه ده، چې د ټولو افغان وګړو استازیتوب به کوي، خو د هغو خلکو استازیتوب کوي، چې په رسمي او غیر رسمي ډول په ولایتي کچه د سولې لپاره کار کوي. څیړنه په پنځو برخو کې شوې:

- د افغانستان د سولې او سوله‌ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام او ډې، ډې، ار یا د بې وسلې کولو او ملکي ژوند ته د ستنېدو پروګرام انتقالي عدالت او له هغه وروسته د سولې او پخلاینې د نوښت یوه کتنه د سولې او یووالي لپاره د همکارۍ موسسې او د اړیکو دفتر له خوا ترسره شوه.
- د ۲۰۱۵ کال له جولای نه تر سپټمبر پورې د سولې لپاره روزنیزې او څیړنیزې موسسې په هرات (لویدیځ)، بلخ (شمال)، ننګرهار (ختیځ) او کندهار (سوېل) کې د سولې څلور سیمه‌ییز بحثونه جوړ کړل. په هر بحث کې له اړوند ولایت او له شاوخوا ولایتونو څخه له ۹۰ تر ۱۱۰ کسانو پورې ګډون وکړ[6]. د سیمه‌ییز بحث له جوړولو وړاندې د سولې لپاره د روزنیزې او څیړنیزې موسسې د څیړنې ډلې هرې برخې ته سفرونه وکړل ترڅو ممکن ګډونوال په نښه کړي. ګډونوال د مدني ټولنې د فعالینو او مشرانو، هغو سیمه‌ییزو نامتو خلکو چې د سولې په پروسه کې فعال ګډون لري، علماوو، د ځوانانو او ښځو فعالینو، د پوهنتون استادانو، د مرسته کوونکو ادارو کارکوونکو، او دیني مشرانو په ګډون، د سولې د پروسې د برخه اخیستونکو له منځه ټاکل شوي وو. د سولې د خبرو مجلسونه له یو ورځنیو کنفرانسونو جوړ شوي وو، چې پکې په سیمه کې د سولې راوستلو د سیمه‌ییزو هڅو، په ملي کچه د سولې د پروسې په اړه اندېښنو، او د ملي کچې په سیاسي چوکاټونو کې په سم ډول د سولې د سیمه‌ییزو پروسو د یوځای کولو د لارو چارو په ګډون پراخ موضوعات څېړل کېدل. د دغو څلورو مجلسونو پر اسان چارو سربېره، د ملي مدني ټولنې د ادارو دوه استازو به په ملي کچه د سولې پروسه څېړله. د عمومي او ډله‌ییزو بحثونو په پایله کې کیفي معلومات راټول شول. په ډله‌ییزو بحثونو کې شاوخوا ۳۰ وګړو برخه درلوده چې له لاندې درېیو ځانګړو شوو موضوعاتو څخه به یې د یوې په اړه خبرې کولې: منځګړیتوب او سوله راوستل، پخلاینه او عدالت، ملي او ولایتي پروسې. کمیتي معلومات د ګډونوالو د هغو لیکل شوو سروې ګانو له لارې راټول شول، چې د ناستو پر مهال به ور وېشل کېدلې.
- د دغو څلورو سیمه‌ییزو مجلسونو په درشل کې د اړیکو دفتر او د بشري حقونو او تاوتریخوالي د له منځه وړلو موسسې ۳ تنو کارکوونکو له ۶۵ وګړو سره ۳۴ نیمه تنظیم شوې انفرادي مرکې او ۸ ډله‌ییز بحثونه

[6] شمال: بدخشان، تخار، بلخ، کندوز، جوزجان، بغلان، سمنګان، سرپل، بامیان، پروان؛ ختیځ: ننګرهار، پکتیا، پکتیکا، لوګر، خوست، لغمان، کونړ، کاپیسا، غزني؛ سوېل: کندهار، زابل، اروزګان، هلمند، دایکندي؛ لویدیځ: هرات، فراه، فاریاب، نیمروز، غور، بادغیس.

وکړل. په پوښتنپاڼو کې لاندې موضوعات وو: منځګړیتوب، پخلاینه، انتقالي عدالت، د سولې د پروسې ارزونه، ملي او ولایتي اړیکې، د تخریبوونکو په ګوته کول او اداره کول، د ټولنې ناخوښي، او د سولې په هڅو کې فساد. مرکه شوو کسانو تر ډېره په خپلو ټولنو کې د مخالیفینو د پخلا کولو په ګډون د شخړو په هواري کې د درېیمګړیتوب ځانګړې تجربې لرلې، او یا د مدني ټولنې هغه فعالین وو، چې د سولې راوستو په هڅو، رسنیو، یا د توسعې او پوهاوي په نورو پروګرامونو کې یې ونډه لرله.

- له جولای څخه تر اګست پورې د سولې او یووالي لپاره د همکارۍ اداري د لوګر، هرات، او پنجشېر په ولایتونو کې له شاوخوا ۵۶۷ کسانو سره ۲۱۵ نیمه تنظیم شوې مرکې او ۴۴ ډلهییز بحثونه وکړل. دغه مرکې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام له برخه اخیستونکو، ګټه اخیستونکو، د ټولنې له غړو او پخلا شوو کسانو سره په ګډه ترسره شوې. د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام برخه اخیستونکي عبارت دي له، اړوندو وزارتونو، د سولې له ولایتي کمېټو، د سولې د ولایتي دارالانشا ګانو له ډلو، او په ولسوالیو کې له کوچنیو پروژو څخه. په دغو مرکو کې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام د بریا او ناکامۍ، د پخلاینې په اړه د اندونو، عدالت او ناخوښۍ، او همدارنګه د سولې لپاره د پیاوړ سیمهییزو وړتیاوو په اړه معلومات راټول شول. کیفیتي مرکې د ډلهییزو بحثونو په ډول تر سره شوې او دغه مرکې په پنځو ډلو کې وشوې: مشران، د ټولنې نارینه غړي، د ټولنې ښځینه غړې، ځوانان، او پخلا شوي کسان. په هر ولایت کې له پخلا شوو کسانو سره دوی ژورې مطالعې ترسره شوې. د مطالعو تمرکز د پخلا شوو کسانو په شخصیت او سابقې، د جګړې او عدالت په تجربو، له وسله والو ډلو سره د یوځای کېدو په لاملونو، له وسله والو ډلو سره په تجربو او د پخلاینې د ټاکلو پر دلایلو ولاړ وو. په هر ولایت کې یوه مطالعه په سیمه ییزه کچه د دودیزو مېکانیزمونو له لارې د سولې د یوه هوکړه لیک پر سر او سیمه ییز حالت، د جګړې او ناامنۍ شالید، ښکېلو کسانو او وګړو، د سولې په خبرو کې د ګډون مېکانیزمونو، د سولې د تړون د ارزولو پروسې، او له تړون وروسته حالت ته په کتو سره ترسره شوه.
- د ۲۰۱۵ زیږدیز کال له اکتوبر څخه د ۲۰۱۶ کال تر مارچ پورې د اړیکو د فتر له خوا د مرکو، ډلهییزو بحثونو او سیمهییزو ناستو موندنې راټولې شوې. په جنورۍ کې د سولې او ولسواکۍ (ډیموکراسۍ) لپاره د برابرۍ دفتر په کابل کې یوه ملي ناسته ترسره کړه چې پکې د سولې اړوند مدني ټولنې او له طالبانو سره اړیکه لرونکو ډلو، د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام د سرپرست مشر، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون مشرې، او د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت د مرستیال په ګډون ۶۶ کسانو ګډون کړی و. په دغه ناسته کې د چمتو شوې تګلارې په اړه نظرونه راټول شول. په مارچ کې د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ اداري یو سیمه ییز کنفرانس جوړ کړ، چې په کې له طالبانو سره د حکومت د مخکښ خبرې کوونکي او د بهرنیو چارو د مرستیال وزیر حکمت کرزي په ګډون سیمه ییزو، ملي او نړیوالو برخه اخیستونکو ګډون درلود. دغه لیکل شوې تګلاره په دې کنفرانس کې ووېشل شوه او نور سیمه ییز او نړیوال نظرونه راټول او په دغه تګلاره کې ځای پر ځای شول.

## IV. له ۲۰۰۱ کال وروسته ډي، ډي، ار (بې وسلې کول او ملکي ژوند ته د بېرته ستنېدلو پروګرام) او د سولې او عدالت نوښتونه

د ۲۰۰۱ کال له وروستیو څخه بیا په ۲۰۱۰ کال کې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام تر پیل کېدو پورې په افغانستان کې د سولې او پخلاینې د موضوعاتو په اړه لږ تر لږه لس لوی پروګرامونه پلي شوي دي. د طالبانو له پرځېدو وروسته په نږدې کلونو کې اصلي موخه د افغانستان په شمال کې د پرېمانه ملېشه ډلو بې وسلې کول وو. له دغو ملېشو څخه ځینې یې د یوې لسیزې لپاره فعالې وې او د افغانستان د نوې جوړې شوې انتقالي اداري (۲۰۰۲ – ۲۰۰۴) په پرتله د مجاهدینو قوماندانانو او سیمه‌ییزو جګړه مارانو لپاره وفاداره وې. له دغو ډلو څخه ډیرو یې د افغانستان د پوځي ځواکونو په ډول د افغانستان د شمالي ټلوالې د قوماندان احمدشاه مسعود د پوځ په ډول جګړه وکړه، او په ۲۰۰۱ کال کې یې د طالبانو په پرځولو کې مهم رول ولوباوه. د افغانستان انتقالي اداره او وروسته بیا د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت لېواله و، چې د افغانستان په نوې جوړه شوې ملي اردو کې د دغو ډلو د مدغم کولو یا د دوی د بې وسلې کولو له لارې ځواک تر لاسه کړي.

نو موږ د ډي، ډي، ار پروګرام ته د دولت جوړولو یو پروګرام ویلای شو. د بې وسلې کولو د ملي کمیسیون، د افغانستان د نوو پیلونو د پروګرام او د ناقانونه وسله والو ډلو د بندولو په څېر نوښتونه د پراخو موادو په انهدام او (لږ تر لږه د یو وخت لپاره) د جنګیالیو په بیا پیوستون کې بریالي و. هغه کار چې په کولو یې دغه پروګرامونه ونه توانېدل د وفادارۍ هغه اړیکې له منځه یوسی چې سیمه ییز او ملي جګړه ماران یې له ملیشو سره نښلول. ډېری وختونه دغو جګړه مارانو (چې اوس په رسمي ډول په حکومت کې دندې لري) له ډي، ډي، ار څخه د خپل ځواک د زیاتولو او د خپلو سیالانو د ځپلو د وسیلې په ډول کار واخیست، چې په پایله کې یې هغه ناخوښي رامنځته شوه، چې د طالبانو د شته جګړو لامل شوه، او اوس د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام غواړي دغه ستونزه حل کړي.

د حساب ورکولو، انتقالي عدالت او پخلاینې د موضوعاتو اړتیا د بن په تړون کې یاده شوه (د ۲۰۰۱ کال د ډسامبر میاشت)، چې په دغه تړون کې د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د جوړېدلو سپارښتنه وشوه. د ډي، ډي، ار د لومړني نوښت په څېر د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د ۱۹۷۸ – ۲۰۰۱ کلونو ترمنځ د قانوني سرغړونو په اړه د اسنادو په راټولولو تمرکز وکړ. د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د زیاتو مشورو په پایله کې څرګنده شوه، چې خلک له حساب ورکولو پراخ ملاتړ کوي. په هر حال سره هغه خلک چې په حکومت کې وو او د خپلو تېرو کړنو او جرمونو په پایله کې له قانون وېرېدل، هڅه یې وکړه چې د دغو مشورو په پایله کې د جوړ شوي کاري پلان مخه ونیسي او په ۲۰۰۸ زیږدیز کال کې د عمومي بښنې یو قانون رامنځته کړي. که څه هم د حساب ورکولو او انتقالي عدالت کلیمې د بشري حقونو او عدالت په نورو ملي پروګرامونو کې راغلې دي، خو حکومت په دې تړاو د هر حقیقي ګام له اوچتولو سره مخالفت کوي.

لومړی ګام چې په مخامخ ډول د هغو کسانو په اړه و، چې له ۲۰۰۱ کال وړاندې د طالبانو په مشرۍ جګړو کې یې برخه درلوده، په ۲۰۰۵ کال کې د پخوانی ولسمشر او د مجاهدینو د رهبر صبغت الله مجددي په مشرۍ د افغانستان د

سولې او پخلاينې د ملي او خپلواک کميسيون جوړېدل وو. دغه کميسيون (چې د تحکيم صلح په نامه مشهور و) د قومي مشرانو په مشرۍ د ټولنيزې ځارنې د مېکانېزمونو له لارې د حکومت ضد کړنو جنګياليو په پخلاکولو تمرکز کاوه، ترڅو سوله ډاډمنه کړي او د بنسټ پالنې مخه ونيسي. که څه هم دغه پروګرام په رسمي ډول په ۲۰۱۰ کال کې د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د بېرته ستنېدو په پروګرام بدل شو، هغه خلک چې دا پروګرام څارې وايي چې تر ۲۰۰۸ کال پورې يې کومه پايله نه درلوده. د اداري فساد د ستون او د سياسي هوډ د نشتون پر موضوع ګانو سربېره – هغه ستونزې چې په ډي، ډي، ار او نورو افغاني پروګرامونو يې اغيز وکړ – د تحکيم صلح پروګرام ونه شو کړای، چې د پخلا شوو کسانو لپاره امنيت برابر کړي او د مرستو بستې يا کمې وی يا خو بيخي نه وې؛ دا هغه بنسټيزې ستونزې دي چې د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام هم ننګوي.

لاندې برخه د هغو اوو پروګرامونو يوه ارزونه کوي، چې له ۲۰۰۱ کال څخه بيا په ۲۰۱۰ کال کې د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام تر جوړېدو پورې د سولې او پخلاينې په موخه رامنځته شوي وو. دغه نوښتونه په درېيو مهمو برخو وېشل کيږي: بې وسلې کول، له جګړې راګرځول او پخلاکول؛ بشري حقونه او انتقالي عدالت؛ او سوله او پخلاينه. دغه برخې له يو بل څخه بېلې نه دي، لکه څنګه چې په لاندې برخه کې په ډاګه شوې ده د دغو بېلابېلو نوښتونو ترمنځ د موضوع له اړخه ډېره ګډوډي موجوده ده.

## 1. د ډي، ډي، ار پروګرامونه

**د بې وسلې کولو ملي کميسيون** له هغو څلورو دفاعي کميسيونونو څخه يو و، چې د ۲۰۰۳ زېږديز کال د جنورۍ په مياشت کې د ولسمشر کرزي له خوا جوړ شو[7]. په لومړيو کې د بې وسلې کولو د ملي کميسيون دنده کوچنۍ وه او مسوليت يې دا و، چې د بې وسلې کولو هغه پلان منظور کړي چې د افغانستان د دفاع وزارت او د نوو پيلونو پروګرام (لاندې وګورئ) سره تر سلا مشورو وروسته رامنځته شوی و. په هر حال سره، په ۲۰۰۹ کال کې د بې وسلې کولو د ملي کميسيون په اړه د خفيفه وسلې په تړاو يوې سروې څرګنده کړه چې:

> له پيل څخه کميسيون هڅه کړې ده، ترڅو خپل ماموريت پراخ کړي، خپل ځان د پروسې مخکښ پلې کوونکی فعال وښيي او مخکې له دې چې د افغانستان د نوي پيل پروګرام د پروسې د عمده فعال په ډول معرفي شي، خپل د بې وسلې کولو پروګرامونه يې پيل کړل[8].

په عمل کې، د بې وسلې کولو ملي کميسيون په پنځو شمالي ولايتونو کې د ناقانونه ملېشو د وسلو له راټولولو او له منځه وړلو او د افغانستان د ملي اردو د وسلو او جګړه ييزو تجهيزاتو له ثبتولو څخه څارنه وکړه. حکومت وويل چې د ټانکونو او زغره لرونکو موټرو په ګډون ۵۰۰۰۰ يوځي تجهيزات راټول شول او د دغه پروګرام په لړ کې د افغانستان د

[7] په دغه وخت کې درې نور جوړ شوي کميسيونونه دا دي: د بې وسلې کولو او پخلا کولو کميسيون، د مامورينو د ګمارنې او روزنې کميسيون، او د عسکرو د ګمارنې او روزنې کميسيون. د بې وسلې کولو او پخلاينې کميسيون د افغانستان د نوي پيل د پروګرام د څارنې مسوليت درلود چې دغه پروګرام د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام لخوا اداره کيده.

[8] ميچل باټيا، ايميل ليبورن، روبيرټ موګاه، او مارک سيدرا، «په افغانستان کې ډي، ډي ار: کله چې دولت جوړونه او ناامني سره يو ځای شي»، د کوچنيو وسلو په اړه د ۲۰۰۹ کال سروې: د جګړې سيورى، ۲۰۰۹، ۲۹۸ http://www.smallarmssurvey.org/fileadmin/docs/A-Yearbook/2009/en/Small-Arms-Survey-2009-Chapter-09-EN.pdf

ملي اردو ۱۲۶۰۵۱ وسلې ثبت شوې[9]. دغه شمېرې ځکه کټورې نه وې، چې راټولې شوې وسلې د ذخیره کېدو پر ځای نورو ملېشو ته وویشل شوی او دغه پروګرام د دفاع په وزارت کې تنظیمي فعالینو (چې عموما یې له شورای نظار سره اړیکه لرله) ته زمینه برابره کړه، چې په پوځي تجهیزاتو کنټرول ولري[10]. په ۲۰۰۵ کال کې ولسمشر کرزي د یو فرمان له مخې د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ته امر وکړ، چې ټولې هغه وسلې چې د بې وسلې کولو د ملي کمیسیون پر مهال راټولې شوې د دې او ار کمیسیون (چې د افغانستان د نوي پیل د پروګرام څارنه یې کوله) ته وسپاري، خو یو زیات شمېر وسلې هېڅکله هم د حکومت ډیپوګانو ته ونه لېږدول شوې[11]. په پای کې څرګنده شوه چې د بې وسلې کولو ملي کمیسیون د دې، ډي، ار لپاره یو ناسم پیل و چې ترګټې یې تاوان زیات و.
د افغانستان د نوي پیل پروګرام چې باید د حکومت په استازیتوب د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام له خوا پلې شوی وای، د ۲۰۰۳ کال په اکتوبر کې هغه وخت منظور شو، کله چې د بې وسلې کولو ملي کمیسیون لغوه او دندې یې د ملي دفاع وزارت ته وسپارل شوې. د افغانستان د نوي پیل پروګرام د دې لپاره و، چې د مخکېنیو قوماندانانو او د هغوی د جنګیالیو ترمنځ تاریخي اړیکې له منځه یوسي؛ د افغانستان د وسله والو ځواکونو له مخکېنیو وسله لرونکو غړو سره مرسته وکړي ترڅو له پوځ څخه لرې او ملکي ژوند ته راستانه شي؛ او د افغانستان د ملي اردو په ملکیت وسلې راټولې، ذخیره او غیر فعالې کړي[12]. د افغانستان د نوي پیل د پروګرام د بې وسلې کولو او له جګړې راګرځولو برخه د ۲۰۰۵ کال په جولای میاشت کې پای ته ورسېده، چې په دغه وخت کې ۶۳۳۸۰ مخکیني جنګیالي بې وسلې شوي وو، د افغانستان د ملي اردو ۲۵۹ واحدونه په رسمي ډول له ردیف څخه بهر شوي وو، ۵۷۶۲۹ سپکې او درنې وسلې راټولې شوې وې، او د ۱۰۰۰۰۰ سرتېرو معاشونه بند شول (په رسمي ډول د معاشونو له لېست لرې کړای شول). د ۲۰۰۶ زیږدیز کال په جون کې د پخلاینې د پړاو په پای ته رسېدو سره، ۸۸ سلنه هغو کسانو چې بې وسلې شوي ووګټې تر لاسه کړې. د افغانستان د نوي پیل د پروګرام په تړاو د مراجعینو د ارزونې یوه سروې چې په ۵۰۰۰ هغوګټه اخیستونکو تر سره شوه چې د شپږ تر نهو میاشتو پورې یې د بیا پیوستون مرستې تر لاسه کړې وې، په ډاګه کړه چې ۹۳ سلنه ځواب ورکوونکي له مرستو څخه خوښ وو او ۹۰ سلنه یې لاهم په کار بوخت وو. لکه څرنګه چې په ۲۰۰۹ کال کې د کوچنیو وسلو په تړاو یوه سروې د پروګرام په اړه څرګندوي:

> د پخوانیو وسله والو ځواکونو د قطعاتو بندولو د ټولنې د غړو په ورځني ژوندانه او امنیتي سکتور مثبتې اغېزې درلودې. له سیالو قومي یا ملېشه یي ډلو سره تړلې امنیتي پوستې او د وسله والو ځواکونو واحدونه چې په ټولنو کې ځای پر ځای شوي وو، وتړل شول چې په پایله کې یې یوه امنیتي ننګونه حل شوه.... د پخوانیو وسله والو ځواکونو هغه شمېر چې د بې وسلې کولو لپاره ټاکل شوی و، پوره شو او ارزښت لرونکې روزنې او مرستې پخوانیو جنګیالیو ته برابرې شوې[13].

---

[9] میچل باټیا او مارک سیدرا، افغانستان، وسلې او جګړه: وسله والې ډلې، په یوه جګړه ځپلې ټولنه کې بې وسلې کول او امنیت. لندن: روټلیج، ۲۰۰۸.
[10] مارک سیدرا، «په افغانستان کې د بې وسلې کولو څلور ستنې» میچل باټیا او مارک سیدرا، افغانستان، وسلې او جګړه: وسله والې ډلې، په یوه جګړه ځپلې ټولنه کې بې وسلې کول او امنیت. لندن: روټلیج، ۲۰۰۸. پاڼه ۱۱۹ - ۵۷
[11] وسلې او جګړې
[12] کارولین الف. هارټزیل، «له لاسه وتلي فرصتونه: په افغانستان کې په ایس، ایس، ار باندې د ډي، ډي، ار اغیز' USIP، د ۲۰۱۱ کال د اپریل میاشت..http://www.usip.org/sites/default/files/resources/SR270-Missed_Opportunities.pdf
[13] په افغانستان کې ډي، ډي، ار، ۲۹۸

په هر حال سره، د پروګرام په پایله کې هغه واسطه لرونکی شبکې په ډېرو سیموکې لاهم ژوندۍ پاتې شوې[14]. لکه څنګه چې د افغانستان د سولې او پخلاینې په اسنادوکې لیکل شوي، د افغانستان د نوي پیل پروګرام هم د پخوانیو وسله والو ځواکونو له قوماندانانو سره په فساد کې ښکېل شو، چې دغو قوماندانانو به پروګرام ته خپل لږ وفاداره سرتیري او لږ فعاله وسلې معرفي کول او د خپلو نورو زیاتو وسلوکنټرول به یې له ځانه سره ساته او د پخلاینې مرستې به یې تر پایه ترلاسه کولې[15].

د ناقانونه وسله والو ډلو د بندولو پروګرام (ډیاګ) د ۲۰۰۵ کال په جنورۍ کې د افغانستان د نوي پیل په پروګرام کې د یوې تشې د ډکولو په موخه پیل شو. د افغانستان د نوي پیل پروګرام یوازې د افغانستان د پخوانیو وسلوالو ملېشو لپاره و، خو یو لوی شمېر نورې وسله والې ډلې له دغو ملېشو بهر هم موجودې وې[16]. د ډیاګ پروګرام دوه موخې وې: ترڅو د ناقانونه وسله والو ډلو د بندولو او بې وسلې کولو له لارې امنیت ته وده ورکړي، او د هغو ټولنو لپاره چې د ناقانونه وسله والو ډلو له ګواښونو څخه په امن کې شوې وې، بنسټیزه پرمختیایي مرسته برابره کړي[17]. په پلان کې وه، چې ډیاګ به د ۲۰۰۵ کال له جنورۍ څخه د ۲۰۱۱ کال تر مارچ پورې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام په اداره او د بې وسلې کولو او پخلاینې د کمیسیون په مشرۍ دوام وکړي[18]. په داسې حال کې چې د ډي، ډي، ار په مخکېنیو پروګرامونو کې خلک د پیسو په وسیله هڅول کېدل، خو ډیاګ بیا له ناقانونه وسله والو ډلو سره د قانون د پلي کولو له اړخه پر مخ لاړ او د وګړو پر ځای یې په ټولیز ډول له ټولنو سره مرستې وکړې[19].

ډیاګ له درې پړاو لرونکې پروسې څخه جوړ شوی و. لومړی پړاو له هغو قوماندانانو سره د ټرلو ناقانونه وسله والو ډلو غیر پوځي کول وو، چې غوښتل یې د ۲۰۰۵ کال د ملي شورا او ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره یوه قانوني لاره غوره کړي. دغه پلان بالاخره ناکام شو، ځکه د نوماندانو ترمنځ د بې وسلې کولو پروګرام په یو ډول نه و، او په ولایتونو کې تر ۸۰ سلنې پورې بریالیو نوماندانو او په کابل کې تر ۶۰ سلنې پورې بریالیو نوماندانو له ناقانونه وسله والو ډلو سره خپلې اړیکې وساتلې. دویم پړاو له ناقانونه وسله والو ډلو سره د حکومتي چارواکو د اړیکو په اړه و. د ۲۰۰۵ زیږدیز کال په سپټمبر کې اټکل وشو، چې لږ تر لږه ۴۵۰ حکومتي چارواکي له ناقانونه وسله والو ډلو سره تړلي دي، خو یوازې ۲۱ حکومتي چارواکي له جګړې او ناقانونه وسله والو ډلو راوګرځول شول. دریم پړاو د ۲۰۰۶ کال په مې میاشت کې پیل شو، او د داوطلب، د خبرو په پایله او په زوره بې وسلې کولو له درې اړخیزې ستراتیژۍ جوړ شوی و. په لومړیو کې داشرط و چې راټولېدونکې وسلې باید فعالې وي، خو وروسته دا شرط داسې شو چې باید وسلې په داسې حالت کې وي چې امنیتي ادارې یې وکارولی شي. په داوطلب بې وسلې کولو کې دا شرط و، چې

[14] سټیون، الف. زیوک «په افغانستان کې سوله او پخلاینه» ملکي پوځي ګډ مرکز، د ۲۰۱۲ کال د اپریل میاشت https://www.cimicweb.org/cmo/afg/Documents/Governance/CFC_Afghanistan_Reintegration_Overview_April2012.pdf (د وسلو او جګړې برخه هم وګورئ)
[15] په افغانستان کې ډي، ډي، ار، ۲۹۶
[16] *Ibid*، ۲۹۹
[17] *Ibid*
[18] «د ناقانونه وسله والو ډلو بندول یا ډیاګ د پروژې کلنی رپوټ ۲۰۱۰» د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام، ۲۰۱۰، http://www.undp.org.af/Projects/Report2011/diag/2011-03-21-%20Annual%20Progress%20Report%20of%20DIAG.pdf
[19] په افغانستان کې ډي، ډي، ار، ۳۰۰

باید ۷۰ سلنه وسلې په ۳۰ ورځوکې راټولې شي، له هغه وروسته که یوې وسله والې ډلې مخالفت کاوه نو د خبرو پړاو پیلېده، د خبرو پړاو د ملي او سیمه ییزو فعالینو په کارونې سره پیل شو، چې پکې د کلیو ملایان او شوراګانې شاملې وې. که دا پړاو هم ناکام شوی وای، د کورنیو چارو وزارت د زور راوستلو ځواک درلود او د اسنادو له مخې ملي اردو هم مرسته ورسره کولای شوای. په هر حال سره په عمل کې په زوره بې وسلې کول کم وو. د ۲۰۰۶ کال په مې میاشت کې د مشرانو جرګې رایه ورکړه چې باید ډیاګ منحل شي، ځکه افغانان اړتیا لري چې د ځان ساتلو لپاره وسلې ولري، چې دا تر ډېره په پارلمان کې د ناقانونه وسله والو ډلو د اغیز له امله و[20].

په ۲۰۱۰ کال کې د ډیاګ د پروژې د کلني رپوټ له مخې، ټولټال ۷۵۹ ناقانونه وسله والې ډلې بندې شوې، ۵۴۱۳۸ وسلې راټولې شوې، او په ۱۰۰ ولسوالیو کې کار وشو[21]. که څه هم د ډیاګ موخه د هغو ناقانونه وسله والو ډلو بې وسلې کول وو، چې دې، ډې، ار ورته نه و رسېدلې، خو ډېری نورې ډلې بیا بې وسلې شوې او له څلورو درې برخې وسلې د شمالي ټلوالې له سیمو څخه راټولې شوې، چې په پایله کې یې نورې زیاتې وسله لرونکې سیمې له پروګرام لرې پاتې شوې. پر دې سربېره، ځینې ملېشې د حکومتي چارواکو له خوا وساتل شوې او دغه ډلې د حکومت د بې وسلې کولو له فشار څخه هم خوندي وساتل شوې[22]. د ۲۰۱۱ زیږدیز کال په مارچ میاشت کې د ډیاګ فعالیتونه د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو په پروګرام کې مدغم شول.

## ۲. بشري حقونه او د انتقالي عدالت نوښتونه

په ۲۰۰۶ زیږدیز کال کې د سولې، پخلاینې او عدالت لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوریت کاري پلان، د حساب ورکولو او انتقالي عدالت په برخه کې د حکومت د لومړنۍ جدي هڅه وه. په ۲۰۰۲ زیږدیز کال کې د بشري حقونو د لومړني ملي ورکشاپ په پایله کې، د افغانستان د بشري حقونو نوي جوړ شوي خپلواک کمیسیون ته دنده ورکړل شوه، چې په ملي کچه مشورې وکړي او د انتقالي عدالت او د تېرو جرمونو د ارزولو لپاره یوه ستراتیژي رامنځته کړي[23]. هغه رپوټ چې له دغو مشورو وروسته جوړ شو د «عدالت د یوې غوښتنې: په افغانستان کې له بشري حقونو څخه د تېرو سرغړونو په اړه یوه ملي مشوره» په نوم و. دغه رپوټ په ایران او پاکستان کې د افغان کډوالو په ګډون په ۳۲ ولایتونو کې د ۲۰۰۰ ګډونوالو له ډلې څخه د ۴۱۵۱ ځواب ورکوونکو او ۲۰۰ ډله ییزو بحثونو د یوې سروې پر

---

[20] *Ibid*

[21] «د ناقانونه وسله والو ډلو بندول یا ډیاګ د پروژې کلنی رپوټ ۲۰۱۰» د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام، ۲۰۱۰، http://www.undp.org.af/Projects/Report2011/diag/2011-03-21-%20Annual%20Progress%20Report%20of%20DIAG.pdf

[22] په افغانستان کې ډي، ډي، ار، ۳۰۰

[23] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د ولسمشر د فرمان په ترڅ کې په ۲۰۰۲ کال کې جوړ شو. د بشري حقونو د یو خپلواک کمیسیون جوړېدل د ۲۰۰۱ کال په ډیسمبر کې د بون د خبرو پر مهال د نړیوالې ټولنې یو مهم شرط و، او د دغه کمیسیون پریکړه د بون په هغه تړون کې شوې وه چې په پایله کې یې د افغانستان موقتي اداره جوړه شوه. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د جوړښت، دندو او مسولیت په اړه قانون په ۲۰۰۵ کال کې د ولسمشر په فرمان سره توشیح شو. دغه کمیسیون په خپلواک ډول د افغانستان د حکومت په چوکاټ کې فعالیت کوي چې موخه یې په هیواد کې د بشري حقونو د حالت څارنه؛ د بشري حقونو ساتل او وده؛ اساسي حقونو او ازادۍ ته د خلکو د لاسرسي د حالت څارنه؛ د بشري حقونو د سرغړونو د قضیو څېړنه، او په هیواد کې د بشري حقونو د حالت د ښه کولو لپاره د ګامونو پورته کول ده. که څه هم د قانون له مخې دغه کمیسیون د سولې د موضوعاتو مسولیت نه لري، خو دغه کمیسیون د جنګي جرمونو د قانوني والي د څېړلو مسولیت لري، او ډېری وخت بشري حقونه له سولې، پخلاینې، بیاپیوستون، رسمي او غیر رسمي عدالت، او د شخړو له حل سره تړلي وي، د دوی بله دنده د انتقالي عدالت په اړه ملي خبرو اترو کې ونډه اخیستل ده.

بنسټ جوړ شوی و[24]. د «عدالت د یوې غوښتنې» رپوټ دا پایله ورکړه، چې ډېری افغانان (د هغو کسانو ۷۰ سلنه چې خبرې ورسره شوې) د تېرو او اوسنیو جرمونو په اړه د عدالت کلکه غوښتنه لري؛ افغان حکومت او نړیواله ټولنه باید د پېژندل شوو سرغړوونکو پر خلاف ګام واخلي؛ جنګي مجرمین باید د ځواک له څوکیو لرې شي؛ او د ناوړه کړنو تاریخ باید پوره ولیکل شي[25].

د ۲۰۰۵ کال په وروستیو کې یو څلورکلن کاري پلان چې د سمبولیکو ګامونو، اداري سمونونو، رښتیا موندلو، پخلاینې او حساب ورکولو پنځو برخو په اړه و، د کرزي د کابینې له خوا تصویب شو[26]. نړیوالو بشري او اسلامي قوانینو ته په کتنې سره دغه کاري پلان عمومي بښنه ردکړه[27]. افغان پارلمان په بېړه د یو ارزوونکي په خبره د ځان بښلو یوه طرحه[28]منظورکړه چې پکې د وسله والو ډلو د پخوانیو غړو هغه ناقونونه جنګي جرمونه او بشري سرغړونې بښل شوې وې چې د ۲۰۰۱ کال له ډېسمبر څخه مخکې یې ترسره کړې وې[29]. که څه هم دغه کاري پلان په عمومي ډول په ۲۰۰۶ کال کې پیل شو او د ۲۰۰۶ کال د افغانستان په قوانینو او د ۲۰۰۸ کال د افغانستان په ملي پرمختیایي ستراتیژۍ او همدارنګه نورو د بشري حقونو او عدالت ملي پروګرامونو کې ځای پر ځای شو، خو د پلان مهمې برخې هېڅکله هم پیل نه شوې. د رښتیا موندنې هېڅ رسمي کمیسیون جوړ نه شو، او لکه څنګه چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د تېرو جنګي جرمونو د ثبتولو لپاره پریمانه عمومي څېړنې وکړې، خو رپوټونه یې هېڅکله هم خپاره نه شول. هغه موضوعات چې د «عدالت غوښتنې» په رپوټ کې یاد شوي وو، په ۲۰۱۰ کال کې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام  د جوړېدو پر مهال بحث شول، خو په کاري پلان کې له راغلو فعالیتونو یو یې هم د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو په پروګرام کې په پام کې ونه نیول شول.

د عدالت غوښتنې د رپوټ یوه مهمه پایله په ۲۰۰۸ زېږدیز کال کې د ملي پخلاینې، عمومي بښنې او ملي ټیکاو قانون و. که څه هم ولسمشر کرزي ژمنه کړې وه، چې د بښنې هر داسې قانون به ردکړي، خو دغه قانون په ارامۍ سره په ۲۰۰۸ کال کې په ملي جریده کې خپور شو. قانون وایي چې دغه قانون د هېواد د ملي ګټو په پام کې نیولو سره د پخلاینې او ملي ټیکاو د پیاوړتیا، د دښمنیو د پای ته رسولو او د هېواد د اساسي قانون او نورو قوانینو د منلو په ترڅ کې د بښنې په پایله کې د دښمنو ډلو ترمنځ د باور رامنځته کولو په موخه منل شوی دی[30]. په داسې حال کې چې

---

24 «د عدالت یوه غوښتنه: په افغانستان کې د بشري حقونو د تیرو سرغړونو په اړه یوه ملي مشوره» د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، ۲۰۰۵.
http://www.aihrc.org.af/media/files/Reports/Thematic%20reports/rep29_1_05call4justice.pdf.

25 *Ibid*

26 ایمیلي وینټربوتام، «په افغانستان کې د جګړې د مخینې علاج کول»، د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، د ۲۰۱۲ کال د جنوري میاشت. http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/1201E-Healing%20the%20Legacies%20of%20Conflict%20in%20Afghanistan%20SP%202011.pdf.

27 *Ibid*

28 ساري کوو، «له کار پرته یو پلان: د سولې، عدالت او پخلاینې لپاره د افغان حکومت کاري پلان. د افغانستان د ارزوونکو شبکه، ۲۰۱۲. http://www.afghanistan-analysts.org/wp-content/uploads/downloads/2012/09/6_Kouvo_A_Plan_without_Action.pdf.

29 «افغانستان – د بښنې بیځایه قانون: د کرزي لخوا رامنځته شوي اقدامات په دې معنا دي چې مجرمین به ببنل کیږي» د بشري حقونو د څار سازمان، د ۲۰۱۰ کال د مارچ ۱۰ مه نیټه، http://www.hrw.org/news/2010/03/10/afghanistan-repeal-amnesty-law

30 «ملي پخلاینه، عمومي بښنه، او د ملي ثبات قانون،» د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت، ملي جریده، http://dkiafghanistan.um.dk/da/~/media/dkiafghanistan/Documents/Other/National%20Reconciliation%20and%20Amnesty%20Law.ashx.

دغه قانون په شته حکومت ضدکسانو او ډلو غړکوي چې د سولې له پروسې سره یوځای شي، دغه قانون همدارنګه د هغو ټولو سیاسي ډلو لپاره عمومي بښنه کوي چې په هر ډول د افغانستان د موقتي اداري نه مخکې په ناوړه کړنو کې ښکېلې وې، د بېلګې په ډول ټول هغه خلک چې له ۱۹۷۸ کال څخه یې بیا په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو تر پرځېدو پورې په کورنیو جګړو کې برخه اخیستې وه. که څه هم قانون خلکو ته اجازه ورکوي، چې د ظلم قضیې ثبت کړي، خو کارپوهان او د بشري حقونو څارونکي په دې اند دي، چې د افغانستان په څېر یو هېواد کې داکار ناشونی دی[31]. په داسې حال کې چې دغه قانون د لویې کچې فعالینو په اړه دی، خو په عمومي ډول دغه قانون د سیمه ییزې کچې سولې پر وړاندې یو خنډ دی ځکه د افغان حکومت او وګړو ترمنځ بې باوري رامنځته کوي.

د ۲۰۰۸ کال د بشري حقونو او مدني مسوولیتونو په اړه د ملي لومړیتوب پروګرام د سولې او پخلاینې، د حکومت له خوا د همغږو شووکارونو، مدني ټولنې د ادارو، او د بشري حقونو او مدني مسوولیتونو په اړه د پوهاوي د لوړولو لپاره د رسنیو د برخو په ګډون د بشري حقونو او مدني زده کړو د پروګرامونو یوه لویه بسته (پکېج) وړاندې کړ[32]. دغه پروګرام همدارنګه د عدالت د رسمي ادارو او د شخړو د حل کولو د سیمه ییزو شوراګانو ترمنځ د ناهمغږۍ ستونزه د بشري حقونو او مدني مسوولیتونو د پلي کولو په مخ کې د یو خنډ په ډول یاده کړه، او د عدلیې وزارت یې ژمن کړ ترڅو د عدالت د رسمي ادارو او د شخړو د حل کولو د سیمه ییزو شوراګانو د نښلولو لپاره په یوه پالیسي کار وکړي.

دغه پروګرام همدارنګه د سیمه‌ییزو ارګانونو خپلواکې اداري، د افغانستان د ټولنیزې پراختیا پروګرام رامنځته کړل، د افغانستان د ټولنیزې پراختیا پروګرام یو داسې نوښت و، چې موخه یې د دودیزې قومي شوراګانې او دیني مشران یې د نوي حکومت له جوړښتونو سره نښلول. د دغه نوښت په ترڅ کې د سیمه ییزو ارګانونو خپلواک ریاست او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د سولې راوستلو، بشري حقونو او مدني مسولیتونو په اړه د ولسوالیو نوو جوړو شوو د ASOP کمیټو ته یو لړ ورکشاپونه جوړ کړل[33].

په پراخه توګه، دی پروګرام دا په ډاګه کړه چې د بښنې پرله پسې فرهنګ او د حساب ورکولو او د قانون د پلي کولو نه شتون د افغان وګړو د عدالت او له حکومت څخه د حساب ورکولو غوښتنه کمزورې کوي[34]. دغه پروګرام څرګنده کړه، چې د افغانستان حکومت نه دی توانېدلی د سولې، عدالت او پخلاینې په اړه کاري پلان پلی کړی، او ویې ښوده، چې اړتیا ده پر دغه پلان او نورو تګلارو بیاکتنه وشي. دغه پروګرام همدارنګه د ټاکل شوو سیمه ییزو مشرانو، ناحکومتي ادارو، د مدني ټولنې د بنسټونو او عامو وګړو لپاره د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون په مشرۍ د سولې، عدالت او پخلاینې په اړه د پوهاوي لوړولو او د وړتیا لوړولو د یو ملي پروګرام سپارښتنه وکړه. دغه کمپاین د دې لپاره و، چې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا یوه څېړنه وشي او بیا وروسته د

---

[31] «افغانستان – د بښنې بیځایه قانون: د کرزي لخوا رامنځته شوي اقدامات په دې معنا دي چې مجرمین به ښنل کیږي» د بشري حقونو د څار سازمان، د ۲۰۱۰ کال د مارچ ۱۰ مه نیټه، http://www.hrw.org/news/2010/03/10/afghanistan-repeal-amnesty-law

[32] «د بشري حقونو او مدني مسولیتونو په اړه د ملي لومړیتوب پروګرام،» د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت او د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر میاشت، http://www.thekabulprocess.gov.af/images/npps/gov/gov-hr-and-civic-education.pdf

[33] د افغانستان د ټولنیزې توسعې پروګرام: وروستی رپوټ، «د متحده ایالاتو د نړیوال پرمختګ اداره، د ۲۰۱۲ کال د جنورۍ میاشت، http://pdf.usaid.gov/pdf_docs/pdact585.pdf

[34] د ملي لومړیتوب پروګرام –د قانون د پلي کولو موضوعاتو او په ځانګړي ډول په دې اړه قانون او عدالت چې څنګه رسمي او غیر رسمي سیستم کولای شي یوه ښه سیستماتیکه اړیکه رامنځته کړي. (د ملي لومړیتوب پروګرام: د قانون او عدالت برخه وګورئ «د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت، د حکومتوالۍ شبکه، د ۲۰۱۳ کال د جون ۲۳ مه نیټه، http://www.thekabulprocess.gov.af/images/npps/gov/GOV-NPP5-JFA.pdf ).

همدې څېړنې پر بنسټ مدني زده کړې، ورتیا لوړول او عامه ملاتړ وړاندې کړي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ته دنده ورکړل شوه، چې له وزارتونو او حکومتي ادارو سره د ستراتیژیکو لارښوونو او یوکاري پلان د جوړولو په برخو کې کار وکړي ترڅو دغه کمپاین د درېیو کلونو په موده کې پلی شي. په هر حال سره، اوسمهال داسې هېڅ کوم رپوټ نه د سولې د عالي شورا او نه هم د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون په وېبپاڼه کې شته؛ د وړتیا لوړولو او د پوهاوي لوړولو د پروګرام په اړه هېڅ نوي معلومات نشته؛ سره له دې چې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون یې له حکومت څخه د غځېدا (تمدید) غوښتنه وکړه خو دغه کاري پلان په ۲۰۰۹ کال کې له منځه ولاړ او داسې ښکاري چې د نورو نوښتونو په ډول په هغه شان پلی نه شو لکه څنګه چې ټاکل شوې وه[35].

## 3. د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرامونه

د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو ملي خپلواک کمیسیون (چې د سولې د ټینګښت کمیسیون په نامه هم یادېږي) د ۲۰۰۵ کال په مې میاشت کې د ولسمشر د فرمان له مخې رامنځته شو، ترڅو د وسله والو ډلو خپل منځي دښمنۍ پای ته ورسوي، ناحل شوې ملي مسلې حل کړي، د تېرو بې عدالتیو په پایله کې رامنځته شوو ستونزو ته علاج وکړي، او د کورنیو جګړو او ورانیو د بیا تکرارېدو د مخنیوي لپاره اقدامات وکړي[36]. دغه کمیسیون تر ډېره د ملي امنیت د بندیانو په خوشې کولو او د وسلو په بدل کې هغوی ته د مرستو ورکولو په برخه تمرکز وکړ[37]. که څه هم یوه څېړنه په ډاګه کوي، چې دغه پروګرام په ۲۰۰۷ کال کې پای ته ورسېد، خو د کمیسیون وېبپاڼه بیا تر ۲۰۰۸ کال پورې د فعالیتونو په اړه رپوټونه لري او نورې سرچینې بیا له مودې وروسته هم د هغه د فعالیت او بالاخره په ۲۰۱۰ کال کې کله چې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام پیل شو، د هغه د بندېدو خبر ورکوي[38]. دغه کمیسیون په ۲۰۰۸ کال کې په ۱۱ ولایتونو کې فعال و[39]. کمیسیون ادعا لرې چې د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۷ کلونو ترمنځ یې ۴۶۳۴ جنګیالي او په ملي امنیت کی ۵۰۰ بندیان پخلا کړي دي[40]، خو نور رپوټونه بیا په ډاګه کوي چې ریښتینې

---

[35] مریم صافي، «ایا په افغانستا کي د انتقالي عدالت موضوع له یاده ایستل شوې ده؟» د ۲۰۱۴ کال د مارچ ۱۷ مه نیټه http://www.transconflict.com/2014/03/transitional-justice-forgotten-issue-afghanistan-173/.

[36] د افغانستان د سولې او پخلاینې ملي خپلواک کمیسیون، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د تحکیم صلح پروګرام، ۲۰۰۹

[37] کارولین وادامز او کولین کوکمن، «په افغانستان کې د سولې د شونتیاوو ارزونه: د سولې جرګه او د ولسمشر کرزي د سولې نوی پلان»، د امریکا د پرمختګ مرکز، د ۲۰۱۰ کال د جون ۲ مه نیټه http://www.americanprogress.org/issues/security/news/2010/06/02/7919/assessing-peace-prospects-in-afghanistan/

[38] «د افغانستان د سولې او پخلاینې ملي خپلواک کمیسیون»، د افغان حکومت د تحکیم صلح پروګرام، ۲۰۰۹، پاټریک وایټ، «د افغان اصلاحاتو د هڅو په ناکامۍ سره طالبانو نور هم زور پیدا کړ» ګلوب او میل، د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ ۵ مه نیټه، http://www.theglobeandmail.com/news/world/as-afghan-reform-effort-fails-taliban-traitors-return-to-the-front-lines/article1206824/; «د طالبانو سره خبرې: تیر، اوسمهال او د متحده ایالاتو، افغانستان او پاکستان لپاره لرلیدونه،» د مونا شیخ او مجا ګرینوډ لخوا ایډیټ شوې، د ډنمارک د نړیوالو مطالعاتو د رپوټ مرکز، ۲۰۱۳ http://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/RP2013-06-Taliban-Talks_web.pdf

[39] سوریندریني ویجیاراتني، «افغانستان: د سولې د لرلیدونو په اړه یوه مطالعه»، د کاناډا د نړیوالې همکارۍ کونسل، د بحث رپوټ، د ۲۰۰۸ کال د مارچ میاشت، http://www.ccic.ca/_files/en/what_we_do/002_peace_2008-03_afghanistan_study.pdf

[40] ستیون الف. زیوک، «په افغانستان کې سوله او پخلاینه»، د ملکي فوځي چارو مرکز، د ۲۰۱۲ کال د اپریل میاشت، https://www.cimicweb.org/cmo/afg/Documents/Governance/CFC_Afghanistan_Reintegration_Overview_April2012.pdf

شمېره به ښايي د دغه ورکړل شوې شمېرې نيمايي وي، او ډېرى پخلا شوي کسان په حقيقت کې جنګيالي نه وو[41]. مخکېنيو جنګياليو ته اجازه ورکړل شوه، چې د سيمه ييزو مشرانو تر څارنې لاندې بېرته خپلو ټولنو ته ولاړ شي، او دوی ته مادي مرسته او ان کله کله ځمکې هم ورکړل شوې[42]. په هر حال سره، د بحراني هېوادونو د څېړنو د مرکز له خوا په يوه څېړنه کې څرګنده شوه، چې د سولې د ټينګښت پروګرام په لړ کې پخلا شوو کسانو تر ډېره مادي مرستې تر لاسه نه کړې او د دوی امنيت هم ډاډمن نه شو، چې په پايله کې دوی د خوشي کېدو پرمهال هم د وسله والو او هم د نړيوالو ځواکونو له خوا په نښه شول، چې په پايله کې يې د جنايتونو کچه ډېره لوړه شوه[43]. بلاخره د سولې د ټينګښت (تحکيم صلح) پروګرام ته د فساد، کمزوري مديريت او عمومي سياسي هوډ د نه شتون له امله نورې پيسې ورنه کړل شوې[44].

## V. د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام

د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام په کابل کې د سولې له ملي مشورتي جرګې وروسته د ۲۰۱۰ زيږديز کال د جولای په مياشت کې د ملي امنيت شورا له خوا رامنځته شو. د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام د افغانانو په مشرۍ د سولې د يو ملي نوښت لپاره يو چوکاټ رامنځته کوي، چې په کې په ولايتي کچه د جنګياليو پخلاينه او بياپيوستون شامل دي. د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام موخه دا ده، چې د يوې سياسي لارې په مرسته سوله راولي، او هڅه کوي هغو جنګياليو او قوماندانانو ته ځان ورسوي چې مخکې د وسله والو مخالفينو او سخت دريځو ډلو په ليکو کې جنګېدل[45]. وسله وال مخالفت ته د وګړو د مخه کولو د لاملونو په پېژندګلوۍ او له منځه وړلو او سيمه ييزې هوکړې او د ناخوښۍ په له منځه وړلو ټينګار شوی دی. د ستونزو او ناخوښۍ په نښه کول او له منځه وړل او د پخلا شوو جنګياليو او د هغوی د ټولنو لپاره د ګټې رسولو په موخه د پرمختيايي پروژو پلي کول په ولايتي کچه د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام فعاليتونه جوړوي[46].

### 1. پرمختګ

د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام د رامنځته کولو لپاره سياسي هوډ د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ په مياشت کې د لندن په کنفرانس کې له هغه وروسته رامنځته شو، چې افغان حکومت د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پاليسي وړاندې کړه او نړيوالو مرستندويانو د دغه پروګرام د تمويل لپاره د سولې او سوله ييز

41 تالاتيک مساديکوی، انتونيو ګويستوزي او جيمز ميچل پاګ، «له طالبانو سره خبرې: د افغان جګړې د يوې حل لارې په لور» کاري رپوټ شماره، ۶۶، د بحراني هيوادونو د څېړنې مرکز، د ۲۰۱۰ او ۱۱ کال د جنورۍ مياشت http://eprints.lse.ac.uk/28117/1/WP66.2.pdf

42 *Ibid*

43 *Ibid*

44 ترزينا سجاد، «سوله په هره بيه؟ په افغانستان کې پخلاينه او بيا پيوستون»، د افغانستان د څېړنې او ارزونې مرکز، د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر مياشت http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/1035E-Peace%20at%20all%20Costs%20IP%202010%20web.pdf.

45 ستيون الف. زيوک، «په افغانستان کې سوله او پخلاينه»، د ملکي فوځي چارو مرکز، د ۲۰۱۲ کال د اپريل مياشت، https://www.cimicweb.org/cmo/afg/Documents/Governance/CFC_Afghanistan_Reintegration_Overview_April2012.pdf

46 *Ibid*

ژوند ته د راستنېدلو د وجهي صندوق د جوړولو ژمنه وکړه. د ۲۰۱۰ زېږديز کال د جون مياشتې په لومړيو کې په کابل کې د سولې ملي مشورتي جرګه راوبلل شوه او په دغه جرګه کې د ملي شورا، ولايتي شورا د غړو، ديني عالمانو، قومي مشرانو، د مدني ټولنې د استازو، او په ايران او پاکستان کې د افغان کډوالو د استازو په ګډون د ۱۳ بېلابېلو پاړکيو (قشرونو) شاوخوا ۱۶۰۰ استازو او کسانو ګډون کړی و[47]. پخواني ولسمشر برهان الدين رباني چې له ۲۰۱۰ زېږديز کال څخه بيا په ۲۰۱۱ کال کې تر خپلې مړينې پورې د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام او د سولې د عالي شورا مشر و، د دغې جرګې مشري وکړه. طالبانو ته جرګې کې د ګډون بلنه نه وه ورکړل شوې[48].

د سولې ملي مشورتي جرګې هڅه وکړه، چې د افغان حکومت او طالبانو په مشرۍ مخالفينو ترمنځ مخامخ خبرو ته لاره هواره کړي او همدارنګه د کرزي د پخلاينې د ستراتيژۍ لپاره يو سياسي ملاتړ پيدا کړي[49]. د دغې درې ورځنۍ ناستې په پای کې، د سولې ملي مشورتي جرګې د سولې عالي شورا جوړېدل منظور کړل او د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام ته يې قانوني بڼه ورکړه[50]. د سولې د ملي مشورتي جرګې په ويناپاڼه کې د نورو سپارښتنو ترڅنګ دا هم راغلي وو، چې هغه جنګيالي چې د سولې له پروسې سره يو ځای کيږي بايد د ملګرو ملتونو له تور نوملړ څخه و ايستل شي، له طالبانو سره د سولې د راوستلو هڅو لپاره بايد يو عالي کميسيون جوړ شي، بايد د ټولو لپاره د عايد لاسته راوړنې، بېوزلۍ کمولو او اسلامي زده‌کړو په برخه کې زياته پانګونه وشي، او حکومت بايد د خبرو اترو پر مهال د جنګياليو د امنيت ډاډ ورکړي او له خبرو وروسته هغوی ته د ښه ژوند شرايط برابر کړي[51].

ځينو د دې له امله د سولې په ملي مشورتي جرګه نيوکې وکړې، چې ګواکي ګډونوال يې د حکومت له خوا ټاکل شوي وو او د افغانستان د خلکو سم استازيتوب يې نه کاوه[52]. نور بيا په دې اند وو، چې د ولسمشر له خوا په جرمونو او فساد ککړ نوماند شوي کسان، د شوروي خلاف جهاد دورې پخواني جګړه ماران په دغه جرګه کې برلاسي وو[53]. د جوړښت پر موضوعاتو سربېره د افغانانو ترمنځ دا خبره هم کېدله چې دغه جرګه د هغې پروسې د ټينګار او تاييد لپاره وه چې له مخکې پيل شوې وه.

[47] «ملي مقرره د سولې د مشورتي جرګې په پايله کې رامنځته شوه» د سولې عالي شورا، د ۲۰۱۰ کال د جون ۴ مه نېټه http://www.hpc.org.af/english/index.php?____option=com_content&view=article&id=28&Itemid=12&option=com_content

[48] ان کريستين اوټو، «افغانستان: د عدالت او پخلاينې په برخه کې پرمختګونه» د ملکي او پوځي چارو مرکز، د ۲۰۱۰ کال د جون د مياشتې ۱۰ مه نېټه .http://www.operationspaix.net/DATA/DOCUMENT/6346~v~Afghanistan__Developments_in_Justice___Reconciliation__Peace_Jirga_on_Reconciliation_May_2010.pdf

[49] *Ibid*

[50] مريم صافي، «د افغانستان د سولې پروسه: ايا موږ په سمه لار روان يو؟» ډيپلوماتيکه برخه، د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ ۲۴ مه نېټه، http://www.diplomaticourier.com/news/regions/central-asia/386-the-afghan-peace-process-are-we-on-the-right-path.

[51] *Ibid*

[52] *Ibid*

[53] کارولين وادامز، «د افغانستان د سولې ډکه جرګه»، پارن پاليسي، د ۲۰۱۰ کال د جون ۴ مه نېټه، http://southasia.foreignpolicy.com/posts/2010/06/04/afghanistans_fluffy_peace_jirga

## 2. جوړښت او مالي سرچينې

د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام مشري د سولې عالي شورا او اداره يې د سولې د عالي شورا دارالانشا کوي، چې پنځه کلن مسووليت لري او دغه مسووليت د ۲۰۱۵ زېږديز کال په ډسامبر کې پای ته رسيږي. د سولې عالي شورا دارالانشا له ۱۱ نورو وزارتونو[54] او د سيمه ييزو ارګانونو له خپلواکې ادارې سره په همکارۍ دغه پروګرام اداره کوي، او د سولې عالي شورا ته تخنيکي ملاتړ برابروي.

د سولې عالي شورا له طالبانو اونورو وسله والو مخالفو ډلو سره د ملي پخلاينې د پروسې څارنه کوي، سياسي او ستراتيژيکه رهبري کوي، د ټولو افغانانو اندونه راټولوي او د هغوی استازيتوب کوي، او د افغانستان ولسمشر ته چې په پروګرام کې اجرايوي واک لري، د سولې د پروسې په اړه مشورې ورکوي. د سولې عالي شورا له ۷۰ غړو جوړه شوې ده، چې غړي يې د ولسمشر د فرمان له مخې ټاکل کيږي، دغه شورا عمومي اسمبله، اجرايوي برخه، ځانګړې کمېټې، او دارالانشا لري[55]. د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام د اسنادو له مخې، د سولې په عالي شورا کې بايد د پارلمان د دواړو جرګو د استازو په ګډون دولتي او نادولتي فعالين، ښځې او لږکي، پوځي، ملکي او مخور وګړي برخه ولري. د سولې د عالي شورا په جوړښت کې شته او مهمو پخلا شوو کسانو ته په دې شرط سره ځای ورکړل شوی چې د افغانستان قوانين مني[56].

د سولې ولايتي کمېټې په ولايتي کچه د سولې د عالي شورا ځانګې جوړوي چې د والي له خوا ټاکل کيږي او له ۲۵ تر ۳۰ پورې غړي لري، له دغو غړو څخه يوازې دوه يې بايد ښځې وي. ټاکل شوې وه، چې د سولې د ولايتي کمېټو غړي به د ولايتي شوراګانو د غړو، اړوندو رياستونو، ديني مشرانو، نامتو قومي او د مدني ټولنې د څېرو، او د ولايتي امنيتي ارګانونو (ملي اردو، ملي پوليسو او ملي امنيت) د چارواکو له منځه ټاکل کيږي. د سولې ولايتي کمېټې بايد د خپلو اړيکو په کارولو سره د جنګياليو ډلو ته د سياسي او ټولنيزې پرمختيا هڅې ورسوي، او له جګړې د راګرځولو لپاره خبرې اترې وکړي. واليان بايد د ولايت د امنيتي او پرمختيايي رياستونو له لارې د پخلاينې د ملاتړ لپاره د امنيتي او پرمختيايي فعاليتونو مشري وکړي[57]. د ولايتي دارالانشاګانو ټيمونه په ولايتي کچه د ګډې دارالانشا ځانګې جوړوي او دنده يې د اداري په برخه کې د ملاتړ برابرول او په ولايتونو کې له اړوندو وزارتونو، واليانو، استازو (لکه د ولسوالۍ پرمختيايي شوراګانې او ټولنيزې پرمختيايي شوراګانې) او مدني ټولنې له ادارو سره د پخلاينې د فعاليتونو همغږي کول دي.

---

[54] د دفاع وزارت، د کورنيو چارو وزارت، د ملي امنيت رياست، د حج او اوقافو وزارت، د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت، د کرهنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت، د پوهنې وزارت، د ماليې وزارت، د کار،ټولنيزو چارو، شهيدانو او معيوبينو وزارت، د فوايد عامې وزارت، د کليو د پراختيا وزارت.

[55] «د سولې د عالي شورا د داخلي دندو لومړني اصول»، د افغانستان اسلامي جمهوريت، د سولې د عالي شورا دارالانشا، د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر مياشت. https://ronna.apan.org/FRIC/APRP%20Policy%20Documents%20Structures%20and%20SOPs/The%20High%20Peace%20Council%20ToRs.pdf

[56] د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د بېرته ستنېدو د پروګرام اسناد، «د ملي امنيت شورا، د ۲۰۱۰ کال د جولای مياشت. https://ronna.apan.org/FRIC/APRP%20Policy%20Documents%20Structures%20and%20SOPs/APRP%20Program%20Document%20English.pdf. (د سولې د عالي شورا ۱۲ غړي د طالبانو د پخواني رژيم «۱۹۹۶ – ۲۰۰۱» چارواکي دي، خو په شورا کې هيڅ پخلا شوی کس هم نشته).

[57] د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د بېرته ستنېدو د پروګرام اسناد

د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام د سولې او پخلاینې د وجهي صندوق له خوا تمویلیږي چې د ۲۰۱۰ کال په جنورۍ میاشت کې د لندن د کنفرانس پر مهال جوړ شو. پیسې اړوندو وزارتونو، ولایتي، د ولسوالیو او د ټولنو حکومتي جوړښتونو او د مدني ټولنې ډلو ته ورکول کیږي. پیسې د تطبیقي پلان له منظورۍ او د دارالانشا د رییس له خوا د بودیجې له ورکولو وروسته ورکول کیږي، او بودیجه بیا د پیسو د لګولو په موخه د مالي څارکمېټې ته ورکول کیږي[58]. د مالي څارکمېټه د تمویلوونکو د پیسو په اړه د روڼتیا او حساب ورکولو د تضمینولو مسوولیت لري[59]. د سولې او پخلاینې د امانتي صندوق د پیسو په تړاو د ټولو پرېکړو مسوولیت د مالي څارکمېټه لري، او دغه کمیټه باید لږ تر لږه په هره ربع کې یوه ناسته جوړه کړي[60]. دغه وجهي صندوق درې وینډوګانې یا برخې لري. د الف وینډو (Window A) پیسې د مالیې وزارت ځانګړي حساب او د افغانستان د بیارغونې امانتي صندوق ته ځي. د ب وینډو (Window B) پیسې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام له لارې لګول کیږي. ج وینډو (Window C) د یو خصوصي ارګان له خوا اداره کیږي او د پروګرام لپاره پیسې د افغانستان مرکزي بانک، یا سوداګریزو بانکونو یا نورو ادارو ته ورکول کیږي[61]. د سولې او بیارغونې د وجهي صندوق تمویلوونکي ډنمارک، جرمني، ایټالیا، جاپان، هالنډ، سوېلي کوریا او هسپانیا دي[62]. د امریکا متحده ایالات د نړیوال بانک له لارې د ټولنې د رغولو د هڅو په ډول د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو له پروګرام څخه ملاتړ کوي[63].

## 3. موخې، اهداف او ستنې

د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام موخه دا ده چې:

> د یوې سیاسي تګلارې په وسیله سوله راولي. دغه پروګرام به سیمه ییزه او نړیواله همکاري رامنځته کړي، د سولې لپاره به سیاسي او قضایي شرایط برابر کړي، او د مخالفینو هغه جنګیالي او قوماندانان وهڅوي چې مخکې له وسله والو مخالفینو او سخت دریځو ډلو سره یو ځای وو، ترڅو له تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه لاس واخلي، د افغانستان د قوانینو په رڼا کې ژوند وکړي، او د سولې او پخلاینې له یوې رغنده پروسې سره یو ځای شي[64].

د دغې موخې په لور د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام موخې په لاندې ډول دي: له افغانانو، جنګیالیو، او ټولنو سره خبرې اترې او د باور رامنځته کول؛ د سولې او پخلاینې د رامنځته کولو لپاره د نړیوالو، سیمه‌ییزو، ملي او محلي سیاسي او قضایي شرایطو برابرول؛ د ارزونې، له جګړې راګرځولو، بیارغونې، سولې او د شخړو د حل، او مشرتابه په برخو کې د حکومت او ناحکومتي برخو د وړتیا لوړول؛ هم د ټولنو او هم د

---

[58] Ibid

[59] د مالي څار کمیټه د مالیې له وزیر، د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام له مشر، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ له وزیر او د تمویلوونکو له دوو استازو څخه جوړه شوې ده.

[60] پر دې سربیره، د مالیې وزارت په همدې وزارت کې د مالي څار کمیټې د ملاتړ لپاره د مالي څار کمیټې یو سکرتریت هم رامنځته کړی دی.

[61] د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د بېرته ستنېدو د پروګرام اسناد

[62] د افغانستان د سولې او پخلاینې پروګرام، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام، ۲۰۱۵ http://www.af.undp.org/content/afghanistan/en/home/operations/projects/crisis_prevention_and_recovery/aprp.html

[63] د متحده ایالاتو کانګریس ته رپوټ، «سیګار» د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ ۳۰ مه نیټه http://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2014-01-30qr-section3-governance.pdf.

[64] د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د بېرته ستنېدو د پروګرام اسناد

هغو خلکو لپاره چې د سولې له پروسې سره یوځای کیږي، د سیمه ییز امنیت او د خوځښت د ازادۍ تضمینول؛ له جګړو څخه د سولې لوري ته د ټولنو د هڅولو او د خدماتو، کاروبار او عدالت د برابرولو له لارې د ټولو افغانانو لپاره د سولې ټینګول[65].

د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام د دغو موخو د ملاتړ لپاره درې ستنې په ګوته کوي: امنیت؛ حکومتوالي، قانون، او بشري حقونه؛ ټولنیز او اقتصادي پرمختګ. د امنیت په برخه کې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو او د ناټو ځواکونو له لارې هغوکلیو او ولسوالیو ته د امنیت برابرول شامل دي، چې د سولې او پخلاینې په پروګرام کې ګډون کوي. د حکومتوالۍ، قانون او بشري حقونو دویمه برخه د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام  په پروسه کې د روڼتیا رامنځته کولو او د افغانستان له اساسي قانون سره د برابروالي او د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې د افغانستان د ټولنیزې پراختیا له پروګرام او د ولسوالیو د پراختیا له پروګرام او د سولې د عالي شورا د ټولنیزې پراختیا له پلان سره د همغږۍ رامنځته کولو په برخه کې ډاډ رامنځته کوي. د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ برخه بیا د ملي پیوستون د پروګرام د یوې برخې په ډول د ټولنو د بیارغونې یو ملي پروګرام رامنځته کوي، او د کلیو د پراختیا او بیارغاونې له وزارت سره د سیمه ییزې لاسرسۍ په پروګرام کې نوره مرسته کوي[66].

## 4. د پلي کولو ستراتیژي

د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام د سولې او پخلاینې لپاره یوه درې پړاویزه پروسه رامنځته کوي. ټاکل شوې وه، چې د اړوندو وزارتونو په مرسته د یو لړ پروګرامونو د پلي کېدو له لارې به له دغې درې پړاویزه پروسې او په ځانګړي ډول له دریېیم پړاو څخه ملاتړ وشي. چې په دغه برخه کې د ASOP، د والیانو لپاره د فعالیت پر بنسټ پیسو، او د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې له خوا د افغانستان د ملي ټیکاو د پروګرام او همدارنګه دکلیو د پراختیا او بیارغاونې وزارت د ملي پیوستون له پروګرام سره همغږي هم راځي.
په لومړي پړاو کې (ټولنیزه پراختیا، باور جوړونه او خبرې) ولایتي او د ولسوالیو مشران باید ځانونه هغو خلکو او ټولنو ته ورسوي چې د سولې له پروګرام سره د یو ځای کېدو هوډ لري او د حکومت، ټولنو، قربانیانو او مخکېنیو جنګیالیو ترمنځ د باور رامنځته کولو فعالیتونو، خبرو او د ناخوښۍ له منځه وړلو ته لاره هواره کړي. په دغه پړاو کې همدارنګه په ملي، ولایتي او د ولسوالیوکچه د لومړیتوب په سیموکې د ارزونې او سروې ګانو، ستراتیژیکې خبرې اترې، څارنې او ارزونې، د شخړو او ناخوښیو د حل او د بشري حقونو د څارنې په برخوکې د سولې رامنځته کولو د وړتیا لوړولو لپاره تخنیکي او عملیاتي مرسته هم شامله وه[67]. په لومړي پړاو کې د حکومتي ادارو ، ولایتي حکومتوالۍ او د پراختیا دکار لپاره د سولې د فضا جوړونې د وړتیا پرمختګ، خبرې اترې او د ناخوښۍ له منځه وړل شامل دي. دغه ناخوښۍ په عمومي ډول د جنګیالیو او حکومتي ادارو یا سیمه ییزو قوماندانانو، مشرانو یا

*Ibid* [65]
*Ibid* [66]
*Ibid* [67]

قومي ډلو ترمنځ پيدا شوې وې[68]. د لومړي پړاو بنسټيزه برخه د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام د ملي ستراتيژيکو اړيکو جوړولو پلان و، چې موخه يې د ملاتړ لپاره د ټولنو خوځول او د پخلاينې لپاره د جنګياليو او مخالفينو هڅول وو. د دغه کار لپاره د سولې د دارلانشا د رييس په دفترکې د مکالماتو يو دفتر جوړ شو، ترڅو پيغامونه او د افغانستان د سولې او سولهييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام  د رسنيو يوکمپاين همغږی کړي. په دغه برخه کې هڅونه، خبرې اترې او اړيکې جوړول، پخلاينه او وده، او عامه خبرې اترې شاملې وې.

په دويم پړاو کې (له جګړې راګرځول) به هغه خلک چې د سولې له پروګرام سره يو ځای کېدل د ارزونې، بايوميټيريک، د وسلو د ثبت او راټولولو او پخلاينې په ګډون د يوې ټولنيزې او سياسي پروسې له لارې له جګړې راګرځول کېدل. په دغه برخه کې همداراز، بېړنۍ مرسته (د درېيو مياشتو لپاره په مياشت کې ۱۲۰ امريکايي ډالر)، د وسلو مدېريت او د ټولنې د امنيت فعاليتونه شامل دي. په هر حال سره، که چيرې جنګيالي په ناامنو سيموکې ژوند کوي او د نورو جنګياليو له خوا له خطر سره مخ وي نو اجازه لري چې خپلې وسلې له ځان سره وساتي[69]. د ۲۰۰۸ زيږديز کال د بښنې د قانون له مخې، کله چې يو وګړی په رسمي ډول هوکړه وکړي، چې د افغانستان د قوانينو او اساسي قانون په رڼا کې به ژوندکوي، او له تاوتريخوالي او ترهګرۍ لاس واخلي بيا نو د سياسي بښنې حق لري. کله چې يو مخکېنی جنګيالی له جګړې راوګرځي، د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو په پروګرام کې ثبتيږي او يو پېژندکارت تر لاسه کوي، چې په مرسته يې په ازادۍ سره ګرځېدلی شي او د خپلو پخوانيوکړنو له امله له بندي کېدو څخه ژغورل کيږي.

په درېيم پړاو (د سولې ټينګښت) کې به، د ټولنو، ولسواليو او ولايتونو د مرستې لپاره يوه معياري ارزونه وشي، ترڅو پرېکړه وشي، چې د دوی لپاره د سولې د دارلانشا د همکارو وزارتونو د ملي پروګرامونو څخه کوم يې وټاکل شي. په درېيم پړاوکې ديني، د سواد او مسلکي زده کړې، د ټولنې رغونه، دکرنې پروګرام، او قوه کار او د افغانستان په ملي امنيتي ځواکونو کې ګډون شامل دي[70]. د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو په پروګرام کې يوه پرمختيايي برخه ده، چې د ټولنې د رغونې پروژو د پلان جوړونې او پلي کولو د مشرۍ مسووليت لري[71].

## 5. سياسي اړيکی نيول

د لوړې کچې توسعې او خبرو پروسه په پوره ډول تر ۲۰۱۲ کال پورې کله چې د سولې عالي شورا د ۲۰۱۵ کال لپاره د سولې د پروسې نقشه جوړه کړه، پلې نه شوه. په دغه نقشه کې دا هم راغلي وو، چې طالبان او نورې وسله والې ډلې بايد د سولې په خبروکې برخه واخلي او دوی بايد سياسي او د اساسي قانون پروسې ته راجذب شي، د سيمه ييزو اړيکو لپاره موازنې برابرې شي، او په ځانګړي ډول له پاکستان سره امنيتي اړيکي ښې شي، اوکله چې د ۲۰۱۵ کال په پای کې نړيوال ځواکونه په بشپړ ډول افغانستان پرېږدي د سولې د پروسې لپاره يو مهالوېش جوړ شي[72].

---

68 د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د بېرته ستنېدو د پروګرام د پرمختګ برخه، دسولې عالي شورا، ۲۰۱۱ ,http://www.hpc.org.af/english/index.php?option=com_content&view=article&id=90&Itemid=49

69 *Ibid*

70 *Ibid*

71 د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام پرمختيايي برخه، د سولې عالي شورا، ۲۰۱۱

72 «د ۲۰۱۵ کال لپاره د سولې د پروسې نقشه»، د سولې عالي شورا، د ۲۰۱۲ کال د نومبر مياشت، https://archive.org/stream/539755-saeed-1/539755-saeed-1_djvu.txt.

د لارې په دغه نقشه کې يو ګڼ پړاويزه پروسه شامله ده، چې ډېر ټينګار له پاکستان سره د ښو اړيکو په بيا جوړېدو کوي. لومړی پړاو چې بايد د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې بشپړ شوی وای، د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو په ملکيت د سولې د پروسې له پياوړتيا ملاتړ و، چې پکې له پاکستان او نورو سيمه ييزو او نړيوالو هيوادونو سره امنيتي همکاريو ته اهميت ورکړل شوی و. دويم پړاو چې د ۲۰۱۳ کال تر لومړی نيمې پورې بايد بشپړ شوی وای، د افغانستان او پاکستان اړيکو ته د ځانګړې اهميت ورکولو سره د سيمه ييز او نړيوال باور رامنځته کولو له لارې د سولې د پروسې چټکتيا او د خبرو د لومړي پړاو لپاره زمينه برابرول وو. د ۲۰۱۴ زېږديز کال په لومړۍ نيمايي کې څلورم پړاو د جګړې د سوله ييز حل لپاره د افغان حکومت، طالبانو او نورو مخالفينو ډلو ترمنځ د شوو تړونونو او خبرو پلي کول وو. پنځم پړاو چې بايد په ۲۰۱۵ کال کې بشپړ شوی وای، په افغانستان او سيمه کې د اوږدمهالې سولې او تداوم لپاره د سيمه ييزو او نړيوالې همکارۍ پراختيا وه[73].

د ۲۰۱۵ کال لپاره نقشې باندی ځکه انتقادونه و شول چې يو غير ريښتيني او کوچنی سند وبلل شو. د دغه سند په چمتو کولو کې له مدني ټولنې او افغان وګړو سره مشورې ونه شوې او په دغه پروسه کې د افغان وګړو ګډون له پامه غورځول شوی و او تمرکز يې تر ډېره د لوړې کچې په فعالينو باندې و[74]. که څه هم د ۲۰۱۵ کال له پيل څخه له پاکستان سره د اړيکو ښه کولو او د طالبانو له مشرتابه سره د خبرو کولو لپاره ډېر کارونه وشول، خو لاهم چې د ۲۰۱۶ کال نيمايي دی د دغه سند نور اصول نه دي پلي شوي.

## 6. د ملي يووالي حکومت په دوره کې

د ۲۰۱۴ کال له ټاکنو وروسته ولسمشر اشرف غني د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د بېرته ستنېدو په پروګرام کې د اصلاحاتو راوستلو لپاره د ملي يووالي د حکومت اراده اعلان کړه. د ملي يووالي حکومت په دې باندې ټينګار وکړ چې بايد په سياسي ډول د طالبانو مشرتابه او د هغوی پاکستاني کوربه وو ته ورسيږو. د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام تخنيکي کميټې د دغې موخې لپاره د ۲۰۱۴ کال په نومبر مياشت کې يوه ستراتيژي منظور کړه. که څه هم په دغه ستراتيژۍ کې د تېر وخت د ډېرې توسعې برخه شته خو بدلون پکې دا و، چې په ۲۰۱۵ کال کې له پاکستان سره د خبرو پر مهال د سولې عالي شورا ګوښه شوه او پر ځای يې په څلور اړخيزو خبرو کې د اجرايه رياست، د ملي امنيت شورا، او بهرنيو چارو وزارت په ګډون د ملي يووالي حکومت بېلابېلو برخو ته ځای ورکړل شو، په دغو څلور اړخيزو خبرو کې د افغانستان، پاکستان، متحدو ايالاتو او چين استازو ګډون کاوه[75]. اوسمهال په دغو څلور اړخيزو خبرو کې د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت سياسي مرستيال حکمت خليل کرزی د افغان لوري مشري کوي. په دغه کار سره د سولې د عالي شورا د مشرۍ او د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام د مشرۍ څوکۍ د ۲۰۱۵ کال په بهير کې تشې پاتې شوې او داسې اوازې وې چې دغه پروګرام به په خپله د ۲۰۱۵ کال له ډيسمبر مخکې پای ته ورسيږي. د ۲۰۱۵ کال په مارچ کې کله چې محمد اشرف

[73] *Ibid*

[74] هنا پارتيز-جينينګز او ماري س. هوبر، «په افغانستان کې ښځې، سوله او امنيت: مخ ته تګ ته بيا کتنه»، ۲۰۱۴، د سولې او ډيموکراسۍ د برابرۍ اداره http://www.epd-afg.org/wp-content/uploads/2014/03/WPS-paper.pdf

[75] شاشانک بنګالي او علي محمد لطيفي، «افغان ولسمشر له طالبانو سره پخپله طريقه د سولې غوښتونکی دی»، لاس انجليس ټايمز، د ۲۰۱۵ کال د مارچ ۲۲ مه نېټه، http://www.latimes.com/world/afghanistan-pakistan/la-fg-afghanistan-ghani-us-20150322-story.html

غني واشنګټن ته سفر وکړ د افغانستان او متحدو ایالتونو په یوه ګډه اعلامیه کې راغلل چې د امریکا متحده ایالات به د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د بېرته ستنېدو له پروګرام څخه خپل مالي ملاتړ ته دوام ورکړي، خو په دغه اعلامیه کې د سولې د عالي شورا یادونه نه وه شوې[76].

د ۲۰۱۶ کال په مارچ میاشت کې د ولسمشر په یو فرمان کې د سولې د عالي شورا د غړو شمېر له ۷۳ څخه ۵۰ ته راښکته شو، او د مجاهدینو پخوانۍ مشر پیر سید احمدګیلاني یې د مشر په ډول وټاکل شو. اوس د سولې د عالي شورا اجراییه کمېټه ۱۵ غړي (چې ۳ یې ښځې دي) لري. د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د بېرته ستنېدو د پروګرام د چارواکو په وینا د اپرېل په لومړۍ نېټه د سولې ولایتي کمیټې وځنډول شوې، ځکه پروګرام د ۲۰۱۶ کال د جولای تر پایه پورې تر یوې ارزونې لاندې دی. معلومه نه وه، چې نړیوال مرستندویان به له ۲۰۱۵ کال وروسته هم دا پروګرام تمویل کړي کنه. چې په پایله کې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د بېرته ستنېدو د پروګرام کوچنۍ پروژې چې موخه یې د پخلا شوو جنګیالیو له ټولنو سره مرسته وه، د ۲۰۱۵ کال له لومړۍ ربعې څخه وروسته وځنډول شوې[77].

په داسې حال کې چې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام ارزونه دوام لري، د مارچ په میاشت کې په کابل کې د مدني ټولنې د یوې ناستې پر مهال د سولې د عالي شورا چارواکو وویل چې په څلور اړخیزو خبرو کې به بیا هم د افغانستان پلاوی له طالبانو او سیمه ییزو هېوادونو سره د خبرو مشري وکړي. که جنګیالیو بیا غوښتل چې پرته له شرط څخه خبرې وکړي نو دوی به د سولې له عالي شورا سره خبرې کوي. د مارچ او اپریل په میاشتو کې د سولې عالي شورا د افغانستان د مخالفینو له دویمې لویې ډلې حزب اسلامي سره خبرې روانې کړې دي. د مې تر لومړیو پورې دغو خبرو کومه پایله نه درلوده خو دوام یې درلود.

## 7. پایلې او ننګونې

که څه هم په ۲۰۱۳ زېږدیز کال کې د افغانستان د سولې او سوله‌ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام یوه منځمهالې ارزونه وشوه، خو دغه ارزونه خپره نه شوه او د دغې مطالعې لپاره و نه کتل شوه[78]. د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو په اړه د تمویلوونکو یو جامع رپوټ د استرالیا د حکومت د ارزونې رپوټ دی، چې پکې څرګنده شوې ده، چې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام ښه فعالیت نه کوي؛ د ټولنې د پرمختګ د پروژو په پلي کولو کې یې د بودیجې د کم لګښت او کمزوري مدیریت له امله ډېر ځنډونه په ګوته کړي او وایي د پروژو د پایلو په اړه لږ راپورونه خپرېږي. بېرته جګړې ته د مخه کولو او د پخلا شوو کسانو د ناسم ثبت په اړه هم د برخه والو اندېښنې وې. په ارزونه کې وړاندیز شوی و، چې پخلا شوي کسان باید داسې وروزل شي، چې د اوږدمهالي پخلاینې زمینه برابره کړي[79]. د ځینو څېړنو له مخې، په طالبانو د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د

---

[76] «د متحده ایالاتو او افغانستان ګډه اعلامیه»، سپینه مانۍ، سکرتریت، د ۲۰۱۵ کال د مارچ ۲۴ مه نیټه
https://www.whitehouse.gov/the-press-office/2015/03/24/us-afghanistan-joint-statement

[77] د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د بېرته ستنېدو د پروګرام د ۲۰۱۵ کال د دریمې ربعې د پرمختګ رپوټ، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پرورګرام، ۲۴

[78] دیدي درکسین، «په افغانستان کې د وسله والو ډلو پخلا کول: له تیر څخه زده کړې»، د متحده ایالاتو د سولې انستیتیوټ، د سولې سند ۱۶۸، د ۲۰۱۴ کال د مارچ ۷ مه نیټه،
http://www.usip.org/sites/default/files/PB168-Reintegrating-Armed-Groups-in-Afghanistan.pdf

[79] «د ۲۰۱۲ – ۱۳ کلونو د مرستو پروګرام د فعالیت رپوټ: افغانستان» د استرالیا د حکومت د بهرنیو چارو او سوداګرۍ اداره، ۲۰۱۳

بېرته ستنېدو د پروګرام  او د تحکیم صلح پروګرام اثر په پخوانیو وسله والو ډلو د ډاياګ او بې وسلې کولو او ملکي ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام د (ډي، ډي، آر) د اغېزې په پرتله لږ دی[80].  د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام  د تګلارې او تمرکز په اړه هم بنسټیزه پوښتنه شته ده، په ځانګړې ډول په دې برخه کې چې پروګرام په تېرو درېیو لسیزو کې د جګړو او بې عدالتیو یوې بشپړې کتنې ته نه دی چمتو او یوازې د طالبانو په مشرۍ مخالفت ته پاملرنه کوي.

### *پخلاینه: کمیت او کیفیت*

د ۲۰۱۵ کال د سپټمبر تر ۳۱ مې نیټې پورې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام په ټولیز ډول ۱۰۵۷۸ مخالفین پخلا کړي، د انتقالي مرستې  ۱۰۴۶۱ ټولګې یې وړاندې کړې، ۸۱۰۱ وسلې یې راټولې کړې، او د ټولنو د ۱۹۱۰۰۰ غړو لپاره یې په ۲۴ ولایتونو کې ۱۶۱ کوچنۍ پروژې پلې کړې دي[81]. په داسې حال کې چې دغه شمېرې د سولې د ټینګښت پروګرام د هغو په پرتله دوه برابره زیاتې دي، خو د ۲۰۱۵ کال په لړ کې د پخلاینې کچه کمه شوې ده: په لومړۍ ربعه کې ۴۵۹ مخالفینو وسلې پر ځمکه اېښودې او په درېیمه ربعه کې یوازې ۱۷۴ تنه پخلا شوي. د جون په میاشت کې په ټول هېواد کې یوازې ۱۷ تنه پخلا شوي وو[82].
ان کله چې په افغانستان کې د جګړو موسمي ماهیت ته هم ګورو دغه شمېرې ډېرې لږې دي[83]. په هر حال، د مدني ټولنې غړو چې د دغه رپوټ لپاره یې مرکې کړې دي، د پخلا شووکسانو دکمیت پر ځای یې د وی کیفیت ته اهمیت ورکړی او دا یې څرګنده کړې چې له دغو تر ۱۰۰۰۰ ډېرو پخلا شووکسانو ډېر یې یا په ریښتیني ډول مخالفین نه وو، یا د ټیټې کچې مخالفین وو، چې ځایونه یې بېرته ژر ډک شوي وو او یا هم دوی بېرته جګړې ته مخه کړې وه. همدا ډول نظریه په ۲۰۱۲ کال کې د سولې د روزنیزې او څېړنیزې موسسې په یوه مطالعه کې هم راغلې وه چې پکې ویل شوي وو، تر ۵۰ سلنه زیات پخلا شوي کسان په حقیقت کې غیر جنګي مجرمین وو[84].  په نورو رپوټونو کې څرګنده شوې ده، چې د پخلا شووکسانو یوه زیاته برخه یې د ازادو وسله والو ډلو غړي دي، چې ښایي د طالبانو له ډلې سره به هېڅ اړیکه هم ونه لري[85]. دا رپوټ په دغه حقیقت ولاړ دی، چې تر ۲۰۱۱ کال پورې ۸۵ سلنه پخلاینه په هغو ولایتونو کې شوې وه، چې د مخالفینو جګړې پکې لږې وې[86]. د هغو خلکو په منځ کې چې په لومړیو کې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو له پروګرام سره یو ځای شول د ۱۰۰ مخالفینو هغه ډله وه چې ځان یې له حزب اسلامي سره تړلی باله او پخپله سیمه کې یې طالبانو ته له یوې جګړې بايللو وروسته له پروګرام سره یو

http://www.dfat.gov.au/about-us/publications/Documents/afghanistan-appr-2012-13.pdf.
80 80 دیدي درکسین، «په افغانستان کې د وسله والو ډلو پخلا کول »،د ۲۰۱۴ کال د مارچ میاشت
81 د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د بېرته ستنېدو د پروګرام د ۲۰۱۵ کال د درېمې ربعې د پرمختګ رپوټ، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پرورګرام، ۲۴
82 د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د بېرته ستنېدو د پروګرام د ۲۰۱۵ کال د درېمې ربعې د پرمختګ رپوټ، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پرورګرام، ۶ او د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د بېرته ستنېدو د پروګرام د ۲۰۱۵ کال د دویمې ربعې د پرمختګ رپوټ، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پرورګرام، ۱۶
83 د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د پرمختګ د رپوټ له مخې: د ۲۰۱۱ کال درېمه ربعه، ۷۹۹ پخلا شوي کسان، د ۲۰۱۲ کال درېمه ربعه ۵۳۸ پخلا شوي کسان، د ۲۰۱۴ کال درېمه ربعه ۵۶۳ پخلا شوي کسان، کلنۍ شمېرې هم کمې شوې دي، ۲۰۱۱ (۳۱۹۴)، ۲۰۱۲ (۲۹۹۹)، ۲۰۱۳ (۱۵۰۳)، ۲۰۱۴ (۱۸۱۶)، ۲۰۱۵ (اټکل شوي ۱۱۴۵).
84 «ناوریدل شوي غږونه: د سولې د پروسې په اړه د افغانانو اندونه» د سولې د زده کړو او مطالعې اداره، د ۲۰۱۲ کال د مارچ میاشت، http://www.ptro.org.af/site_files/13979724091.pdf۳۶
85 «د افغانستان د پخلاینې د پروګرام کتنه» ایرین اسیا، د ۲۰۱۳ کال د جون ۴ مه نیټه http://www.irinnews.org/report/98154/afghan-reintegration-scheme-in-the-spotlight
86 دیدي دیرکسین، «اغیز یا ترکیب؟»، ۲۰۱۱

ځای شول، او د ۱۰۰ – ۱۶۰ کسانو یوه بله د دولت پلوې ډله هم وه، چې د افغانستان په سیمه ییزو پولیسو کې د جذبېدو لپاره له پروګرام سره یو ځای شول[87]. د یوې څېړنې له مخې چې پایلې له دغه رپوټ سره ورته دي، د دغه کار لامل د لوړې کچې خبرو په ګډون د یوې سیاسي پالیسۍ نه شتون دی، چې د منځنۍ کچې قوماندانانو (او د دوی کسانو) ته لاره هواره شي ترڅو پرته له دغې ویرې له پروګرام سره یو ځای شي چې له یوې خوا به د مخالفینو له خوا په نښه کیږي او له بلې خوا به د حکومت (یا د حکومت د ملګرو) امنیتي ځواکونو له خوا په نښه کیږي[88].

د مدني ټولنې د یو فعال په اند چې نوموړی د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو په فعالیتونو کې بوخت و، «ډېری مخالفین د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام یوه ټوکه بولي: دوی له پروسې سره یوځای کیږي، یو بېکاره ټوپک سپاري، یو څه پیسې تر لاسه کوي، د یو څه وخت لپاره ارام وي او بیا بېرته له مخالفینو سره یوځای کیږي»[89]. د متحدو ایالتونو د سولې د انسټیټیوټ او د ناروې د سولې راوستلو د سرچینو د مرکز د رپوټونو له مخې، ډېری پخلا شوي کسان د افغانستان په سیمه ییزو پولیسو کې ګومارل شوي دي، چې تر ډېره یې د سیمه ییزو ملېشو پیاوړتیا ته لاره هواره کړې ده، او د حساب ورکولو د نه شتون په پایله کې یې یوه بله ستونزه جوړه کړې ده، چې دا په خپل وار سره یو لړ داسې ناخوښۍ رامنځته کوي چې د طالبانو شته جګړې ته لاره هواروي[90]. خلک دې پروسې ته هم مخالفینو ته د مکافاتو ورکولو او د دولت د رسمي مېکانېزمونو له لارې جنګیالیو او سیمه ییزو ملېشو ته د قانونیت ورکولو په سترګه ګوري[91].

### *د سولې د عالي شورا او د سولې د ولایتي شوراګانو غړیتوب او مسولیت*

په ۲۰۱۰ کال کې د سولې د عالي شورا له ۷۰ ټاکل شویو غړیو څخه ۵۳ تنه یې له هغو سیاسي ډلو سره تړلي و چې د ۱۹۸۰ – ۹۰ کلونو په کورنۍ جګړو کې ښکیلې وې، ۱۳ یې له حزب اسلامي، ۸ له جمعیت اسلامي / شورای نظار، ۱۲ د طالبانو د رژیم د ۱۹۹۰ موکلونو له حکومت سره تړلي وو[92]. مدني ټولنه نیوکې کوي چې د سولې د عالي شورا ډېری غړي د بشري حقونو په سرغړونو تورن دي او د سولې راوستلو په برخه کې هیڅ پایلې نه لري[93].

په ورته ډول ډېری افغانان چې د سولې د عالي شورا د غړو د پوښتنې وړ مخینې یا وړتیا نه لرلو یا فساد او شخصي ګټو په اړه ډاډمن ندي، د سولې عالي شورا او د سولې ولایتي شوراګانو ته د شک په سترګه ګوري[94]. په ۲۰۱۱ کال کې د مدني ټولنې ډلو په یوه عامه بیانیه کې وویل، چې د سولې د عالي شورا غړي «د سولې په پرتله په جګړه کې ښه

---

[87] Ibid.

[88] دیدي دیرکسین، «په افغانستان کې د وسله والو ډلو پخلا کول»، د ۲۰۱۴ کال د مارچ میاشت،

[89] د افغانانو خبرې، ۲۰۱۴.

[90] دیدي دیرکسین، «اغیز یا ترکیب؟» د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر میاشت؛ او ریمي کلاویټ، «ناروې په افغانستان کې: له ۲۰۱۴ وروسته د نوې پالیسۍ فرصتونه»، د ناروې د سولې راوستلو د منابعو مرکز، د کارپوهانو ارزونه، د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر میاشت. http://www.peacebuilding.no/var/ezflow_site/storage/original/application/58ba9792cc5515cbb4c30f4bf6d31f1d.pdf.

[91] د افغانانو خبرې، ۲۰۱۴.

[92] تامس روټینګ، «د سولې په عالي شورا کې مخکیني طالبان»، د افغانستان د څېړونکو شبکه، ۲۰۱۰ http://www.afghanistan-analysts.org/wp-content/uploads/downloads/2012/10/20101020TRuttig_ExT_in_HPC.pdf

[93] ایمیلي وینټربوتام، «په افغانستان کې د جګړې د زیانونو علاجول»، د افغانستان د څېړنې او ارزونې مرکز، د ۲۰۱۲ کال د جنورۍ میاشت، http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/1201E-Healing%20the%20Legacies%20of%20Conflict%20in%20Afghanistan%20SP%202011.pdf.

[94] هنا پارتیز-جینینګز او ماري س. هوبر، «په افغانستان کې ښځې، سوله او امنیت »، د سولې او ډیموکراسۍ د برابرۍ اداره، د ۲۰۱۴ کال د اګست میاشت

تجربه لري». ان د سولې د عالي شورا دګډې دارلانشا مشر هم ومنله چې د سولې په پروسه کې داسې خلک هم شته چې په مخکېنیو تاوتریخوالوکې ښکېل وو[95]. د ۲۰۱۴ کال په یو رپوټ کې راغلي چې عام خلک لاهم فکرکوي چې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام د داسې کسانو له خوا پر مخ بېول کیږي، چې خپلو شخصي ګټو ته پر اساسي قانون ترجېح ورکوي[96].

فساد د سولې په ولایتي کمېټو کې هم شته. په فاریاب کې د یو پخلا شوي قوماندان له خولې څخه د یو رپوټ پر بنسټ، د سولې ولایتي کمیټې له دغه قوماندان غوښتي وو، چې رسنیو ته خپلې وسلې تر هغه څه کمې وښیي چې ده په ریښتیني ډول سپارلې وې، ترڅو د کمیټې غړي دغه وسلې د ځان لپاره وساتي[97]. په نورو رپوټونو کې په ډاګه شوې، چې د ټولنې مشران د سولې ولایتي دارالانشاګانو او د سولې ولایتي کمیټو ته په بشپړ ډول د داسې سیاسي جوړښتونو په سترګه ګوري چې د جګړې یا منځګړیتوب په تحلیل کې هیڅ مهارت نه لري، دا یوه داسې مفکوره ده چې د دغو جوړښتونو په اړه د ټولنو د ناسم پوهاوي لامل شوې ده او دوی فکرکوي چې د سولې ولایتي شوراګانې د منځګړیتوب دنده نه لري[98]. د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام د څارنې د استازي د موندنو له مخې، د سولې د ولایتي دارالانشاګانو او د سولې د ولایتي کمیټو ځینو مشرانو د ټولنو پرمختیایي پروژې د خپلو شخصي ګټو او د ټولنې د ځانګړو برخو دګټې لپاره کارولې دي، چې په پایله کې یې سیمه ییزې شخړې ډېرې شوې دي او د سولې د ولایتي کمیټو او د سولې د ولایتي دارالانشاګانو د شهرت د لا زیات خرابیدو لامل شوي دي[99].

په اساسي ډول، د سولې د عالي شورا او د سولې د ولایتي کمیټو د دندو په اړه سم معلومات نشته. دا هیڅکله هم څرګنده نشوه چې ایا د سولې عالي شورا د دې لپاره جوړه شوې چې د بې طرفه منځګړي په ډول جګړه کوونکې ډلې د خبرو میز ته کینوي یاکله چې رسمي خبرې پیلیږي نو دغه شورا به د حکومت په استازیتوب په خبروکې ګډون کوي[100]. د همدغه ناڅرګندې دندې په پایله کې، د سولې د عالي شورا غړو په تیرو پنځوکلونوکې دواړه دندې ترسره کړې دي.

### *ظرفیت او وړتیا*

د وړتیا موضوع ګانو د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام په پلي کېدوکې اوږده ځنډونه رامنځته کړي دي. د بانکي حسابونو په څېر سیمه ییزې زیربناوو په جوړولوکې د سولې ولایتي کمېټو او د هغوی ملاتړو ډلو تر ټاکل شوي وخت زیات وخت لګولی دی. د ۲۰۱۱ زیږدیز کال تر مې میاشتې پورې، سره له دې چې

---

95 پاټریشیا ګراسمن، «د افغانستان د سولې عالي شورا نده توانیدلط د مدني ټولنې غړو ته برخه ورکړي»، د متحده ایالاتو د سولې انسټیټیوټ، د سولې سند ۷۴، د ۲۰۱۱ کال د جنوری ۱۰ مه نیټه، http://www.usip.org/sites/default/files/PB74-Afghan_High_Peace_Council_Fails_to_Reflect_Afghan_Civil_Society.pdf

96 د افغانانو خبرې، ۲۰۱۴

97 *Ibid*

98 کریم مرچانټ او غلام رسول رسولي، «افغانستانة سیمه ییزه حکومتوالي، ملي پخلاینه، او د ټولنې پخلاینه»، ګڼه ۲۵، ۸۲ – ۸۵، http://www.c-r.org/sites/default/files/Accord25_Afghanistan.pdf

99 «د افغانستان د سولې او پخلاینې د پروګرام د پروژې د پرمختګ کلنی رپوټ»، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام، ۲۰۱۴

100 میچلي بارسا، «څنګه د افغانستان د سولې ماته شوې پروسه جوړه کړو»، پارن پالیسي، د ۲۰۱۵ کال د جولای ۹ مه نیټه https://foreignpolicy.com/2015/07/09/how-to-fix-afghanistans-broken-peace-process/

حکومت د پخلاینې لپاره د بهلو شوو پیسو ۱۳۳ میلیونه امریکایي ډالر تر لاسه کړي وو، خو دوی یوازې تر ۸ میلیونه امریکایي ډالرو لږ لګولي وو[101]. تر ۲۰۱۳ کال پورې پروګرام ته د بهلو شوو ۱۷۶ میلیونه امریکایي ډالرو څخه یوازې ۶۳ میلیونه امریکایي ډالر لګول شوي وو[102]. په ۲۰۱۴ زیږدیز کال کې د مالي څار د کمېټې یوازې دوه ناستې برابرې شوې وې په داسې حال کې چې په هره ربعه کې یوه ناسته اړینه ده، او د مالي څار د کمېټې وروستۍ ناسته هم جوړه نه شوه خو یو مهم لامل یې په هغه وخت کې د ستونزمن سیاسي بدلون دوام و. په ۲۰۱۴ کال کې په ټولو برخو کې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام د بودیجې د لګښت کچه ۷۵ سلنه وه[103]، او کله چې دغه سلنه په ۱۳۹۳ (۲۰۱۴) د افغان حکومت د عمومي عملیاتي بودیجې د لګښت له ۶۶ سلنې او د پرمختیایي بودیجې له ۳۵ سلنې سره پرتله کوو، بیا هم دا یوه ښه سلنه ده[104].

که څه هم د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام په ۲۰۱۰ کال کې پیل شو خو د ۲۰۱۱ کال تر مې پورې لاهم د مهمو جنګیالیو د ثبت او پخلاینې لپاره یوه معیاري عملیاتي کړنلاره نه وه او ایساف لاهم د پخلاینې د ثبت او څارنې د ډیټابیس په جوړولو بوخت و. که څه هم دغه عملیاتي کړنلاره او د ثبتولو کړنلارې د ۲۰۱۱ کال په نیمایي کې معرفي شوې، خو لاهم د ثبت د پروسې د جدیت او روښتیا په اړه اندیښنې وې ترڅو د بشري حقونو څرګندو سرغړوونکو ته پکې ځای ورنه کړل شي. د ۲۰۱۱ کال په جولای میاشت کې د سولې عالي شورا د ثبت د پروسې په اړه د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ / یوناما یو لړ وړاندیزونه ومنل[105]. د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ په میاشت کې یوناما ولیدل چې د ثبت پروسه لاهم ځینې وختونه د ثبت پروسه د پروګرام د پخلاینې د برخې د لومړي پړاو پر ځای په وروستیو پړاوونو کې نه پلې کیده، او د ۲۰۰۸ کال د بښنې د قانون او سیاسي هوډ د نشتون له امله هغه کسان چې پخلا کیږي په بشپړ ډول د بشري حقونو د سرغړونو لپاره نه ارزول کیږي[106]. که څه هم داسې خبرونه شته چې د پخلاینې د ثبت او څارنې ډیټابس د ۲۰۱۵ کال تر نیمایي پورې فعال و، خو په دې اړه لږ معلومات شته چې څه په دغه ډیټابیس کې شامل دي، څنګه کارول کیږي او څه اغېزناکتوب لري[107].

***پوهاوی***

د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام یو پیاوړی ټکی د پروګرام په اړه د لوړې کچې پوهاوی دی. د ۲۰۱۲ کال په لومړیو کې د PTRO له خوا د افغانستان په ټولو سیمو کې په نمونه ټاکل شوو ولایتونو کې

[101] دیدي دیرکسین، «اغیز یا ترکیب؟» د افغانستان د سولې او پخلاینې د پروګرام په ترڅ کې پخلاینه، د متحده ایالاتو د سولې انسټیټیوټ، د سولې سند ۱۰۶، د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر ۲۲ مه نیټه، http://www.usip.org/sites/default/files/PB%20106.pdf.

[102] «د افغانستان د پخلاینې پروګرام ته کتنه»، ایرین اسیا، د ۲۰۱۳ کال د جون ۴ مه نیټه .http://www.irinnews.org/report/98154/afghan-reintegration-scheme-in-the-spotlight

[103] «د سولې پروګرام د پروژې د پرمختګ کلنی رپوټ»، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام، ۲۰۱۴

[104] ماري س. هوبر، موریټس راډ، او شمسیه نوري، «د افغانستان د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې خپلواکه کتنه»، د سولې او ډیموکراسی د برابرۍ اداره، د ۲۰۱۴ کال د نومبر میاشت، http://www.epd-afg.org/wp-content/uploads/2014/03/1394-Budget-Snapshot_English.pdf

[105] «په نړۍ کې د افغان پناه غوښتونکو د ارزونې لپاره د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمیشنرۍ د شرایطو لاربښوونې» د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنري، د ۲۰۱۳ کال د اګست ۶ مه نیټه، http://www.unhcr.ch/fileadmin/infolegales/1_droit_des_refugies/6_information_sur_payes/6_2_asie/frz_afghanistan_eligibility_guidelines.pdf

[106] «په افغانستان کې د بشري حالت په اړه د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د بشري حقونو رپوټ»، د ملګرو ملتونو عمومي اسمبله، د بشري حقونو کونسل، د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ ۲۸ مه نیټه، http://www.ohchr.org/Documents/Countries/AF/A-HRC-22-37.pdf.

[107] د متحده ایالاتو کانګریس ته رپوټ، سیګار، د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ ۳۰ مه نیټه، http://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2014-01-30qr-section3-governance.pdf.

په يوې ترسره شوې سروې کې څرګنده شوه چې ۷۶ سلنه نارينه وو او ۶۵ سلنه ښځينه وو د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام نوم اورېدلی و او د ولسواليو د مرکزونو د خلکو او د ولسواليو د بانډو د خلکو په ځوابونو کې هم ډېر توپير نه و. پر دې سربيره، په ۲۰۱۳ کال کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام له خوا د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام په اړه په يوه ترسره شوې سروې کې څرګنده شوه چې ډېری افغانانو د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام نوم اوريدلی دی[108]. په ۲۰۱۴ کال کې، د سولې ولايتي کميټو د ټاکنو اړوندو فعاليتونو په ګډون تر ۲۰۰ زيات د پوهاوي فعاليتونه ترسره او ثبت کړي دي[109]. سره له دې چې په ملي کچه د سولې په پروسه کې د ښځو رول کم دی، په ۲۰۱۴ کال کې د سولې د عالي شورا د ښځو کميټې د سولې د عالي شورا له لارې د «سولې او اوربند لپاره د افغان ښځو د غوښتنې» په نامه يو کمپاين پيل کړ. د پارلمان د يوې غړې ګلالۍ نور صافۍ په وينا، ښځې دروازه په دروازه وګرځېدلې او د ښځو ترمنځ يې ناستې برابرې کړې. په سلګونه ښځو په خپله خوښه لاسليکونه وکړل او تر ۳۰۰۰۰۰ زيات لاسليکونه راټول شول ترڅو يوناما، ولسمشر کرزي، د ملګرو ملتونو عمومي منشي بانکي مون او د طالبانو استازو ته وړاندې شي[110].

د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام څخه بهر هم يو شمير هڅې شوې دي لکه د سولې د نوښت په اړه د افغان وګړو خبرې اترې چې د مدني ټولنې د ۱۳ ادارو او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون له خوا تر سره شوې، چې موخه يې د افغان وګړو ترمنځ د سولې او پخلاينې په اړه د پوهاوي د لوړولو له لارې د خلکو پياوړي کول و ترڅو ډاډ رامنځته شي چې په افغانستان کې د دوام لرونکې سولې د راوستلو لپاره د پاليسي جوړوونکو له خوا په ټولو پروسو کې د خلکو قانوني خفګانونه، اندېښنې او غوښتنې اوريدل کيږي، حل کيږي او په پاليسۍ کې ورته برخه ورکول کيږي[111]. زياتې هڅې شوې دي ترڅو د ښځو په منځ کې د سولې د پروسې په اړه پوهاوی زيات شي او د دوی ګډون ته وده ورکړل شي لکه د افغان ښځو د شبکې، سولې د ادارې، او د سولې او ډيموکراسۍ د برابرۍ د ادارې له خوا ورکړل شوې روزنې او ورکشاپونه، دا داسې هڅې وې چې نړيوالې ټولنې يې زيات ملاتړ وکړ.

### د پخلا شوو کسانو امنيت

پخلا شوو کسانو له بېلابېلو سرچينو څخه د ګواښونو په اړه شکايت کړی دی، لکه د سولې له پروسې سره د يو ځای کېدو په اړه د افغان حکومت له خوا ځورونې او ګواښونه، د طالبانو له لوري ګواښونه، او د حکومت پلوه ملېشو لکه د افغانستان سيمه ييزو پوليسو له خوا ګواښونه[112]. د ۲۰۱۱ کال د يوه رپوټ له مخې، که څه هم يو شمېر قوماندان په امنو کورونو کې وو او نور يې بېرته خپلو کليو ته لاړل، خو پروګرام لاهم د دوی د ساتنې لپاره يوه سيستماتيکه لاره نه

---

[108] «د افغانستان د پخلاينې پروګرام ته کتنه»، د سيمه ييزو معلوماتو شبکه، د ۲۰۱۳ کال د جون ۴ مه نيټه..http://www.refworld.org/docid/51b5b1844.html.

[109] «د سولې د پروګرام د ۲۰۱۴ کال د پروژې د پرمختګ کلنۍ رپوټ»، د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام، ۲۰۱۴

[110] «د افغانستان د سولې د شورا د ښځو څانګه د اوربند او سولې غوښتلو لپاره د لاسليکونو راټولولو کمپاين پيل کړ»، يوناما، ۲۰۱۴.http://unama.unmissions.org/Default.aspx?ctl=Details&tabid=12254&mid=15756&ItemID=37691

[111] «د سولې په اړه د افغانانو خبرې: د سولې د يوې شاملې پروسې د بنسټ اېښودل»، د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر مياشت.http://mfa.gov.af/Content/files/People's%20Dialogue%20FINAL%20report.pdf

[112] «د افغانستان د پخلاينې پروګرام ته کتنه»، ايرين اسيا، د ۲۰۱۳ کال د جون ۴ مه نيټه http://www.irinnews.org/report/98154/afghan-reintegration-scheme-in-the-spotlight

لري[113]. د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام د ۲۰۱۴ کال د کلني رپوټ له مخې، دا منل شوې ده چې د پيسو د کموالي او د امنو کورونو د نه شتون له امله، د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام لا هم نه دی توانېدلی د هغو پخلا شوو کسانو ملاتړ وکړي چې نه شي کولای د اوږدې مودې لپاره خپلو کورونو ته ولاړ شي[114].

دا موضوع ډېرې پايلې لري. لومړی دا چې دغه ستونزه د لېوالتيا د کمولو لامل کيږي، ان کله چې جنګيالي د سولې له پروسې سره پيوستون غواړي نو کله چې له ښاري سيمو څخه بهر کيږي د حکومت د ناتوانۍ له امله دوی بايد په خپله د خپلو ځانونود خونديتوب غم وخوري. له همدې امله، ډېری غواړي چې په امنو کورونو کې پاتې شي، چې دغه کورونه د هغو جنګياليو د اړتياوو پوره کولو لپاره هم بسنه نه کوي چې مخکې له پروګرام سره يوځای شوي دي. مخکښې څيړنې په ډاګه کړې ده چې ډېری پخلا شوي کسان غواړي خپلې کورنۍ ښاري سيمو ته يوسي، خو د کاروبار د نه شتون او د ژوند د ډېرو لګښتونو له امله دغه کار نه شي کولای، نو ډېری وخت پخلا شوی کس په ښار کې پاتې کيږي او کورنۍ يې پخپله ټولنه کې پاتې کيږي[115]. وروستي رپوټونه په ډاګه کوي چې ډېری پخلا شوي کسان داسې فکر کوي چې دوی نه ناوړه ګڼل شوي وشوه، ملاتړ يې نه کيږي او له حکومت سره د يو ځای کېدو له امله له ګواښونو سره مخ دي[116]. د دغه رپوټ لپاره له پخلا شوو کسانو سره ترسره شوې مرکه د دغو موندنو تصديق کوي.

### *د پخلا شوو کسانو ملاتړ او د ټولنې رغونه*

د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام د ټولنې د رغونې په برخه کې ځينې لاسته راوړنې لري. له ۲۰۱۲ کال را په دېخوا د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت د مسلکي زده کړو پروژو په ۲۰ ولايتونو کې ۵۴۰۰ خلکو (۱۹۶۵ پخلا شوي کسان، ۲۲۰۰ د ټولنې نارينه غړي، ۱۲۱۵ د ټولنې ښځينه غړي) ته مسلکي زده کړې ورکړې دي. په هر حال سره، ډېری دغه پروژې په ۲۰۱۳ کال کې بشپړې شوې؛ په ۲۰۱۴ کال کې ډېره پاملرنه د دغو پروژو د اغيز معلومولو لپاره وشوه، او په ۲۰۱۵ کال کې د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام د نامعلومې راتلونکې له امله د پروژو پلي کول ودرول شول. سروې په ۱۲ ولايتونو کې له ۳۰ سلنه روزل شوو کسانو سره ترسره شوه، چې له دوی څخه ۷۵ سلنه يې په کار بوخت وو، که څه د روزنو او کاروبار ترمنځ اړيکه نه وه کنټرول شوې[117].

د کرنې د ساتنې پلان شوي پروګرام لږ اغيز درلود چې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام له خوا يې د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام په رپوټ کې يادونه نه ده شوې. دا په دې معنا چې روښانه نه ده، د کرنې دغه پروګرام ترکومه بريده د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام له فعاليتونو سره اړيکه لري. په هر حال سره، له ۲۰۱۲ کال را په دېخوا، د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو په ملاتړ د کرنې پروګرام په ۸ ولايتونو کې د پستې د ونو د پيوند او اوبه کولو له لارې ۱۲۰۰ هکتاره ځمکه ځنګل کړې ده، او په ۲۰۱۴

[113] ديدي ديرکسين، «اغيز يا ترکيب»، د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر مياشت،

[114] «په ۲۰۱۴ کال کې د سولې د پروګرام د پروژې د پرمختګ کلنۍ رپوټ» د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام، ۲۰۱۴

[115] زبرا بهمن او ستېنا تورجيسين، «دوه برابره پيچلتيا: په افغانستان کې د جګړې لامله»، د ترومسو د پوهنتون د سولې د مطالعاتو مرکز، ۲۰۱۲ http://uit.no/Content/307294/Afganistan_Report_Final.pdf

[116] د افغانانو خبرې، ۲۰۱۴

[117] «په ۲۰۱۴ کال کې د سولې د پروګرام د پروژې د پرمختګ کلنۍ رپوټ»، د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام، ۲۰۱۴.

کال کې د کرنې وزارت د ۱۲۰۰ هکتاره ځمکې د خړوبولو مسوولیت واخیست ترڅو د سولې او پخلاینې په هڅو کې برخه واخلي[118]. په ۲۰۱۳ کال کې د فوایید عامې وزارت د قوای کار پروګرام په ۸ ولایتونو کې ۱۸۷۸ کسان په کار وګمارل چې ۸۲۰ یې پخلا شوي کسان او ۱۰۵۸ یې د ټولنې غړي و. په هر حال سره، په ۲۰۱۴ کال کې د فوایید عامې وزارت یوازې وکولای شول چې د ورکړل شوې بودجې په مرسته په ۹ ولایتونو کې ۱۳۵۹ کسان وګوماري چې ۷۰۵ یې پخلا شوي کسان او ۶۵۴ یې د ټولنې غړي و. د قوای کار په پروګرام کې د تر ۱۴۰۰ کیلومتره زیاتو سړکونو مراقبت وشو[119].

په ۲۰۱۴ کال کې د سیګار د یو ریپوټ له مخې، د کلیو د پراختیا او بیا رغاونې وزارت د ملي پیوستون د پروګرام د ټولنې د رغونې د چټکتیا او لومړیتوب د مېکانیزم له لارې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو له پروګرام سره د متحدو ایالتونو مرستې لاهم د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو له پروګرام سره له دې امله نه دي تړل شوې چې د ملي پیوستون حکومتي اسان چاري ملګري به په خطر کې واچوي. پر ځای یې دغه پیسې د افغانستان د بیارغونې د امانتي صندوق په بودیجه کې کارول شوې دي[120]. او پر ځای د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام د ټولنې د بیارغونې زیاتره برخه د کوچنیو پروژو په ډول ترسره شوې ده، چې موخه یې پخلا شوو کسانو ته د مرستې برابرول دي، ترڅو د انتقالي مرستي د مودې او د وزارتونو د ټولنې رغونې په پروژو کې د ګډون د مودې ترمنځ شته تشه ډکه کړي. کوچنۍ پروژې په ۲۰۱۱ کال کې د سولې د ګډې دارلانشا تر مدېریت لاندې پیل شوې، او سوله ییز ژوند ته د راستنو شوو کسانو د سیمو له خوا په معمولي ډول د ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو له لارې طرحه کیږي. ټولنې کولای شي تر ۵۰۰۰۰ امریکایي ډالرو پورې د ډېرو پروژو غوښتنه وکړي چې هره پروژه یې باید له ۲۵۰۰۰ امریکایي ډالرو څخه زیاته نه وي. د کوچنیو پروژو مدیریت لا ډېر پېچلې ښکاري، په هر حال سره، څرګنده نه ده چې د سولې د ولایتي دارالانشا پرمختیایي مامور چې دغه پروسه اداره کوي، د کوچنیو پروژو په اړه د پرېکړې کولو پروسه او په ولایتي کچه د کوچنیو پروژو کمېټه چې باید مشري یې د ولایت پرمختیایي کمېټه وکړي، په عمل کې دغه پروسه پلې کوي او کنه. د ۲۰۱۵ کال تر سپتمبر پورې ۱۶۱ کوچنۍ پروژې بشپړې شوې وې[121].

د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام اندازې، پیسو او وخت ته په کتلو سره دغه شمېرې ډېرې لږې دي. په هر حال، بنسټیزه پوښتنه دا ده چې دغه پروژې د ټولنې په کچه په پخلاینه او له جګړې راګرځولو څخه اغېز لري؟ دغه پوښتنه د دغه ریپوټ د موندنو په برخه کې څېړل شوې ده.

---

118 *Ibid*

119 *Ibid*

120 د متحده ایالاتو کانګریس ته ریپوټ، سیګار، د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ ۳۰ مه نیټه http://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2014-01-30qr-section3-governance.pdf.

121 د افغانستان د سولې او پخلاینې د پروګرام د ۲۰۱۵ کال د دریمې ربعې د پروژې د پرمختګ ریپوټ، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام، ۲۴. «د افغانستان د سولې او پخلاینې د پروګرام لپاره یو لارښود»، د ځواکونو د پخلاینو واحد، د ایساف مرکز، د ۲۰۱۲ کال د مارچ میاشت، https://www.pksoi.org/document_repository/Handbook-Guide/ISAF_Reintegration_Guide_(March%202012)-CDR-539.pdf

په افغانستان او نړۍ کې پراخه اندېښنه شته چې د سولې په بریالۍ پروسه کې باید ښځې هم ونډه ولري. په هر حال، پوره شواهد شته چې په افغانستان کې په دغو پروسو کې ښځې په بشپړ ډول په پام کې نه دي نیول شوې. د بېلګې په ډول، ښځې د سولې په عالي شورا کې یوازې ۱۳ سلنه څوکۍ لري او په هره ولایتي کمېټه کې یوازې دوه څوکۍ د ښځو لپاره بېلې شوې دي. په سیمه ییزه کچه د پرېکړې کولو په جوړښتونو لکه د نارینه وو د ډېرې شوراګانو او جرګو او د دیني مشرانو په ناستو کې هم ښځو ته ونډه نه ورکول کیږي.

د سولې په ملي مشورتي جرګه کې هم یوازې ۳۳۴ ښځینه ګډونوالې وې (۲۰ سلنه)[122] . د سولې په جرګه کې د ښځو فعالینو د منلو لپاره خپلې غوښتنې او اندېښنې وړاندې کړې. په غوښتنو کې دا هم وه چې د جګړې د شته ښکیلو خواوو د پخلاینې په صورت کې باید د ښځو د تیرو ۹ کلونو لاسته راوړنې وساتل شي، په ملي پروګرامونو کې باید ۳۰ سلنه ښځې وي، په ملي پالیسۍ او پروګرامونو کې باید د ښځوګډون ته اجازه ورکړل شي، د جنسیت پر بنسټ باید د ښځو غږ له پامه و نه غورځول شي، او له ځانګړي عدالت او د جنسیت له عدالت پرته پرېکړې او پالیسي ګانې د منلو وړ نه دي[123].

په ۲۰۱۴ کال کې، د سولې د زده کړو او څیړنې اداري د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو په پروګرام کې د ښځو د رول په اړه څېړنه وکړه. که څه هم د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام د جنسیت د برابرۍ پالیسي لري، خو لاهم دغه پروګرام په ځانګړي ډول د پرېکړې کولو په کچه د ښځو لږ ګډون لري، د پخلاینې د فعالیتونو په اړه د څارنې او ارزونې د جنسیت ځانګړي فعالیتونه کم دي، او د ښځو په منځ کې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام په اړه لږ پوهاوی شته. د سولې د زده کړو او څیړنې اداري څیړنې په ډاګه کړه چې په افغانستان کې د پخلاینې په پروسه کې د ښځو رول توپیر کوي. په ځینو سیمو کې د ښځو د سولې جرګې د حکومتوالۍ له رسمي او غیر رسمي جوړښتونو سره ناستې کوي، په داسې حال کې چې ډېری ښځو خپل رول ترکورنیو واحدونو پورې محدود وباله. مهمه دا ده چې څیړنې څرګنده کړه چې ښځې په خپلو ټولنو کې د پخلا شویو کسانو د منلو یا ردولو هیڅ حق هم نلري[124]. د سولې د عالي شورا لخوا «د اوربند او سولې لپاره د افغان ښځو د غوښتنې» کمپاین که څه هم د حکومت په تمویل شویو رسمي فعالیتونو کې د ښځو د ګډون یوه په زړه پورې بیلګه ده، خو لاهم د سولې په پروسه کې د ښځو د رېښتینې ګډون استازیتوب نشي کولای.

افغانستا یوه ډېره ځوانه ټولنه ده. په ۲۰۱۱ کال کې د احصایې د مرکزي ادارې په حواله، د افغانستان د ۲۶/۵ میلیونه وګړو ۶۸ سلنه یې له ۲۵ کلونو ښکته عمر لري، چې هغه کسان چې عمر یې د ۱۵ او ۲۴ کلونو په منځ کې دی د ټول نفوس ۴۰ سلنه جوړوي[125]. خو بیا هم د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو په پروګرام یا نورو اړوندو

---

[122] زرین حامد، «د امنیت شورا مقرره ۱۳۲۵».

[123] *Ibid*

[124] « د کور مخه: د افغانستان د سولې او پخلاینې په پروګرام کې د ښځو رول»، د سولې د زده کړو او څیړنې اداره، د ۲۰۱۴ کال د مارچ میاشت، http://www.ptro.org.af/site_files/13990989651.pdf.

[125] «د افغانستان د احصایي کلنی کتاب، ۲۰۱۲ – ۲۰۱۳» د احصایي مرکزي اداره، ۲۰۱۳.http://cso.gov.af/en/page/4722/2012-2-13

پروګرامونوکې د ځوانانو برخه نشته، او نه هم د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام لخوا د سولې په پروسه‌کې د ځوانانو دګډون لپاره‌کوم میکانیزم شته[126].

### *ښځې او ارزونه*

ښځې او ارزونه

د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام په اسنادوکې د ارزونو او د اړتیاوو پر بنسټ‌ګډون په اړه مهمې خبرې شته. په هر حال، په ۲۰۰۵ کال‌کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک‌ کمیسیون له لارې د عدالت غوښتنې د رپوټ وروسته په هېوادکې د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو په اړه د افغانانو د لرلید په هکله هېڅ ملي ارزونه نه ده شوې. د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام په اسنادوکې د سولې او او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د شونتیاوو لپاره له ښکته پورته ارزونې؛ په لومړیتوب لرونکو سیموکې ارزونې او سروې‌ګانې؛ د ټولنو، ولسوالیو او ولایتونو لپاره د اړتیاوو ارزونې ترڅو دوی د ټولنې د رغونې له پروګرامونو څخه ټاکنه وکړي؛ د پروګرام لپاره د مهمو همکارانو په ډول د مدني ټولنې او نورو ادارو ارزونې؛ د مدني ټولنې د ادارو په ملاتړ د دریمې ډلې له خوا د پروسې سیاسي ارزونه او څارنې؛ د سولې او پخلاینې لپاره د سیمه ییزې پیاوړتیا او ژمنتیا ارزونې؛ او د پخوانیو جنګیالیو او د هغوی د ټولنو د اړتیاوو ارزونې یادې شوې دي. په هر حال سره، د تېرو څلوروکلونو په موده‌کې په‌کلنیو رپوټونوکې یوازې د مسلکي زده‌کړو د اړتیاوو د ارزونې او د کارکوونکو د زده‌کړو د ارزونې یادونه شوې ده. د افغانستان د سولې له پروګرام او حکومت سره د ناتړلو ادارو په مالي مرسته د مدني ټولنې لخوا د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام یوازینې ارزونه او څارنه دغه رپوټ جوړوي.

څارنه او د پخلاینې پروسې ثبتول هم له ستونزو ډک دي. د ایساف د ځواکونو د پخلاینې د واحد په حواله، د مجرمینو شمېر تر رسمي شمېرو زیات دی. پر دې سربېره، پخلا شوي‌کسان باید یوازې د شپږو میاشتو لپاره له چارواکو سره په اړیکه‌کې وي ترڅو د انتقالي مرستو پیسې تر لاسه‌کړي، خو له دغه مودې وروسته د نورو اړیکو اړتیا نه لري ځکه له دې وروسته دوی ته د عادي افغانانو په سترګه‌کتل‌کیږي[127].

په هر حال سره په ۲۰۱۴ کال‌کې د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام لپاره د څارنې یو خپلواک واحد جوړ شو، چې د ساحوي‌کار لپاره د سیمه ییزو انجیوګانو خدمات پیري[128]. د څارنې واحد باید د اړوندو وزارتونو د پروژو، کوچنیو پروژو، د سولې د ولایتي‌کمېټو د فعالیتونو، دګډې دارالانشا او د سولې د ولایتي دارالانشاګانو د فعالیتونو او د ټولنې د غړو، پخلا شووکسانو، سیمه ییز حکومت، ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو، د مدني ټولنې سیمه ییزو ادارو، او نوروګټه اخیستونکو په‌ګډون د ټولنې د برخه اخیستونکو څارنه‌کړې وای. د ۲۰۱۴ کال‌کلنی رپوټ په ډاګه‌کوي چې د څارنې د واحد موندنې په ۲۰۱۵ کال‌کې وړاندې شوې، دغه موندنې په ننګرهار، کندز، اروزګان او بادغیس ولایتونوکې د څارنې په پایله‌کې په لاس رغلې، د وخت دکمبود له امله یوازې

---

[126] له ښځو، ځوانانو او معیوبینو پرته په افغانستان کې ګوښه شوې ډلې عبارت دي له نیمه کوچي او کوچیانو (۳ میلیونه اټکل شوي)، جټان (تر ۳۰۰۰۰ لږ اټکل شوي) څخه. ګوښه کیدل ځکه پیچلي دي چې ځینې قومونه په ځانګړو سیمو کې د اکثریت او اقلیت په اساس ګوښه پاتې کیږي. د بیلګې په ډول، یوه مطالعه د پروان په ولایت کې د پښتنو چې اقلیت دي ګوښه کیدل په ګوته کوي.

[127] د متحده ایالاتو کانګریس ته رپوټ، «سیګار»، د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د میاشتې ۳۰ مه نیټه .http://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2014-01-30qr-section3-governance.pdf

[128] «په ۲۰۱۴ کال کې د افغانستان د سولې او پخلاینې د پروګرام د پروژې د پرمختګ رپوټ»، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام، ۲۰۱۴

یو ځل لیدنې تر سره شوې. په ۲۰۱۴ کال کې د ګډې دارالانشا د څارنې ټیم ۱۷ سفرونه کړي و[129]. په هر حال سره، د افغانستان د سولې او پخلاینې د فعالیتونو لپاره د څارنې د واحد لږکارونه د پروګرام د څارنې په برخه کې یوه تشه په ډاګه کوي.

د سولې ولایتي دارالانشاګانې باید د جګړې په اړه معلومات راټول او هغه د ولایت په پرمختیایي پلان کې شامل کړي. که څه هم په څلورو یادو ولایتونو کې د څارنې د واحد رپوټ په ډاګه کوي چې ټولو ولایتي دارالانشاګانو د سولې په اړه د معلوماتو راټولولو او د پریکړه کولو په پروسو کې د هغو د کارولو په اړه خبر ورکړی دی، خو د جګړې په اړه د راټولو شویو معلوماتو ډول توپیر کاوه. د ځینو لپاره دغه معلومات یوازې د پخلا شووکسانو هغه لړلیک و چې باید په پروژو کې ترې کارکوونکي وګمارل شي. د نورو لپاره بیا دغه معلومات ډېر جامع وو چې په هغو کې هر اړخیز معلومات شامل و. په ځینو ولایتونو کې دغه کار د ولایتي پلان جوړونې له مهالویش وروسته شوی و او دغه معلومات د ولایت په پرمختیایي پلان کې نه و شامل شوي[130]. دغه توپیرونه یوازې په څلورو ولایتونو کې په ګوته شوي او په ټول افغانستان کې به دا ډول توپیرونه نور هم زیات وي.

---

[129] *Ibid*
[130] *Ibid*

# VI. موندنې

## 1. لنډه کتنه

ښه خبره دا ده چې په ټول هېوادکې – ان د پنجشېر په څېر سيمو کې چې هېڅ وسله وال مخالفت پکې نشته – د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام په اړه پوهاوی لوړ دی، يا لږ تر لږه د پخواني ډې، ډې، ار (بې وسلې کول او ملکي ژوند ته ستنېدل) او د سولې د نورو پروګرامونو په پرتله لوړ دی. دغه موندنه له مخکېنيو څېړنو سره ورته ده چې پکې د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام او د هغه د پخلاينې او سياسي توسعې د اساسي موخو په اړه لوړه کچه پوهاوی په ګوته شوی و. بده خبره دا ده چې د پروګرام په اړه لرليدونه يا منفي يا ګونګ دي؛ او هغه خلک چې د پروګرام په اړه ښه پوهاوی لري منفي نظر ورکوي. چې په پايله کې په داسې حال کې چې دغه پروګرام د پوهاوي په برخه کې ښه کارکړی دی، خو د ستراتيژيکو خبرو اترو موخه يې ترڅو د پروګرام د ملاتړ لپاره ښځې، نارينه او ماشومان وهڅوي نه ده تر سره شوې[131].

عمومي نظر دا دی چې پروګرام اغېزناک نه دی، چې دليل يې هم په هېوادکې پرله پسې ناامني او جګړه ده. لکه څنګه چې په هرات کې يو کس ويل: «سوله ييز ژوند ته بېرته ستنېدل مثبت اوګټورګام دی، خو په امنيت هېڅ اغېز نه لري. هغه خلک چې په جګړه کې ښکېل دي هېڅکله نه غواړي له پروګرام سره يوځای شي او له حکومت سره همکاري وکړي. دغې پروسې د سولې لپاره هېڅ نه دي کړي»[132]، په لوګر کې د يو ډله ييز بحث پر مهال لاندې نظر ورکړل شو:

> سوله ييز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام زموږ په سيمه کې هېڅ نه دي کړي. پروسې په هېڅ څه باندې نه منفي او نه مثبت اغېزکړی دی ځکه په هېوادکې يې د سولې او امنيت لپاره هېڅ کار نه دی کړی. ځينې خلک له پروسې سره يوځای شوي خو دا يوازې يو نمايش دی[133].

په پرله پسې ډول د فساد يادونه شوې ده، چې د پروګرام په اړه د نااغېزناکۍ د لرليد او د پروګرام لپاره د ملاتړ د له منځه وړلو لامل شوی دی. د افغانستان د جګړو په ډېر شمېر شننوکې فساد (اوکمزورې حکومتوالي) د يو مهم خنډ په ډول ياد شوي دي، او دغه ستونزه د افغانستان د سولې او سوله‌ييز ژوند ته د راستنېدلو د پروګرام په اړه هم ورکړل شوی دی. ان په حکومت کې هم چارواکو داسې نظر ورکړی دی:

> که روښانه خبرې وکړم، دا پروسه يوازې هغو خلکو ته ګټه رسوي چې پکې کارکوي، او د رېښتيني امنيت لپاره يې هېڅ هم نه دي کړي. فساد شته او جنګياليو ته کومه مرسته نه رسول کيږي. نو ځکه د حکومت ضد کړیَ هېڅکله نه غواړي چې د سولې له پروسې سره يوځای شي او خپلو جګړو ته دوام ورکوي[134].

په هر حال سره له دغه لرليد وروسته دا نظر هم ورکړل شوی دی چې که چېرې ښه چارواکي وګومارل شي- د سولې د عالي شورا له مشر نيولې بيا د پروګرام تر ولايتي کارکوونکو پورې – بيا نو يو څه قانونيت او اغېزناکتوب پيداکولای

[131] څلورمه ضميمه: «د افغانستان د سولې او سوله ييز ژوند ته د راستنيدو د پروګرام د ملي ستراتيژيکو خبرو پلان»
[132] په هرات کې د کار او ټولنيزو چارو له رياست سره مرکه، د ۲۰۱۵ کال د اګست مياشت
[133] د ۲۰۱۵ کال د جولای په مياشت کې په لوګر کې د ټولنې د نارينه غړو سره ډلييز بحث
[134] په هرات کې د کار او ټولنيزو چارو له رياست سره مرکه، د ۲۰۱۵ کال د اګست مياشت

شي. که څه هم، د ځواب ورکوونکو نظر همدا وو چې دا د ښو کارکوونکو د ګومارلو ستونزه نه ده، بلکې د ښې حکومتوالۍ ستونزه ده. که څه هم د سولې په پروګرام کې په بېلابېلو کارې کچو کې د فساد په اړه شکایتونه وو – لکه چارواکي د جعلي طالبانو په پخلاکولو سره د ټولنې د رغونې پیسې او د هغوی وسلې د ځان په ګټه کاروي – خو ډېری ځواب ورکوونکو دا باور درلود چې په ولایتونو کې ستونزې په مرکز کې او په ځانګړې ډول په سیمه کې د ستونزو او سیاسي ناکامیو په پرتله کمې دي.

ځواب ورکوونکو د سولې پروګرام له دې، دې، ار او له ۲۰۰۱ کال را په دېخوا د سولې او عدالت د نورو پروګرامونو سره ورته وباله. «د سولې ملي پروسه په افغانستان کې د لسو کلونو لپاره کار کوي، خو بدبختانه هېڅ مثبت کار یې نه دی کړی. تر اوسه د حکومت ضد جنګیالیو یوه ریښتینې ډله له دغه پروګرام سره نه ده یوځای شوې»[135]. نو په داسې حال کې چې د ټولنې غړي باوري وو، چې کولای شي مخالفین دغې پروسې ته ور معرفي کړي، سیمه ییزې پخلاینې ته لاره هواره کړي، او د پروسې لپاره ملاتړ رامنځته کړي، دوی د ملي یا سیمه ییز پرمختګ د نه شتون په صورت کې د داسې فعالیتونو د اغیز په اړه ریښتیني وو. د لوړې کچې خبرو لپاره د یو چوکاټ په بڼه د یو محافظتي پوښښ د نشتوالي له امله دغه کار نور هم خطرناک شوی دی. چې په پایله کې یې په تیر یو نیم کال کې مهمو پخلا شوو کسانو ته رسېدنه کمه شوې ده. نن ورځ ټولنې د طالبانو په مشرۍ وسله والو سره د پخلاینې د پروسې د رامنځته کیدو د اساسي ستونزې پرځای د دوی د چلند د ښه کولو (لکه له طالبانو غواړي چې له کورنیو څخه لږ ډوډۍ وغواړي) په اړه خبرې کوي. په همدې حالت کې بیا هم ځواب ورکوونکو اندېښنه څرګنده کړه چې دغه پروګرام به وکولای شي تل پاتې سوله رامنځته کړي. دغه اندیښنې د پروګرامونو د عملي برخو په پرتله خپله د پروګرام په اړه وې. په افغانستان کې د طالبانو د شته جګړې د حل په ډول د سولې د یو کوچني انځور په کښلو سره دغه پروګرام نه دی توانیدلی چې پوه شي په هیواد کې شته ستونزې د ۳۶ کلونو له رېږونو څخه سرچینه اخلي.

د دغو ستونزو له امله عام نظر دا و چې سیمه ییزې ټولنې او په ځانګړې ډول دودیز مشران کولای شي چې د سولې په پروسه کې یو مهم رول ولوبوي، چې اوس له دغه رول څخه ګټه نه ده اخیستل شوې. دا نظر پر دغه اساس ولاړ و چې مشران، دیني مشران او دودیز بنسټونه لکه شوراګانې او جرګې په افغانستان کې د شخړو په حل کې اوږد مهالې تجربه لري، او همدارنګه د مدني ټولنې برخې (ځوانان، او د ښځو ډلې، پرمختیایي ادارې، سیمه ییزې رسنۍ او کلتوري ټولنې) کولای شي د توسعې، زده کړو، د ترهګرۍ د مخنیوي، د خفګانونو د حل، او د ټولنې د خبرو اترو د زمینې برابرولو په ګډون د سولې راوستلو یو لړ داسې کارونه وکړي چې د سیمه ییزو ټولنو د خوښې وړ وګرځي. د نورو شیانو ترمنځ، د ټولنې مشران د خفګانونو په ثبتولو، د حکومت او مخالفینو او د مخالفینو او د دوی د ټولنو ترمنځ د پخلاینې لپاره د ټولنې په هڅو کې د یو څرګند رول غوښتونکي دي. د مدني ټولنې ادارو دا اړتیا بیان کړې ده چې باید د سولې او عدالت د موضوع ګانو په اړه پراخ کار وشي، او یوازې د پخلاینې او د سولې د پروګرام د کارونو پر ځای باید د هنرونو، رسنیو او توسعې له لارې د سولې فرهنګ خپور شي. په دې اړه زیات تشریحات او نظرونه په لاندې برخه کې وګوری.

[135] د ۲۰۱۵ کال د اګست په میاشت کې په هرات کې د ټولنې د نارینه غړو سره ډله ییز بحث

## 2. سیمه ییزې، ملي او ولایتي پروسې

موږ د سیمه ییزو خبرو لپاره یو ملي هوکړه لیک او فضا ته اړتیا لرو

په ننګرهارکې یو ټولنیز فعال

د ملي کچې یوه هوکړه لیک په لور د ملي یووالي حکومت له خوا د سیمه ییزو فعالینو د راګډولو له هڅې پراخ ملاتړ موجود و. که څه هم د ډېرو په اند په ډېر مخامخ ډول د پاکستان راګډول به پروسه ګډه وډه کړي، خو بیا هم عمومي نظر دا و، چې په ملي او نړیوالو کچو له یو خوځښت پرته به دغه پځلاینه چې په ولایتونو کې ترسره کیږي، سوله رامنځته نه شي کړای. په حقیقت کې، په داسې حال کې د خلکو په اند سیمه ییزې شخړې په هېوادکې وسله وال مخالفت ته لمن وهي، خو ډېری خلک بیا په دې اند دي چې د ملي کچې ستونزې د سولې په مخه کې لوی خنډونه دي:

> زما په اند دا د ټولنو ترمنځ یوه ستونزه نه بلکې د سیاسي ډلو ترمنځ یوه ستونزه ده، نوکه چېرې د دغو لویو ډلو ترمنځ سوله رامنځته شي د ټولنو ترمنځ به هم سوله وي[136].

نور ځواب ورکوونکي بیا په دې اند وو، چې په ملي کچه خبرېکوم اغېز نه لري او یوازې سیمه ییز او نړیوال فشار کولای شي د افغانستان دکورنیو جګړو ستونزه حل کړي. دا خبرې تر ډېره د افغانستان له سوېل څخه د سولې د خبرو ګډونوالوکولې، چې دوی ویل طالبان چمتو نه دي، په ملي کچه خبروکې برخه واخلي، ځکه دوی له افغان حکومت سره خبرې بې ګټې بولي. دغه ډله خلکو ویل چې پرته له دې چې لومړی د طالبانو له سیمه ییزو ملاتړو– په ځانګړي ډول ای، اېس، ای او د پاکستان پوځ – سره خبرې ونه شي، د سولې د خبرو هڅې به بې ګټې وي. هغه وخت چې طالبانو د خبرو لپاره هوکړه وکړه، لامل یې دا و، چې د طالبانو په دغو همکارانو ډېر نړیوال فشار موجود و او د دې لپاره یې په خبروکې برخه واخیسته ترڅو دغه فشار لرې کړي[137].

د همدې موخې لپاره، د سولې په پروسه کې د متحدو ایالتونو د یو فعال رول څخه زیات ملاتړ موجود و. په داسې حال کې چې د معمول په څېر د امریکا د لویوګټو له امله په دغه هېواد باندې بې باوري موجوده وه، ځینو خلکو ویل چې په تېرو دووکلونوکې د سولې په خبروکې د متحدو ایالتونو نه شتون دا څرګندوي چې دغه هېواد اوسمهال د خبرو اترو پلوی نه دی – دا یو داسې پیغام دی چې د جګړې په ښکېلو غاړوکې خپور شوی دی او د جګړې د اوږدوالي لامل ګرځېدلی دی[138]. په پای کې معلومه شوه چې بې باوري د ناسم پوهاوي او ناسمو خبرو له امله ده، او په همدې ډول د خلکو غوښتنه دا وه چې متحده ایالات باید خپل اوسنی رول څرګندکړي.

د افغانستان په سوېل کې هغو خلکو چې له وسله والو سره یې اړیکې نیولې ترڅو دوی د سولې له پروګرام سره یوځای کړي او یا دوی وهڅوي چې خپلې وسلې پر ځمکه کیږدي، په دې باور وو، چې د ملي/ سیمه ییزې کچې

---

136 د ۲۰۱۵ کال په جولای کې د کندهار له ټولنیز مشر سره مرکه
137 د شمال سیمې د سولې خبرې، بلخ، د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر میاشت
138 د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر کې په کندهار کې ډلییز بحث

هوکړه لیک نه شتون – یا د روښانه پالیسۍ نه شتون یا په خبروکې ځنډونه د منځنۍ کچې قوماندانانو ته یو روښانه پیغامورکوي – چې په پایله کې یې د دوی هڅې بې ګټې، لنډمهالې او خطرناکې ثابتیږي. د کندهار یو قومي مشر ویل: «تاسو کولای شئ چې ۱۰۰۰۰ مخالفین پخلا کړئ خو په بدل کې یې ۲۰۰۰۰ نور کسان په دې تمه دي چې له مخالفینو سره یوځای شي»[139]. د کندهار یو بل مشر چې په ورته فعالیتونو بوخت و، داسې وویل:

اوسمهال که موږ وغواړو په سیمه ییزه کچه طالبان سولې پروسې ته راولو نو موږ به ووژل شو. که یو مخالف له جګړې لاس اخلي، لس نور له هغوی سره یوځای کیږي او دغه تشه ډکوي او دغه خلک د مخالفینو لیکو ته تر هغه چې موږ یو مخالف پخلاکوو، ډېر ژر جذ بیږي[140].

د هغو غیر رسمي منځګړو په منځ کې چې موږ مرکې ورسره وکړې، په ملي کچه د ښه پرمختګ هیله د دې له امله پخه شوې ده چې دوی له وسله والو مخالفینو سره د خبرو په برخه کې له محدودیتونو سره مخ دي. د هرات یو مشر په نني افغانستان کې د غیر رسمي واک لرونکو شتون د محدودیت په ډول بیان کړ: « منځګړي په کلیو او بانډوکی ډیر اعتبارلري خوکله چې له کلیو د باندې وځئ د دوی اعتبارکمیږي او نشي کولای په پرېکړو اغېز وکړي»[141]. په وروستیوکلونوکې له مخالفینو سره د سیمه ییزو هوکړه لیکونو بېلګې شته، خو لږ شواهد لرو چې دغه پرېکړه لیکونه به د دوی له ټولنو او قبیلو څخه د باندې هم اغېز ولري. خو بیا هم، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د سولې د منځګړو تجربې چې سوله رامنځته کوي، دا په ډاګه کوي چې د خلکو د غږ، د منځګړیتوب مهارتونه او په ولایتي کچه مرستې – او بیا له ملي کچې سره د دغو خلکو / ډلو د نښلولو هڅه – یوه داسې ستراتیژۍ ده چې مثبتې پایلې لري. د داسې هڅو لنډمهالي اغېز ته باید په ریښتیني ډول کتنه وشي، لکه څنګه چې د اړیکو د دفتر او د سولې د روزنیزې او څېړنیزې موسسې له خوا مخکښۍ څېړنې ښیي، چې د ټولنې مشران کولای شي په هغو ځایونوکې چې د طالبانو قوماندانان خپله د دوی له ټولنې څخه وي او په ټولنه کې فعالیت کوي، د طالبانو د کړو وړو په مخ کې د مهمو خنډونو په ډول ثابت شي. د هغو خلکو له منځه چې موږ خبرې ورسره وکړې او په وروستیوکې یې په مخامخ ډول له مخالفینو سره خبرې کړې وې، په ډاګه کړه چې دغه هڅې د خبرو د بیا پیلېدو لپاره لږې دي او دوی د کلیو له فعالینو څخه د چلند د بدلون غوښتنه کوله – د بېلګې په ډول، د کلیوالو په استازیتوب خبرې کول ترڅو د طالبانو لپاره د خوراکي توکو برابرو ل کم کړي[142]. په داسې حال کې چې دغه مهمې هڅې دي خو په خپل ډول کې محدودې دي، او په افغانستان کې د سولې راوستلو په برخه کې د ټولنیزو فعالینو وړتیا ته باید په ټیټه سترګه و نه کتل شي ځکه دغه وړتیا له څو اړخونو د ارزښت وړ ده.

که څه هم ډېر ځواب ورکوونکي او د سولې د خبروګډونوال په دې باور دي چې د لوړې کچې هوکړه به په سیمه کې تر یوې کچې امنیتي حالت ښه کړي، خو نور بیا په دې باور وو، چې سوله به کومه پایله ورنه کړي او دوی دوه لاملونه یادکړل. لومړی دا چې د سولې عالي شورا او د سولې ولایتي کمېټې بې کفایته ادارې دي چې د هغو قوماندانانو او جګړه مارانو په لاس کې دي چې مخکې خپله په جګړه کې ښکېل وو او نو ځکه یې د هغو خلکو په

[139] د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر کې د کندهار له ټولنیز مشر سره مرکه
[140] د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر کې د کندهار له ټولنیز مشر سره مرکه
[141] د ۲۰۱۵ کال د اګست په میاشت کې په هرات کې له قومي مشر سره مرکه
[142] د ۲۰۱۵ کال د جولای په میاشت کې په ننګرهار کې له قومي مشر سره مرکه

منځ کې لېر باور درلود چې موږ په ټولو ولایتونو کې خبرې ورسره وکړې. لکه څنګه چې د سولې د عالي شورا یوه دنده د سولې د ملي او ولايتي پروسو نښلول دي، دا د حیرانتیا خبره نه ده چې خلک د ملي هوکړې په یوه هوکړه شک کوي. په لویدیځ کې د سولې د خبرو یوه ګډونوال هغه څه ویل چې ډیر خلک پرې باور لري:

زما د تجربو او زده کړو پر بنسټ، که ملي پخلاینه هم رامنځته شي، موږ به ښايي سوله ونه لرو. هغه خلک چې اوسمهال د سولې پروسه پرمخ وړي، په فسادککړ خلک دي او دوی د ملي ګټو پر ځای یوازې د خپلو ګټو لپاره کار کوي[143].

د همدغه قانوني اعتبار د نه شتون له امله ډېری ځواب ورکوونکي په ۲۰۱۵ کال کې د ملي یووالي د حکومت نوي حرکت ته خوښ وو، ترڅو د طالبانو له مشرتابه (او د پاکستان له حکومت) سره مستقیمې خبرې وشي، او د دوی په اند دا یو جدي ګام دی چې د کرزي په دوره کې نه تر سترګو کېده. دویم دا چې، ځواب ورکوونکو په اساسي ډول یو لړ بنسټیز عوامل او ناخوښۍ یادې کړې چې پام نه دی ورته شوی لکه بې کاري او حکومتي فساد.

ځواب ورکوونکو څرګنده کړه چې د سولې د ښکاره زمینو لکه دندې، ټولنیز پرمختګ او د ګرځېدو ازادۍ پرته به ان د ملي کچې پیاوړې هوکړې هم د پلي کېدو پر مهال له سترو ننګونو سره مخ وي. بیاهم، ځواب ورکوونکي دا خبره نه کوي چې پرمختګ او د کاروبار پیدا کول د سولې د پروګرام دنده ده، بلکې دوی وايي چې په دغو برخو کې حکومت باید کار وکړي. بیاهم، ان د سیمه ییز / ملي هوکړه لیک په نشتون کې، د ټولنې مشران او مدني ټولنه په ولایتي کچه د سولې په راوستلو کې رغنده رول لوبوي. ځواب ورکوونکو د ټولنیزو شخړو د حل کولو بیلا بیلې بیلګې یادې کړې، ترڅو چې د دغو شخړو د زیات پرمختګ مخه ونیول شي او پرینښودل شي چې په پایله کې یې خلک د وسله والو مخالفینو لیکو ته لاړ شي:

کوچنۍ ستونزې لويې ستونزې رامنځته کوي او موږ هڅه کوو چې کوچنۍ ستونزې حل کړو ترڅو چې په لویو ستونزو بدلې نشي – سیمه ییزه کچه په دغه ډول د سولې له ملي پروسې څخه ملاتړ کوي[144].

که څه هم د سولې پروسې ته د مخالفینو د معرفي کولو په برخه کې د ټولنې د مشرانو وړتیا کمه شوې ده، لامل یې تر ډېره د شخصي وړتیا پر ځای عمومي خنډونه وو. په حقیقت کې، د لاندې خبرې په اړه ډېرو ځواب ورکوونکو بېلابېل نظرونه لرل: «موږ د سیمه ییزو خبرو لپاره ملي هوکړې او فضا ته اړتیا لرو»[145]. ځواب ورکوونکي په ورته ډول ډاډمن وو چې که چیرې یوه ملي هوکړه رامنځته کیږي نو باید ټولنیزې پخلاینې ته پکې پام وشي، او په دغه پروسه کې ټولنو ته د مخکښ رول په ورکولو سره به دغه سوله تل پاتې وي. سیمه ییزو منځګړو خپل ځانونه د پخلاینې په دغه پروسه کې مهم وبلل:

پخلاینه باید په محلي کچه لومړی د ټولنې د استازو له خوا ترسره شي. دا باید لږ تر لږه لومړنۍ هڅه وي، که موضوع حل نه شوه بیا به نو موضوع په لوړه کچه د هغې ماهیت ته په کتو سره یا محاکمو یا نورو ادارو ته وړاندې کیږي[146].

---

143 په لویدیځ کې د سولې د خبرو ګډونوال، هرات، د ۲۰۱۵ کال د اګست میاشت
144 د ۲۰۱۵ کال د اګست په میاشت کې په هرات کې له قومي مشر سره مرکه
145 د ۲۰۱۵ کال د جولای په میاشت کې په هرات کې له ټولنیز فعال سره مرکه
146 د ۲۰۱۵ کال د اګست په میاشت کې په هرات کې له قومي مشر سره مرکه

د دغو قومي مشرانو ترڅنګ چې په مخامخ ډول له طالبانو سره خبرې کوي، ځواب ورکوونکو د ټولنيزو پرمختيايي ادارو، سيمه ييزو خپلواکو رسنيو، د ځوانانو او ښځو د ډلو، او اتحاديو په ډول د مدني ټولنې يادونه هم وکړه چې د سولې په ولايتي کچه هڅوکې مهم دي. دا ډول ډلې د سولې د داسې پيغامونو په جوړولو او خپرولوکې مهم رول لوبوي چې له ټولنې سره برابر وي، دوی کولای شي د منځګړو وړتيا لوړه کړي، او د ټولنيزو خبرو، د شخړو د حل او پخلاينې لپاره لوژيستيکي ملاتړ برابر کړي. هغو خلکو چې موږ مرکې ورسره وکړې ويل چې تر نن پورې زموږ ګډون د سولې له پروګرام سره په نشت حساب دی. په پايله کې، هغه نوښتونه چې دوی لرل د سولې په ولايتي او ملي پروسه کې په پام کې نه دي نيول شوي[147].

د سولې د پروسې د ملي او ولايتي اړيکو د زياتوالي لپاره په نظرونوکې تر ډېره د نوو ادارو د جوړولو پر ځای په شته جوړښتونو باندې د کارکولو په برخه کې ټينګار وشو. د بېلګې په ډول، په جنورۍ کې په کابل کې د ملي خبرو ګډونوالو د ملي پيوستون د شته ټولنيزو پرمختيايي شوراګانو د پياوړي کولو ملاتړ وکړ، دوی وويل چې دغه جوړښتونه هم د توسعې او هم له وسله والو سره د خبرو په برخه کې ښې دي، خو دوی دا هم په ډاګه کړه چې بايد د ټولنې د پرمختګ مرستې د همدغو جوړښتونو له لارې ترسره شي ترڅو په عمومي ډول پرمختګ رامنځته شي؛ د اړوندو وزارتونو او د هغوی د ولايتي رياستونو ترمنځ همغږي زياته شي او په ځانګړي ډول د سولې د پيغامونو د خپرولو لپاره د حج وزارت له ولايتي ادارو سره کار وشي؛ په ولايتي کچه بايد يو ډېټابيس رامنځته شي ترڅو د سولې اړوند فعاليتونه پکې ثبت او په سيستماتيک ډول له کابل سره شريک شي.

د ګډو برخه اخيستونکو او ګډو سکتورونو په ګډون يوه تګلاره کې هم کولای شو په ولايتي کچه د ځوانانو، کلتوري، رسنيو او ښځو د ډلو په ګډون د مدني ټولنې له موجودو جوړښتونو او هغو ادارو سره کار وکړو چې د منځګړيتوب او سولې د خبرو په برخه کې له پامه غورځول شوې وې، لکه سوداګريزې ټولنې / مشران او د ښاروالۍ بېلابېلې اتحاديې او د هغو ډلو استازي چې په منظم ډول د سولې د ولايتي کمېټو په ناستوکې ګډون کوي ترڅو لومړنۍ اړيکې جوړې، د سولې په هڅوکې د همکارۍ برخې په ګوته او په عمومي ډول د پروسې روڼتيا زياته شي. ياد شوي غير رسمي فعالين ديني مشران او بيا د ټولنو مشران وو؛ ځواب ورکوونکو ويل چې دواړه ډلې مهم رول لري لومړی وسله والو ته د رسېدو په برخه کې او دويم د منځګړيتوب، پخلاينې او د نارضايتيو د له منځه وړلو په برخه کې. ډېری ځواب ورکوونکو ويل چې د سولې د ولايتي کمېټو د غړو په ډول په رسمي توګه د سولې له پروګرام سره د دغو خلکو يوځای کيدل کولای شي د دوی بيطرفي او اغيزمنتيا تر پوښتنې لاندې راولي او ډېرو وويل چې د سولې له ولايتي کمېټو سره يوه غير رسمي خو منظمه همکاري به ښه ټاکنه وي.

## 3. منځګړيتوب او سوله راوستل

*په حقيقت کې په دغه پروسه کې هېڅکله هم کوم رېښتيني منځګړي نه وو. هغه چې د منځګړيتوب هڅې يې وکړې يا د حکومت يا د متحدو ايالتونو د ځواکونو او يا د طالبانو له خوا په ښه شول[148].*

[147] په سوبل، شمال، ختيځ او لويديځ کې د سولې د خبرو ډېر ګډونوال، د ۲۰۱۵ کال له جولای تر سپتمبر پورې
[148] د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په مياشت کې د کندهار له قومي مشر سره مرکه.

د کندهار یو قومي مشر

په هرات، کندهار او ننګرهار کې د سولې د سیمه ییزو خبرو پر مهال د یو شمیر کارکوونکو د ګډونوالو یوه نمونه ټولګه په منځګړیتوب او د شخړو په حل کې د دوی د ګډون په اړه سروې کړل. سروې په ډاګه کړه چې ګډونوال د ټولنیز منځګړیتوب / شخړو د حل په ځینو ډولونو کې ډېر فعال وو: په هرات کې (۸۵ سلنه)، په کندهار کې (۱۰۰ سلنه) او په ننګرهار کې (۹۲ سلنه). د سولې په خبرو کې راغلو منځګړو ثابته کړه چې د اوبو پر سر جنجالونه یې حل کړي دي او په خپلو ټولنو کې یې باور تر لاسه کړی دی. په دغو خلکو کې دیني مشران، ټولنیز مشران او د سیمه ییزو شوراګانو غړي، قومي مشران، د کورنیو مشران او خپلوان شامل دي. دا هغه ډلې دي چې د منځګړیتوب اعتبار ورباندې کیدای شي. په زړه پورې خو دا ده چې په دغو ډلو کې د مجاهدینو پخواني قوماندانان، ولسوالان او د پولیسو مشران، د بشري حقونو خپلواکې اداري، سیاسي ګوندونه او د ښځو چارو د ریاست یو استازی هم شامل و.

په داسې حال کې چې بې پرېتوب هغه څه دي چې ګډونوال ارزښت ورکوي، خو دا په دې معنا نه ده چې سیاسي جوړښتونه له منځګړیتوب وویستل شي – البته تر هغې پورې چې دوی په بې پرې ډول د جګړې منځګړیتوب وکړي. دلته دا هم په ډاګه کیږي چې منځګړي باید د ټولنو له خوا او د ټولنو لپاره وټاکل شي. ځواب ورکوونکو ویل چې ټولنه کې د منځګړو یوازې یو ډول نشته بلکه څو ډوله دی لکه د مجاهدینو قوماندانان، سیاسي فعالین او ان د طالبانو قوماندانان – اچه نه ښایي یو ډول یې هم په اتوماتیک ډول د منځګړیتوب له رول څخه وویستل شي. خو دا په دې مانا هم نده چې هر څوک د منلو وړدی. د سیمه ییز منځګړیتوب د دودونو او د اسلامي قوانینو ځانګړې پوهه د مرستندویه وړتیاوو په ډول یاده شوه خو د منځګړیتوب لومړنی شرط وسله والو مخالفینو ته د لاسرسي او د اعتبار لرل یاد شول. لکه څنګه چې ځینو ځواب ورکوونکو ویل چې په اوسني چاپېریال کې د ځواک مېکانېزمونه نشته نو د یو منځګړي اعتبار زیات اهمیت لري.

لکه څنګه چې په لومړي شکل کې څرګندیږي د سولې د خبرو د ګډونوالو له خوا ډېری منځګړیتوب د سرچینو / ځمکو یا د کورنیو او کلیو د شخړو په برخه کې و او دوی د وسله والو مخالفینو او حکومت تر منځ لږ منځګړیتوب کړی و[149]. وروستیو مرکو په ډاګه کړه چې دا له وړتیا سره تړلې یوه موضوع نه وه او ګډونوالو د ګڼو ډلو ترمنځ د تاوتریخوالي د پېچلو منځګړیتوبونو بېلګې ورکړې. بلکې دا د یو شمېر یو بل سره نښتو موضوعاتو پایله وه، چې دغه موضوع ګانې د باور له منځه تلل، د فرصتونو نه شتون، د ځایونو نه شتوالی او د بهرنیو ورانکارو ځواک دي.


د هغو خلکو له منځه چې موږ خبرې ورسره وکړې ډېرو ویل چې هم د وسله والو او هم د حکومت په وړاندې د اعتبار له لاسه ورکول د دریمې ډلې د منځګړیتوب اغېز راکموي او ان د دغو دوو ډلو تر منځ د منځګړیتوب خطر ډېر دی او د ژوند په بیه تمامیږي. لکه څنګه چې د کندهار یو مشر وویل:

> د سولې په پروسه کې هېڅ وخت هم کوم منځګړي نه وو. هغوی چې د دغه کار هڅه یې وکړه یا د حکومت یا د متحدو ایالتونو د ځواکونو او یا هم د طالبانو له خوا په نښه شول[150].


---

[149] د سولې سیمه ییزې خبرې، هرات، کندهار، ننګرهار، د ۲۰۱۵ کال له جولای تر سپتمبر پورې
[150] د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په میاشت کې د کندهار له قومي مشر سره مرکه


نورو وويل چې لومړنی لامل د فرصت نه شتون و، ځکه هم حکومت او هم طالبانو غوښتل چې د ټولنې مشران له یوې داسې پروسې بهر وساتي چې د دوی په هره بیه د دغې پروسې کنټرول کول غوښتل. نورو بیا ویل کله چې د ټولنې په کچه جنګیالیو سره خبرې یو څه پر مخ لاړې شي، د طالبانو د مشرتابه، حکومت پلوه ځواکمنو کسانو، یا سیمه ییزو فعالینو لکه پاکستان مداخلې د دوی هڅې له ناکامۍ سره مخ کوي؛ په دې معنا چې اوسمهال د محلي کچې منځګړیتوب زیات پیاوړی نه دی ترڅو په جګړه کې د ښکېلو لوریو ورانکاریو مخه ونیولی شي. اساسا د ټولو وینا داوه چې د اوسنۍ جګړې په اوسنی پړاوکې منځګړي ډېر مهم نه دي. مهمه دا ده چې هم وسله والو او هم حکومت داسې موقف غوره کړیدی چې پخوایی هیڅکله نه وو نیولی.





A – منابع / د ځمکې پر سر شخړې
B – کورنۍ / د ګاونډیانو شخړې
C – د بیلابیلو ټولنو / کلیو ترمنځ
D – د وسله والو پخلاینې ته لاره هوارول
E – د شخړې حل کول
F – له وسله والو مخالفینو سره شخړه / د وسله والو مخالفینو او حکومت ترمنځ شخړه
G – نور (په دې برخه کې چا د یوه پیاوړي کس یادونه وکړه چې د سړک د بندیدو مخه یې ونیوه)




A – منابع / د ځمکې پر سر شخړې
B – کورنۍ / د ګاونډیانو شخړې
C – د بیلابیلو ټولنو / کلیو ترمنځ
D – د وسله والو پخلاینې ته لاره هوارول
E – د شخړې حل کول
F – له وسله والو مخالفینو سره شخړه / د وسله والو مخالفینو او حکومت ترمنځ شخړه





A – منابع / د ځمکې پر سر شخړې
B – کورنۍ / د ګاونډیانو شخړې
C – د بیلابیلو ټولنو / کلیو ترمنځ
D – د وسله والو پخلاینې ته لاره هوارول
E – د شخړې حل کول
F – له وسله والو مخالفینو سره شخړه / د وسله والو مخالفینو او حکومت ترمنځ شخړه
G – نور





A – منابع / د ځمکې پر سر شخړې
B – کورنۍ / د ګاونډیانو شخړې
C – د بیلابیلو ټولنو / کلیو ترمنځ
D – د وسله والو پخلاینې ته لاره هوارول
E – د شخړې حل کول
F – له وسله والو مخالفینو سره شخړه / د وسله والو مخالفینو او حکومت ترمنځ شخړه
G – نور


**لومړی شکل:** هغه شخړې چې د سولې د خبرو د ګډونوالو یوې ټاکل شوې برخې حل کړې وې، د ننګرهار، هرات، کندهار او بلخ په ولایتونو کې. په شکلونو کې د ځوابونو تکرار په ګوته شوی دی، څکه دغه کسانو تر یوې زیاتو شخړو کې منځګړیتوب کړی دی. شکل د منابعو / ځمکو پر سر او د کورنیو / کلیو په شخړو کې زیات ګډون او د وسله والو او حکومت ترمنځ شخړو کې لږ ګډون په ګوته کوي.





A – له پخلا شويو کسانو سره مرسته کول
B – د جنګياليو هڅول تر څو د سولې له پروسې سره يوځای شي
C – د دندو په پيدا کولو کې مرسته ترڅو نور د اقتصادي ستونزو له امله جګړو ته مخه نکړي
D – د عدالت رامنځته کول
E – په پخلاينه کې کار کول
F – له فساد سره مبارزه کول
G – د ټولنې لپاره د اهميت وړ موضوع ګانو ملاتړ کول
H – نور (يوې ښځې د ښځو د حقونو په اړه کار کول ياد کړل)




A – له پخلا شويو کسانو سره مرسته کول
B – د جنګياليو هڅول تر څو د سولې له پروسې سره يوځای شي
C – د دندو په پيدا کولو کې مرسته ترڅو نور د اقتصادي ستونزو له امله جګړو ته مخه نکړي
D – د عدالت رامنځته کول
E – په پخلاينه کې کار کول
F – له فساد سره مبارزه کول
G – د ټولنې لپاره د اهميت وړ موضوع ګانو ملاتړ کول
H – نور (په دغه برخه کې د پوهاوي لوړول)




A – له پخلا شويو کسانو سره مرسته کول
B – د جنګياليو هڅول تر څو د سولې له پروسې سره يوځای شي
C – د دندو په پيدا کولو کې مرسته ترڅو نور د اقتصادي ستونزو له امله جګړو ته مخه نکړي
D – د عدالت رامنځته کول
E – په پخلاينه کې کار کول
F – له فساد سره مبارزه کول
G – د ټولنې لپاره د اهميت وړ موضوع ګانو ملاتړ کول
H – نور (ورکشاپونه او د سولې کنفرانسونه؛ د ښځو ساتنه؛ او له جنګياليو سره رواني مرسته ياد شول)




A – له پخلا شويو کسانو سره مرسته کول
B – د جنګياليو هڅول تر څو د سولې له پروسې سره يوځای شي
C – د دندو په پيدا کولو کې مرسته ترڅو نور د اقتصادي ستونزو له امله جګړو ته مخه نکړي
D – د عدالت رامنځته کول
E – په پخلاينه کې کار کول
F – له فساد سره مبارزه کول
G – د ټولنې لپاره د اهميت وړ موضوع ګانو ملاتړ کول
H – نور (ورکشاپونه او د سولې کنفرانسونه؛ د ښځو ساتنه؛ او له جنګياليو سره رواني مرسته ياد شول)

**شکل ۲:** د ننګرهار، هرات، کندهار، او بلخ په ولايتونو کې د سولې د خبرو د ګډونوالو څخه د يوې ټاکل شوې ډلې لخوا د سولې راوستلو فعاليتونه. شکلونه د ځوابونو تکرار په نښه کوي څکه دغه خلک د سولې راوستلو تر يو په زيات ډولونو کې بوخت وو. معلومات د کورنۍ او کلي په کچه د عدالت راوستلو او ملاتړ په برخه کې زيات ګډون په نښه کوي.

دغه ټکي ته په پام سره، ځواب ورکوونکو ویل چې په دغه پروسه کې نورګامونه باید په ملي او سیمه ییزه کچه باندې پورته شي[151]. په پای کې ځینې ځواب ورکوونکي په دې باور وو چې د دوی لومړنۍ دنده د وسله والو ډلو او حکومت تر منځ نه بلکې د انفرادي وسله والو او د دوی د ټولنو ترمنځ ده – چې باید پکې په پخلاینه او عدالت تمرکز وشي. په حقیقت کې، په داسې حال کې چې د اعتبار وړ سیمه ییز مشران په ډېرېدونکي ډول نه غواړي د حکومت او وسله والو مخالفینو ترمنځ د منځګړو په ډول رول ولوبوي، خو دوی لېواله دي چې په هغه پخلاینه کې رول ولوبوي چې د دوی د ټولنو په تړاو وي. دغه لېوالتیا له هغه څه سره په همغږۍ کې ده چې د ټولنې مشران یې له مخکې څخه ترسره کوي. لکه څنګه چې په دویم شکل کې څرګندیږي، د سولې د خبرو د سروې شووګډونوالو یو مهم شمېر یې په خپلو ټولنو کې د عدالت او پخلاینې په برخه کې بوخت وو، چې ښایي د دوی دا کار به یوازې د وسله والو مخالفینو په اړه نه و.

د زیاترو ځواب ورکوونکو په اند منځګړیتوب او یا په ځانګړي ډول د منځګړیتوب ناکامي په ولایتي کچه د سولې له ولایتي کمېټو سره تړلې ده. د سولې د ولایتي کمېټو اصلي دنده د افغانستان د سولې د پروګرام له پیل څخه څرګنده نه ده او همدا حالت نن هم دوام لري. که څه هم د پروګرام اسناد په ډاګه کوي چې دغه کمېټې د توسعې او خبرو[152] مسوولیت لري، خو د حکومت په ډول د دوی وړتیا ترڅو خبرې اترې ترسره کړي محدوده ده: لومړی د یو ملي چوکاټ د نه شتوالي له امله او دویم د نورو حکومتي پیاوړو کسانو د لاسوهنې له امله[153]. د توسعې د فعالیتونو په برخه کې هم د ولایتي کمېټو وړتیا محدوده ده. نږدې ټولو ځواب ورکوونکو ویل چې په اوسني حالت کې بې پرېتوب له وسله والو سره د خبرو لپاره ترټولو غوره لاره ده.

په همدې ډول ډېری خلک وایي چې دغه پروسه به هېڅ ګټه ونه لري که د سولې ولایتي کمېټې – چې د حکومت له امنیتي چارواکو یا د طالبانو له رقیبانو له جوړه شوې وي – د افغان حکومت په استازیتوب پراختیایی فعالیتونه پر مخ بوځي[154]. که څه هم د پروګرام اسناد په ډاګه کوي چې ډېری شته ناخوښۍ او د پخلاینې د پروسې خنډونه د وسله والو ډلو او حکومت ترمنځ دي، نو ځکه شوراګانې باید له دربیمګړو منځګړو څخه جوړې شوې وي ترڅو د پخلاینې پروسه اسانه کړي، خو دا ډول شوراګانې هیڅکله هم جوړې نه شوې[155].

په هر حال، ځواب ورکوونکو ویل چې اوسمهال ځواب دا نه دی، چې د سولې په ولایتي کمېټو کې له اساسي بدلونونو راوستلو پرته دې ډېرې شوراګانې جوړې شي – داسې جوړښتونه چې د سولې له ولایتي کمیټو سره به موازي وي. د سولې د خبرو ډیری ګډونوالو او ځواب ورکوونکو او په ځینو ځایونو کې خپله د سولې د ولایتي کمېټو غړو ویل چې لومړی باید د نوو کمېټو د غړو په ټاکنې کې غور وشي. ډېری په دې اند وو، چې د ټاکنې واک باید له

[151] ګڼې مرکې او د سولې خبرې، ۲۰۱۵

[152] «کمیټه باید د ټولو لپاره وي او غړي به یې د خپلو اړیکو په کارولو سره جګړه کوونکو ډلو ته د سیاسي او ټولنیزې رسیدنې لاره هواره کړي، او داسې خبرې به رامنځته کړي چې د پخلاینې لامل شي» (پنځمه ضمیمه: سیاسي او ټولنیزه توسعه، باور جوړول او خبرې)

[153] د اړیکو د ادارې پخوانۍ څیړنې په ډاګه کړې ده چې د ارزوګان په ولایت کې د سولې د ولایتي کمیټې کار د پولیس د پخواني مشر لخوا له خنډ سره مخ شوی و، ځکه ده غوښتي و چې د پخلاینې ټول فعالیتونه باید د ده لخوا ترسره شي او دی به دهغو پخلا شویو کسانو د امنیت داډ ورنکړي چې د ده له خوښې پرته پخلا شوي دي.

[154] د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر کې په بلخ کې د مدنې ټولنې له فعال سره مرکه، د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په میاشت کې په کندهار کې له قومي مشرانو سره زیاتې مرکې.

[155] په پنځمه ضمیمه کې د ولایتي خفګان د حل د فعالیتونو په برخه کې داسې راغلي دي: «خبرې او د محلي شورا اداره یا د سولې او پخلاینې لپاره د ولسوالۍ ورته شوراګانې چې باید په هغو ځایونو کې خبرو ته لاره هواره کړي چې د حکومت د استازیتوب څخه په مستقیم ډول خفګانونه رامنځته شوي وي» (پنځمه ضمیمه: سیاسي او ټولنیزه توسعه، باور جوړونه او خبرې)

والیانو واخیستل او خپله ټولنو ته ورکړل شي. په جلال اباد کې د سولې د خبروګېونوالو د دغه کار لپاره په بېلابېلو لارو بحث وکړ، چې یوه برخه یې په لاندې ډول ده:

یو ځوګېونوالو وړاندیز وکړ چې د سولې د شوراګانو جوړښت دې داسې بدلون وکړي چې د جګړې دواړه غاړې یې د جوړولو په برخه کې نظر ورکړي. ډېرو خلکو ورته پلان یاد کړ: حکومت او وسله وال مخالفین باید ۵۰۰ نومونه وټاکي (هر یو ۲۵۰ نومونه). له دغو ۵۰۰ کسانو څخه باید په ګډه ۱۰۰ کسان وټاکل شي ترڅو د ملي او ولایتي پخلاینې، سولې راوستلو او سولې جوړولو فعالیتونه پرمخ بوځي. په ډاګه شوه چې دا به تر ټولو غوره لاره وي ترڅو د سولې شوراګانې وتوانیږي چې د جګړې دواړه غاړې سولې ته کېنوي[156].

که څه هم دغه پلان په پوره ډول نه دی څېړل شوی او باید لپاره یې یو پیاوړی سیستم جوړ شي ترڅو پروسه له سیاسي کیدو وژغورې، خو بحث د زیاتې بې پلوۍ یوه غوښتنه په ډاګه کوي ترڅو یو داسې جوړښت رامنځته شي چې په زیات اغیزناک ډول د سولې خبرې پر مخ بوځي. دغه خبره یوه داسې طرحه په ګوته کوي چې پکې به ملي او ولایتي پروسې له یو بل سره ډېرې اړیکې پیدا کړي. که څه هم ډېرو ځواب ورکوونکو د داسې جوړښتونو په اړه ټینګار کاوه خو بیا هم پرته له دې چې د داسې جوړښتونو پراخوالی او قانونیت په پام کې ونیسو، د داسې جوړښتونو جوړول به بې ګټې وي ترڅو چې د جګړې دواړه غاړې د ناخوښیو او ستونزو د په نښه کولو لپاره هوډ ونه کړي.

## 4. د ټولنې د رغونې پروژې او انتقالي مرسته

که حکومت موږ ته پام ونه کړي او زموږ بېوزلي له منځه یو نه سي، موږ به بېرته له وسله والو سره یوځای شو او بېرته به جګړه پیل کړو ځکه وسله وال خو لږ تر لږه موږ ته پوره پیسې راکوي.
په لوګر کې یو پخلا شوی جنګیالی

دوی (د افغانستان دسولې پروګرام) داسی انګیری چه طالبان یوازې د دندو نه لرلو له امله جګړه کوي. طالبان ځکه جګړه کوي چې دوی په هغه څه باور لري چې لپاره یې جنګیږي.
د کندهار یو قومي مشر

په ټول هېواد کې له برخه والو سره پر مرکو سربېره، په دغه څېړنه کې په لوګر او هرات ولایتونو کې د افغانستان د سولې د پروګرام انتقالي مرستو ته ژوره کتنه وشوه، د سولې د پروګرام له ولایتي چارواکو، اړوندو ریاستونو، پخلا شوو کسانو او د هغو سیمو له ټولنو سره مرکې وشوې چې د سولې د پروګرام پروژې پکې پلې شوې دي، د دغو پروژو د ارزونې لپاره ساحوي لیدنې هم وشوې (په لومړی مل پاڼه کې د هرات او لوګر په اړه معلومات وګورئ)[157]. په څېړنه کې څرګنده شوه چې د سولې د پروګرام پرمختیایي پروژې – چې ډېری یې لنډمهالې، کوچنۍ زیربنایي پروژې دي لکه څاګان، استنادي دېوالونه او د ځنګلونو پروژې – تر ډیره په ښه ډول او پر خپل وخت پلې شوې دي، خو ټولنې هېڅ نه پوهېدې چې دغه پروژې به هم د پخلاینې له پروسې سره تړلې وي. که څه هم دغه پروژې د هغو ټولنې د

---

[156] په ختیځ کې د سولې سیمه ییزې خبرې، یاددښتونه، ننګرهار، د ۲۰۱۵ کال د جولای میاشت
[157] د څیړنې ټیم له پنجشیر څخه هم لیدنه وکړه، خو په دغه ولایت کې نه کومه پروژه پلې شوې او نه کوم جنګیالی پخلا شوی.

ګټې لپاره جوړې شوې دي، چې پکې جنګیالي پخلا شوي وي، خو ټولنو په دې اړه بې خبري وښوده چې په پایله کې یې د دغو پروژو موخه ګونګه پاتې کېږي – موخه یې دا ده چې نه یوازې د پخلا شووکسانو بلکې خپله د ټولنې اړتیاوې هم حل شي. په لوګر کې د دغې څېړنې پرمهال څرګنده شوه، چې بله ستونزه چې ټولنې نه شي کولای دغه پروژې د سولې له پروګرام سره وتړي دا ده، چې ډېری وخت په دغو پروژوکې هېڅ پخلا شوي کسان نه وي ګومارل شوي. په هرات کې په پرتلیز ډول زیات پخلا شوي کسان د ټولنیز پرمختګ په هغو پروژوکې بوخت وو، چې د سولې پروګرام یې ملاتړ کاوه، خو د پخلا شووکسانو ټولنو ته د دغو پروژو مخامخ ګټې روښانه نه وې. له پخلا شووکسانو او د سولې د پروګرام پر چارواکو سربېره، ډېری ځواب ورکوونکو په ټول هېوادکې د مرستو پر بنسټ ولاړه دغه تګلاره تر پوښتنو لاندې راوستله. لکه څنګه چې یوه قومي مشر ویل: «دوی (د سولې پروګرام) باور لري چې طالبان یوازې د دندو نه لرلو له امله جګړه کوي. طالبان ځکه جګړه کوي چې دوی په هغه څه باور لري چې لپاره یې جنګیږي»[158]. نورو ویل په داسې حال کې چې مرسته او پرمختګ به ښایي د ټولنې لپاره مهمې موخې وي، خو د پخلا شووکسانو او د هغوی د ټولنو په وړاندې لومړنۍ ننګونې د امنیت هغه دي لکه د طالبانو له خوا د غچ اخیستلو بریدونه، او ښایي د پرمختګ یا لنډمهالو انتقالي مرستو نه شتون به ښایي کومه ننګونه نه وي.

په لوګر او هرات کې پخلا شووکسانو ویل چې دوی ته هغه مرستې ورنه کړل شوې چې ژمنه یې شوې وه نو ځکه بېوزلي یو له هغو لاملونو څخه دی چې موږ یې بېرته له وسله والو سره یوځای کېدو ته اړ کړو. لکه څنګه چې په لوګر کې یو مخکیني طالب ویل: «که حکومت موږ ته پاملرنه ونه کړي او زموږ د بېوزلۍ ستونزه حل نه کړي، موږ اړ یو چې بېرته له وسله والو سره یوځای شو او بېرته جګړه پیل کړو، ځکه لږ تر لږه وسله وال خو موږ ته کافي پیسې راکوي»[159]. په هرات کې یو پخلا شوي کس ویل: «(له کله نه چې موږ د سولې له پروګرام سره یوځای شوي یو) زموږ اقتصادي حالت نور هم خراب شوی دی. کله چې موږ جنګیالي وو پوره خوراکي توکي، معاشونه او ښې وسلې مو ترلاسه کولې. اوسمهال د خوراک لپاره پوره ډوډۍ نه لرو»[160]. د یو حکومتي چارواکي په وینا وسله وال تر حکومت زیاتې پیسې ورکوي او ځینې جنګیالي یې په میاشت کې ۴۰۰۰۰ پاکستانۍ کلدارې (۳۸۰ امریکایي ډالر) تر لاسه کوي[161]، په داسې حال کې چې د سولې پروګرام په میاشت کې ۱۲۰ امریکایي ډالر ورکول کیږي[162]. یو حقیقت چې په بلخ اوکندهارکې ځواب ورکوونکو ورته اشاره وکړه دا دی چې حکومت باید وسله وال جنګیالي په پیسو وانه خلي ځکه په دغه کار سره به جعلي طالبان زیات شي او په سیستم کې به فساد پیل شي[163].

په هر حال سره، ډېری پخلا شوي کسان د خپل شخصي امنیت په اندېښنه کې و او د حکومت ناتواني چې دوی د وسله والو له حملو څخه وساتي یو له هغو لاملونو څخه و چې دوی اړ کوي ترڅو بیرته جګړې ته مخه کړي. په هرات کې د دوو ډله ییزو بحثونو پرمهال دغه ستونزه ډیرو هغو پخلا شویوکسانو یاده کړه، چې مخکې له ۱۰ تر ۲۰ کلونو

---

[158] د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په میاشت کې د کندهار له یوه قومي مشر سره مرکه
[159] د ۲۰۱۵ کال د جولای په میاشت کې په لوګر کې له پخلا شویو کسانو سره ډلییز بحث
[160] د ۲۰۱۵ کال د هرات په میاشت کې په لوګر کې له پخلا شویو کسانو سره ډلییز بحث
[161] د ۲۰۱۵ کال د اګست په میاشت کې د هرات د کلیو پراختیا له ریاست سره مرکه
[162] «د سولې د پروګرام د پرمختګ برخه»، د سولې عالي شورا، ۲۰۱۱
http://www.hpc.org.af/english/index.php?option=com_content&view=article&id=90&Itemid=49.
[163] په شمال کې د سیمه ییزو خبرو ګډونوال، بلخ، د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر میاشت؛ د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په میاشت کې د کندهار له قومي مشر سره مرکه.

پورې د سیمه ییزو زورواکانو سره د حکومت په وسله وال مخالفت کې و[164]. یو تن وویل، «ما ته طالبانو اخطار راکړ او په مرګ یې وګواښولم. حکومت هم له ما سره مرسته ونکړه؛ دوی یوازې د شپږو میاشتو لپاره مرسته راسره وکړه او اوس وزګاره یم»[165]. ډیرو وویل چې د پخلا شویو کسانو لپاره ناامني چې په ازادۍ سره نشي ګرځیدلای، او د مالي سرچینو نشتون هغه لاملونه دي چې بیرته له وسله وال مخالفت سره د دوی د یوځای کیدو لامل کیږي[166].

په لوګر او هرات کې هم د سولې ولایتي کمیټو او هم د سولې ولایتي دارالانشاګانو و منله چې د سولې له پروګرام سره د یوځای کیدونکو خلکو لپاره د امنیت موضوع یوه لویه ننګونه ده او دوی نشي کولای چې د هغوی لپاره د امنیت شرایط برابر کړي. دوی وویل چې که طالبان پوه شي چې یو څوک له دولت سره یوځای کیږي نو په ورځني ډول اخطارونه ورکوي، او کله کله د دوی کورنۍ هم ګواښي. په هرات کې د یو ریاست یو چارواکی چې د سولې د پروګرام په پروژو کې دخیل و همدغه نظر تایید کړ، «وسله وال هغه خلک ګواښي چې د سولې له پروسې سره یوځای کیږي او د همدې له امله حقیقي جنګیالي هیڅکله هم نه غواړي د سولې له پروسې سره یوځای شي»[167].

د پیسو او پرمختګ ترځنګ نور عوامل هم شته چې پر بنسټ یې وسله وال د سولې له پروګرام سره یو ځای کیدو ته زړه ښه کوي. په لوګر کې وسله والو وویل چې د وطن دوستۍ لپاره یې سولې ته مخه کړه ترڅو د دوی په ولایت کې جګړې پای ته ورسیږي، او یوې ډلې بیا وویل که یی چې ولیدل بهرني ځواکونه له افغانستان څخه وځي نو د جګړې د پای ته رسولو پریکړه یې وکړه ځکه جهاد د بهرنیو ځواکونو په وړاندې روا دی او د افغانانو سره جهاد روا ندی[168]. پر دې سربیره، د سولې له پروسې سره د وسله والو د ځواکونو مهم لامل پیسې او پرمختګ نه بلکه د حکومت په زور او واک باندې د دوی باور و چې وبه کړای شي د دوی د ځانونو، کورنیو او نږدې ټولنو ساتنه به وکړي. دې نظر ته په پام سره، د حکومت د فساد موضوع ګانو او د خلکو د ځانګړو طبقو په وړاندې د دولت زور زیاتي د خلکو باور له منځه وړی دی چې په پایله کې یې خلک نه غواړي له دغه پروسې سره یوځای شي[169].

د هرات، لوګر او بلخ په څیر ولایتونو کې د ټولنو ترمنځ دا نظر و چې په داسې حال کې چې د سولې د پروګرام د ټولنیز پرمختګ ستراتیژي د ټولنو لپاره تاواني نه ده خو نشي کولای په سیمه ییزه کچه پخلاینې ته لاره هواره کړي – چې په اند یې دا یو ښه کار دی چې ټولنه پرمختګ وکړي خو دغه کار د سولې او پخلاینې په برخه کې مرسته نه شي کولای. په هر حال سره، په کندهار کې ځواب ورکوونکو وویل چې مرستو منفي اغیز رامنځته کړی او یو مشر وویل: «هر څه ته د پیسو رنګ ورکړل شوی دی؛ داکار زموږ ټولنه زیانمنوي ځکه هیڅوک هم سولې ته د مشترکو لاملونو له امله نه راځي بلکه د پیسو لپاره راځي»[170]. ډیرو ځواب ورکوونکو وویل چې د دغو پروژو پیسو دغه پروسه نوره هم پیچلې کړې ده، په داسې حال کې چې نورو بیا وویل چې مرستو او د پرمختګ کارونو پخپله د سولې په پروګرام کې فساد ته لاره هواره کړې ده:

164 د ۲۰۱۵ کال د اګست په میاشت کې په هرات کې د پخلا شوی کسانوسره دوه ډلییز بحثونه
165 د ۲۰۱۵ کال د اګست په میاشت کې په هرات کې د پخلا شوی کسانوسره ډلییز بحثونه
166 د ۲۰۱۵ کال د اګست په میاشت کې په هرات کې د پخلا شوی کسانوسره دوه ډلییز بحثونه
167 د ۲۰۱۵ کال د اګست په میاشت کې په هرات کې له قومي مشر سره مرکه
168 د ۲۰۱۵ کال د جولای په میاشت کې په لوګر کې د پخلا شوی کسانوسره دوه ډلییز بحثونه
169 د ۲۰۱۵ کال د اګست په میاشت کې په هرات او لوګر کې د پخلا شوی کسانوسره ډلییز بحثونه
170 د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په میاشت کې په کندهار کې د مدني ټولنې له غړي سره مرکه

حکومت باید د سولې په پروسه کې د پیسو جریان بندکړي ځکه اوسمهال د سولې کمیټې او نور چارواکي یې د پیسو په راټولولو بوخت دي او د توسعې او منځګړیتوب په برخه کې یې خپل مسولیتونه په بشپړ ډول له یاده ایستلي دي[171].

د سولې د پروګرام د ټولنیز پرمختګ او د پخلاینې د مرستو د تګلارې لپاره مهم دلیل دا و چې ډیر خلک د اقتصادي موخو لپاره جګړه کوي، او دوی ته د اقتصادي ګټو د برابرولو له لارې کولای شو دوی له جګړې راوګرځوو[172]. په داسې حال کې چې ځواب ورکوونکو وویل چې دا په حقیقت کې د پخلاینې یوه برخه وه، دوی وویل چې په دغه برخه باندې تر اړتیا زیاته تکیه شوې ده – لومړی دا چې داکار په اسانۍ سره ترسره کیدای شوای (په پخلاینه کې د عدالت او حساب ورکولو پر ځای د ساختماني کارونو ترسره کول) او دویم دا چې د دغو منابعو مدیریت د دې لامل شو چې توسعه او منځګړیتوب د سولې د ولایتي کمیټو مرکزي دنده وګرځي.

که څه هم ډیرو هغو پخلا شویو کسانو چې موږ خبرې ورسره وکړې وویل چې د سولې په پروګرام کې لویو مرستو ته اړتیا ده، خو دا نه وه څرګنده چې ایا دغه ډول مرستې او د ټولنیز پرمختګ پروګرامونه کولای شي جنګیالي وهڅوي ترڅو له پروګرام سره یوځای شي، او د پروژو پلی کولو په ځینو سیمو کې ډیر لږ، یا هیڅ او یا هم د کندهار په څیر منفي اغیز درلود. که نور هیڅ هم نه وي خو لږ تر لږه د سولې پروګرام د جنګیالیو د هڅولو او د پخلاینې د هڅولو د پیاوړو ستراتیژیو لپاره د یوې اقتصادي تګلارې په محدودیتونو باندې پوه شوی دي، چې دا خبره په ورستیو څیړنو لکه په ۲۰۱۵ کال کې د (میرسي کورپس) لخوا په خپاره شوي رپوټ کې څرګنده شوې ده او په دغه رپوټ کې څرګنده شوې ده چې د بې کارۍ او اقتصادي ستونزو په پرتله بې عدالتی د جګړو لوی عامل دی[173].

## 5. بښنه او انتقالي عدالت

بښنه به زموږ سولې او امنیت ته هیڅ ګټه ونه رسوي ځکه چې لاهم په حکومت کې مجرمین په لوړو پوستونو کار کوي. په حقیقت کې مجرمین سوله او قانوني چلند نه غواړي؛ که دوی دا کار غوښتلای نو خپل ځانونه به یې د قانوني تعقیب لپاره سپارلي وای.
په لوګر کې د ټولنې یو غړی

باید یوه عمومي بښنه وشي. انتقالي عدالت د پلي کیدو وړ نه دی ځکه جګړه ماران به هېڅکله هم د سولې له پروسې سره یو ځای نه شي که دوی پوه شي چې له انتقالي عدالت سره به مخ کیږي. نو یوازېنی لاره دا ده، چې د ټولو لپاره عمومي بښنه وشي.
په کونړ کې د ټولنې یو غړی

[171] د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په میاشت کې په کندهار کې له قومي مشر سره مرکه
[172] متې والدام، «طلايي چانس؟ په افغانستان کې د پخلاینې خطرونه، ننګونې او اصول»، د افغانستان د څیړونکو شبکه، ۲۰۱۰-http://www.afghanistan analysts.org/wp-content/uploads/downloads/2012/10/2010_AAN_Golden_Surrender.pdf.
[173] «ځوانان او پایلې: بې کاري، بې عدالتي او تاوتریخوالی»، میرسي کورپس، ۲۰۱۵ https://www.mercycorps.org/sites/default/files/MercyCorps_YouthConsequencesReport_2015.pdf.

مرکه کوونکو د عدالت او بښنې د موضوع ګانو په اړه زیات شمیر نظرونه راټول کړل دغه نظرونه له هغو خلکو هم راټول شول چې ان تر ۱۹۷۰ کلونو پورې حادثاتو په اړه یې د پوره حساب ورکولو او انتقالي عدالت ملاتړ کاوه او له هغو خلکو هم راټول شول چې په اند یې د جنګیالیو د هڅولو او د حکومت د وران کارو د پای ته رسولو ښه لاره یوه پراخه بښنه ده، د دوی په منځ کې هغه خلک هم و چې د اسنادو راټولولو، بښنې غوښتلو او د اړتیا په صورت کې د مجرمینو د مجازات کولو غوښتنه یې کوله. دغه نظرونه تر ډیره شخصي و، او تر ډیره له دې امله چې په یو شخص یا د هغه په کورنۍ باندې د دغو تاوتریخوالو پر مهال څه زیان رسیدلی دی. د نظرونو په برخه کې مستقیمه تجربه د ولایت یا جنسیت پر بنسټ ډیره ټاکونکې وه، خو بیا هم ښځې د نارینه وو په پرتله ډیرې د عدالت غوښتونکې وې. د افغانستان په ختیځ او لویدیځ کې د بښنې او عدالت بحث دکلیوالو او ښاري سیمو پر بنسټ ویشل شوی و، دکلیوالو سیمو خلک د بښنې طرفدار و او د ښارونو خلکو بیا د عدالت غوښتنه کوله.

ډیری ځواب ورکوونکو د بښنې موضوع د افغانستان د ۳۵ کلنې جګړې له موضوع سره تړله، او د مخکینیو لسیزو د انتقالي عدالت موضوع ګانو ته یې اشاره کوله چې پایله یې نه درلوده، او دوی ویل چې د انتقالي عدالت موضوع باید یوازې د طالبانو په اړه نه بلکه د هغو خلکو په اړه هم وي چې په حکومت کې دي او له ۲۰۰۱ کال مخکې په جرمونو کې ښکیل و. په هرات کې د ټولنې د ښځینه غړو سره د یو بحث پر مهال یوې ګډونوالې وویل:

> خلک د تیرو څلورو لسیزو بده او ویروونکې تجربه لري، او مجرمین باید مجازات شي. ځینې خلک د خپلو کورونو پریښودلو ته اړ شول، او د جګړو پر مهال په زرګونه بې ګناه خلک ووژل او زخمیان شول، نو هغه وخت د عدالت څرک هم نه و. زما په اند باید مجرمین مجازات شي ترڅو دا د نورو لپاره یو درس وي. که مجرمین وبښل شي دا کار به جرمونه زیات کړي او دوی به وهڅوي چې خپل د تاوتریخوالي کړنې بیا تکرار کړي[174].

په لوګر کې هم یوه ځواب ورکوونکي دغه نظر تایید کړ:

> بښنه به زمونږ سولې او امنیت ته هیڅ ګټه ونه رسوي ځکه چې لاهم په حکومت کې مجرمین په لوړو پوستونو کار کوي. په حقیقت کې مجرمین سوله او قانوني چلند نه غواړي؛ که دوی دا کار غوښتلای نو خپل ځانونه به یې د قانوني تعقیب لپاره سپارلی وای[175].

په کندهار کې هم ورته نظر ورکړل شو:

> راځې ریښتیني اوسو. څوک بښنه غواړي؟ لېترلږه په جنوبي افغانستان کې دا طالبان نه دي چې باید بښنه وغواړي بلکه دا خپله شته حکومت دی چې باید وبښل شي[176]؟

هغو خلکو چې د بښنې طرفدار و خپل ملاتړ یې په بیلا بیلو ډولونو څرګند کړ. مهم دلیل یې دا و چې دا کار به اوسني مخالفین سولې ته وهڅوي. لکه څنګه چې د ننګرهار د مدني ټولنې یو فعال وویل: «هیڅوک به هم و نه غواړي خپلې وسلې په ځمکه کیږدي که پوه شي چې په هیواد کې د سولې په راتلو سره به دوی په زندان کې واچول

---

[174] د ۲۰۱۵ کال د اګست په میاشت کې په هرات کې د ټولنې له ښځینه غړو سره ډلییز بحث
[175] د ۲۰۱۵ کال د جولای په میاشت کې په لوګر کې د ټولنې له نارینه غړو سره ډلییز بحث
[176] د ۲۰۱۵ کال د سپټمبر په میاشت کې د کندهار له قومي مشر سره مرکه

شي»[177]. که څه هم دغه دلیل منطقي ښکاري، خو د دغه او نورو څېړنو موندنې د ډېرو ځواب ورکوونکو هغه اندیښنه په ګوته کوي – ډېری جنګیالي د دې لپاره د سولې له پروسې سره یوځای کېږي ترڅو وروسته بیرته له ملیشه ډلو سره یوځای شي – چې ښښنه ځکه د سولې پروسه خرابوي چې پخواني او اوسني جنګیالی به دا هیله پیدا کړي چې د خپلو کړنو له امله به ترې حساب نه اخیستل کیږي. دکندهار د مدني ټولنې یو فعال هڅه وکړه چې موازنه برابره کړي، کله چې ده بیرته د جګړې د پیل کیدو د مخنیوي لپاره د ښښنې ملاتړ کولو نو ویې ویل: «له ښښنې وروسته باید په ملي کچه داسې سوله رامنځ ته شي چې جګړې ته د پای ټکی کیږدي؛ خو دا کار باید یوازې د مهمو جنګیالیو د جلبولو په موخه ونشي»[178]. دکنړ څخه یو بل ځواب ورکوونکي وویل چې د طالبانو له مخالفت ها خوا د مهمو وران کارانو د ستونزې د حل لپاره ترټولو غوره لاره ښښنه ده:

باید یوه عمومي ښښنه وشي. انتقالي عدالت د پلي کیدو وړ ندی ځکه جګړه ماران به هیڅکله هم د سولې له پروسې سره یو ځای نشي که دوی پوه شي چې له انتقالي عدالت سره به مخ کیږي. نو یوازینی لاره دا ده چې د ټولو لپاره عمومي ښښنه وشي[179].

نورو ښښنه له دیني اړخه ښه وبلله - «مجرمین باید وبښل شي ځکه دوی په ناپوهۍ سره تاوتریخوالی او جګړې کړې دي. اسلام وایي چې ښښنه تر غچ اخیستلو غوره ده[180]» - او د دغه خبرې د ملاتړ لپاره یې له قران کریم، احادیثو او اسلامي تاریخ څخه بیلا بیلې بیلګې ورکړې[181]. نورو بیا ښښنه د ملي توب او وروړګلوۍ له اړخه ښه بلله: «دوی باید وبښل شي ځکه که هر څو یې جرمونه تر سره کړي دي خو بیاهم افغانان دي»[182].

د ننګرهار او کنړ د ناامنو ولایتونو څخه ځواب ورکوونکو د خبرو میز ته د طالبانو د راوستلو لپاره ښښنه غوره لار وبلله. دوی د تاوتریخوالي د پای ته رسیدو غوښتنه کوله، او د دوی لپاره د تیرې زمانې په پرتله د راتلونکې سولې هیلې ډېرې مهمې وې[183]. دغه نظر په هغه ناسته کې هم وړاندې شو چې له سلو زیاتو خلکو پکې ګډون کړی و، او دا په زړه پورې وه چې څنګه یو شمیر خلک د عدالت او یو شمیر نور د ښښنې غوښتنه کوي. هغه چې د عدالت غوښتنه یې کوله په عمومي ډول له ښاري سیمو څخه و او یا د مدني ټولنې فعالین و؛ دوی ښایي دکلیوالو په پرتله چې د ښښنې غوښتونکي وو، د جګړو او تاوتریخوالي له خطر سره ډېر نه وو مخ. په هرات کې هم د یوې ناستې د ګډونوالو ترمنځ د ښښنې او عدالت پر سر همدا ویش موجود و، دوی تر ډېره د طالبانو لپاره په جدي ډول د عدالت غوښتنه کوله[184].

په هر حال سره، که څه هم په ټول هیواد کې ډېر خلک د عمومي ښښنې غوښتونکي و خو بل لوري ته بیا نور ډېر خلک د مجازاتو په ګډون د عدالت غوښتونکي و، دوی ویل چې هغه خلک چې په تیر کې یې ناوړه کړنې ترسره کړې دي باید د ښښنې غوښتنه وکړي او د دغه پروسې مشري باید د ټولنې اوکلیو مشران وکړي. ډېری بیا په دې اند و

---

177 د ۲۰۱۵ کال د جولای په میاشت کې په ننګرهار کې د مدني ټولنې له فعال او د ټولنیز منځګړي سره مرکه
178 د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په میاشت کې په کندهار کې د مدني ټولنې له فعال سره مرکه
179 د کنړ له ټولنیز مشر سره مرکه، ننګرهار، د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر میاشت
180 په لوګر کې له پخلا شویو کسانو سره ډلییز بحث، د ۲۰۱۵ کال د جولای میاشت
181 د ختیځ سیمې د سولې د خبرو ګډونوال، ننګرهار، د ۲۰۱۵ کال د جولای میاشت
182 په هرات کې د ټولنې له نارینه غړو سره ډلییز بحث، د ۲۰۱۵ کال د اګست میاشت
183 د ختیځ سیمې د سولې د خبرو ګډونوال، ننګرهار، د ۲۰۱۵ کال د جولای میاشت
184 د لویدیځ سیمې د سولې د خبرو ګډونوال، هرات، د ۲۰۱۵ کال د اګست میاشت

چې پخلاینه له بښنې او هیرولو سره اړیکه نلري. لکه څنګه چې د سوېلي سیمې په ناسته کې یوګډونوال وویل: «په یوه ټولنه کې پخلاینه د عمومي بښنې معنا نلري. لومړی باید د بښنې غوښتنه وشي»[185]. یا لکه څنګه چې په هرات کې د لویدیځې سیمې په ناسته کې ګډونوالو وویل:

زما په اند د خلکو لپاره دا مهمه ده چې له مخالفو وسله والو ډلو څخه د دوی د ټولنو په وړاندې د خپلو جرمنو په اړه اعتراف واوري. او زه باور لرم که دغه وسله والې ډلې غاړه کیږدي نو د ټولنې غړي به دوی وبښي[186].

په هر حال سره، په اوسني حالت کې د پخلاینې په برخه کې د دودیزو سیستمونو ورتیاکار ته اړتیا لري. لکه څنګه چې د افغانستان کارپوه تامس بارفیلډ ویلي دي: «د عامه محکومولو، بښنې او منلو د پروسې په پایله کې غیر دولتي عدلي سیستم پخلاینې ته لاره موموي. [....] په هر حال سره، دغه دودیزې تګلارې په اسانۍ سره نشي کولای د ټولنې په د ننه کې د وسله والو ډلو ترمنځ په شخړوکې رول ولوبوي. او دوی نه دي توانیدلي چې د تیرو ۲۵ کلونو د وسله والو جګړو اړوندو لویو مسایلو د حل کولو په برخه کې ګټور ثابت شي»[187].

د ټولنې د غړو ترمنځ دا نظر هم شته چې د تیرو څلورو لسیزو جرمونه او ظلمونه باید لږ تر لږه ثبت شي[188]. عمومي باور دا و چې داکار باید د یو بیطرفه کمیسیون له لارې وشي او ټول شواهد او اسناد باید په یو محفوظ ځای کې وساتل شي. په هر حال سره، په دې اړه چې په دغو اسنادو به څه وکړو بیلا بیل نظرونه موجود و. ځینو ویل چې دغه اسناد باید د خلکو په واک کې ورکړل شي خو داکار باید په مناسب وخت کې وشی ترڅو د بیا جګړې خطر رامنځته نکړي او په افغانستان کې د رسمي عدلي سیستم له لارې د قانوني تعقیب لپاره بنسټ جوړکړي. په حقیقت کې ټول هغه چې د تاریخي اسنادو د راټولولو ملاتړي وو وویل چې د افغانستان شته موجوده عدلي سیستم اوس د شواهدو د اخیستلو او د قضیو د پرمخ وړلو وړتیا او اعتبار نلري. لکه څنګه چې په هرات کې د پخلا شویو کسانو یوې ډلې وویل:

دغه شواهد باید پټ وساتل شي ځکه حکومت اوسمهال د جګړه مارانو د مجازات کولو وړتیا نلري. کله چې سم وخت راشي بیا باید دغه اسناد خپاره شي[189].

په پنجشیرکې د یوه ډلییز بحث ګډونوال وویل چې ملي او نړیوال محاکم د قانوني تعقیب وړتیا لري، خو ضروري ندی چه دغه اسناد دی د عامو خلکو د لاسرسۍ لپاره خپاره شي:

که د جګړې د جرمونو ریښتیني اسناد راټول شي، نو باید ملي عدلي چارواکو ته د جنګي جرمونو په تړاو د مجرمینو د تعقیب لپاره ورکړل شي. که داسې نه وي بیا باید نړیوالو محاکمو ته و نه سپارل شي. شواهد باید

[185] د جنوب سیمې د سولې د خبرو ګډونوال، کندهار، د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر میاشت
[186] د لویدیځ سیمې د سولې د خبرو ګډونوال، هرات، د ۲۰۱۵ کال د اګست میاشت
[187] تامس بارفیلډ، نعمت نجومي، او ج الکساندر تییر، «د دوو توکیو ټکر: په افغانستان کې د دولتی او غیر دولتي شخړو حل» د متحده ایالاتو د سولې انستیټیوټ، ۲۰۰۶، ۱۶ http://www.usip.org/sites/default/files/file/clash_two_goods.pdf
[188] د ټولنې له ښځینه غړو سره دری ډلییز بحثونه، د ټولنې له نارینه غړو سره څلور ډلییز بحثونه، د ټولنې له مشرانو سره دوه ډلییز بحثونه، له ځوانانو سره دوه ډلییز بحثونه او له پخلا شویو کسانو سره دوه ډلییز بحثونه، هرات، د ۲۰۱۵ کال د اګست میاشت
[189] د ۲۰۱۵ کال په اګست کې په هرات کې له پخلا شویو کسانو سره ډلییز بحث

> په یو محفوظ ځای کې وساتل شي. که حکومت یا اداري د بیلا بیلو جرمونو او ناوړه کړنو اسناد خپاره کړي یوه نوې کورنۍ جګړه به پیل شي[190].

په لوګر کې د یوه ډلییز بحث ګډونوال د حکومتي پوښتنې غوښتنه کوله چې له هغه وروسته باید د خلکو لپاره خپاره شي:

> که خپلواک حکومت او عدلي سیستم موجود وي نو باید د شواهدو د راټولولو او اداره کولو دنده ترسره کړي. دا به ښه وي چې جرمي شواهد د رسنیو له لارې خپاره شي ترڅو هر څوک مجرمین وپیژني او بیا خلکو ته واک ورکړل شي چې دوی ببښي که یې نه ببښي[191].

د ځینو ځواب ورکوونکو په منځ کې ولیدل شول چې د پخلاینې او عدالت غوښتنې په برخه کې د دولت او خپل ځان په منځ کې دوه زړي دي. ځینو ویل چې دولت باید له طالبانو سره روغه وکړي: په عدلي سیستم کې باید ببښنې ته ځای ورکړل شي او دوی د لوړې کچې حکومتي پوستونه او سیاسي ډاډ ورکړل شي ترڅو اوږدمهالي سوله تامین شي. په بل ډول، حکومت باید طالبانو ته ببښنه وکړي. په هر حال سره، ځینو ویل په هغو ځایونو کې چې د ځانګړو جنګیالیو په اړه شواهد موجود وي، باید خلک دا فرصت ولري چې د دوی لپاره د عدالت غوښتنه وکړي. یا په بله ژبه، حکومت باید د پراخو مجازاتو وړتیا ونلري ترڅو د عدالت انتخاب د ځپل شویو خلکو په واک کې پاتې شي[192]. لکه څنګه چې په لوګر کې د یو ډلییز بحث ګډونوال وویل:

> جګړه ځپلي خلک او قربانیان چې د خپلو کورنیو غړي یې له لاسه ورکړي دي، دا حق لري چې مجرمین وبښي یا یې و نه بښي. که عمومي ببښنه وشي دا به انصاف نه وي[193].

په کونړ ولایت کې یو سیمه ییز منځګړي هم وویل که د مجرمینو له سر څخه د زندان ویره لرې شي نو دوی به هغه پریکړې و نه مني چې ټولنیزې جرګې یې د پخلاینې، تعقیب یا مجازاتو په اړه کوي: «جرګه هغه وخت بریالۍ کیږي چې دواړه غاړې پوه شي که خپله ستونزه د جرګې له لارې حل نکړي نو یو یا زیات به یې زندان ته لاړ شي»[194].

په ټولیز ډول دغه موندنې په ځینو مهمو ټکو سیورۍ غوړوي، لومړی، په افغانستان کې د جګړې تېره ۳۵ کلنه دوره له مجازاتو څخه د ببښنې یوه ۳۵ کلنه دوره هم وه. که څه هم نن ورځ ډېری خلک په داسې امنیتي شرایطو کې ژوند کوي چې هلته د عدالت غوښتنه ناشونې ده، خو ډېری ځواب ورکوونکو ویل چې اوسنی حکومت دا وړتیا نه لري چې چا ته ببښنه وکړي او ان خپل ځان هم نه شي ببښلی. وروستۍ ډله د پخلاینې او انتقالي عدالت د ډول په اړه په دوو برخو وېشل شوې وه، که څه هم دوی ټینګار کاوه چې ټولنې او خلک باید دا حق ولري چې د مجرمینو لپاره د مجازاتو غوښتنه وکړي او خپلو ټولنو ته د دودیزو ټګلارو په وسیله جنګیالي بیرته راستانه کړي. که څه هم د جرمونو تعقیب او غیر رسمي پخلاینه / انتقالي عدالت له یو لړښکاره خنډونو سره مخ دي، لکه د دواړو سیستمونو وړتیا او اعتبار، خو بیا هم ځواب ورکوونکو ویل چې دغه ټاکنې باید له پامه ونه غورځول شي. دویم، د حکومت د ۲۰۰۶ کال د سولې، پخلاینې او عدالت د کاري پلان (پنځمه برخه وګورئ) له منځه تلل او په ۲۰۰۸ کال کې د حکومت د

---

190 د ۲۰۱۵ کال په اګست کې په پنجشیر کې له ځوانانو سره ډلییز بحث
191 د ۲۰۱۵ کال په جولای کې په لوګر کې د ټولنې له نارینه غړو سره ډلییز بحث
192 په ننګرهار کې د ختیځ د خبرو ډیری ګډونوال، د ۲۰۱۵ کال د جولای میاشت
193 د ۲۰۱۵ کال په جولای کې په لوګر کې د ټولنې له نارینه غړو سره ډلییز بحث
194 د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر کې په کونړ کې له قومي مشر سره مرکه

عمومي ښښنې د قانون پاس کېدولو هيڅ داسې ثبات را منځته نکړ چې په پام کې و. په حقيقت کې، د ځواب ورکوونکو لپاره لاهم د حساب ورکولو او عدالت موضوع له منځه نه وه تللې.

## 6. سياسي پخلاينه او د واک شريکول

طالبان بايد د امريکا متحدو ايالتونو په ګډون د هغو خلکو شتون ومني چې له دغه حکومت سره همکار دي، او حکومت بايد د طالبانو شتون ومني، البته د يوې مخالفې وسله والې ډلې په ډول نه بلکې د يوې داسې ډلې په ډول چې کولای شي د افغان قوانينو په رڼا کې په واک کې برخه واخلي.

د کندهار يو مشر

د ښښنې او حساب ورکولو له موضوعاتو سره نږدې تړلي موضوعات په ملي او ولايتي حکومت کې د پخلا شووکسانو د شريکولو له لارې هغوی ته په پريکړه کولو کې د برخې  ورکولو په اړه وې. په هر حال سره، په بېلابېلو ولايتونو کې ځواب ورکوونکو ويل چې ډېره ستونزمنه موضوع په حکومت کې د پخوانيو طالبانو شريکول نه دي، بلکې ستونزمنه موضوع دا ده چې حکومتي اداري له هغو فاسدو او ناوړه اشخاصو څخه پاکې شي چې اوس واک لري[195]. په حقيقت کې، ټول هغه چې د واک د شريکولو اړتيا يې يادوله، په دې پوهيدل چې په سيمه ييزه کچه د واک د شريکولو لوی خنډ د خلکو نظر نه بلکې حکومت يا حکومت پلوه زورواکان دي (له ولسوالانو نيولې بيا تر ولايتي شوراګانو غړو او د نشه يي توکو قاچاق وړونکو پورې) چې په حکومت کې د يو بدلون په پايله کې به د دوی واک او ژوند له ګواښ سره مخ شي.

که څه هم ځينو ته د طالبانو کړنې د ښښنې وړ نه وې او د دوی په اند هېڅکله هم د واک شريکولو وړ نه دي، خو دغه نظرونه ډېر لږ وو. د عمومي ښښنې په پرتله په ولايتي او ملي کچه د واک د شريکولو په اړه ډېر توافق وليدل شو، ان دغه توافق د بلخ په شمالي ولايت کې هم وليدل شو. خو له دغه ملاتړ سره بيا داسې خبرې هم وشوې «يوازې هغه چې جرمونه يې نه دي کړي»، نورو ويل چې يو ډول انتقالي عدالت او حساب ورکول هم بايد موجود وي ترڅو ډاډ رامنځته شي هغه خلک چې لاسونه يې د خلکو په وينو سره دي، په واک کې نه شريکيږي او د ساده بې وسلې کولو او پخلاينې پر ځای لومړی بايد يو ډول پيوستون رامنځته شي[196]. په ځانګړي ډول داسې انديښنې هم وې چې د سولې له يو پياوړي هوکړه ليک پرته – چې په هغه کې اساسي قانون په ځانګړي ډول د مساوي حقوقو په اړه ۲۲ مه ماده[197]- تضمين شوې وي، هغه کسان چې له دولت سره يو ځای کيږي کولای شي په تېرو ۱۵ کلونو کې د مساواتو، بشري حقونو، او ښوونيزې برخې په لاسته راوړنو سيورئ وغوړوي. په هر حال سره، د پاليسي په برخه کې ځواب ورکوونکي ډېر نه پوهېدل چې واک بايد څنګه شريک شي او په دغه پروسه کې به سيمه ييزو ټولنو ته کوم

---

[195] د ۲۰۱۵ کال په جولای کې په ننګرهار کې له ملک سره مرکه.

[196] په هرات، کندهار، ننګرهار، بلخ او لوګر کې ګڼې مرکې او ډلييز بحثونه، د ۲۰۱۵ کال له جولای څخه تر سپتمبر پورې

[197] دويم فصل ۲، ۲۲ مه ماده: «د افغان وګړو ترمنځ بايد هر ډول تبعيض او تفرقه بنده شي. د افغانستان وګړي، نارينه او ښځې، د قانون په وړاندې مساوي حقونه او مسوليتونه لري».
http://www.afghanembassy.com.pl/afg/images/pliki/TheConstitution.pdf

رول ورکول شي. ځینو ویل چې لږ تر لږه هغه خلک چې له حکومت سره یو ځای کیږي باید د افغانستان اساسي قانون او نور قوانین ومني، د ښځې غوښتنه وکړي، تاوتریخوالی پریږدي او د ښځو حقونو ته ژمن شي.

د ښځې د موضوع په څیر ځواب ورکوونکو په ځانګړي ډول په جنوب او ختیځ کې، د سیاسي واک شریکولو موضوع ته له لویې تاریخي نظره کتنه کوله. د بیلګې په ډول:

> زما لپاره د طالبانو او شمالي ټلوالې ترمنځ کوم توپیر نشته. که عطا محمد نور (د مجاهدینو مخکښنی قوماندان) کولای شي د بلخ والي شي، بیا ولې یو طالب قوماندان نه شي کولای د یو ولایت والي شي؟ دواړه د افغانستان په ویرانۍ کې ښکېل وو[198].

په بلخ کې د شمالي سیمو د خبرو زیاتوګډونوالو دا نظر ورکړ، چې طالبانو ته په جګړه ماتې نه شو ورکولای او د سولې په پروسه کې باید د واک شریکول وي. دا نظریه چې د واک شریکول به له طالبانو سره د پراخو خبرو پر اساس کیږي او دا نظر په کندهار کې ورکړل شو:

> طالبان باید د متحدو ایالتونو په ګډون د هغو خلکو شتون ومني چې له دغه حکومت سره همکار دي، او حکومت باید د طالبانو شتون ومني، البته د یوې مخالفې وسله والې ډلې په ډول نه بلکې د یوې داسې ډلې په ډول چې کولای شي د افغان قوانینو په رڼا کې په واک کې برخه واخلي[199].

په کندهار کې نورو ځواب ورکوونکو ویل پخلاینه له مخکې شته، په ځانګړي ډول په هغو کلیوالو سیمو کې چې طالبان پکې اوسمهال د پریکړې واک لري[200]. د واک شریکولو په اړه لوی مخالفت دا و چې مخکیني جنګیالي باید د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو په لیکو کې شامل نه شي. ځواب ورکوونکو ویل چې باید د یوځای کېدلو لپاره محدودیتونه وي، خو دوی د دغو محدودیتونو په اړه څه ونه ویل، ځینو ویل چې دوی ته باید په ټولو امنیتي ارګانونو کې ځای ورنه کړل شي، او ځینو نورو ویل چې یوازې د ملي امنیت په ریاست کې باید ځای ورنه کړل شي، یا په لوړو څوکیو کې ځای ورنه کړل شي او په ټیټو څوکیو کې ځای ورکړل شي، داسې یو څه چې له مخکې څخه د هېواد په ډېرو برخو کې ترسره شوي دي.

---

[198] د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر کې د کندهار له یو قومي مشر سره مرکه
[199] د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر میاشت کې د کندهار له قومي مشر سره مرکه
[200] د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په میاشت کې په کندهار کې له قومي مشرانو او د مدني ټولنې له فعالانو سره ګډې مرکې.

# VII. ملونه (ضمایم)

## 7. لومړی مل پاڼه

*موردي مطالعه؛ لوګر*

په لوګر کې د ګډې ولایتي کمېټې د سکرتریت ډلې له غړو سره د شوو مرکو له مخې، د ۲۰۱۵ زیږدیز کال تر نیمایي پورې د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام په وسیله ۱۲۰ پراختیایي پروژې پلې شوې دي. د کاري ګروپ ګډونوال تر ډېره د استنادي دېوالونو په جوړېدو، دولتي ودانیو لکه د ناستو په خونو او د کاریزونو په ایستلو خبرې کړې[201]. که څه هم ډېر لږ د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام له خوا د پلو شوو پراختیایي پروژو په اړه خبر وو او یا یې خبرې پرې کړې وې. هغوی چې په دې پراختیایي پروژو خبر وو، ډېری یې داسې احساس کاوه چې دا پروژې ډېرې وړې او ډېرې لنډمهالې دي[202]. ځېرونکو په لوګر ولایت کې د اتو کوچنیو پروژو د لیدلو په موخه تللي دي. په دې پروژو کې درې یې د استنادي دېوالونو جوړول، دوه یې د سړکونو ژغل اچول او یوه یې د یوه ټولنیز مرکز جوړول وو. د څارنې د چک‌لېستونو له مخې، ټولې اته پروژې د ټولنیزو پراختیایي شوراګانو له لارې د کلیو د پراختیا او بیارغونې ریاست په څارنه پلې شوې، خو پخلا شوي کسان یوازې په یوه پروژه کې کارکوونکي وو، ټولنیزو پراختیایي شوراګانو پرېکړه کړې وه، چې خپله ډېرکار پرې وکړي او بېرته پخلا شوي یې نه وو پکې شامل کړي، له دې سره سره چې دا پروژې د سولې او سوله‌ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام په وسیله مالي ملاتړ شوې وې. د دغو پروژو اوسط یې د ښه کیفیت و او ډېری یې د متوسط ښه حالت درلودونکې بلل شوې. که څه هم چې د ځنګل کېنولو په یوه پروژه کې چې د پستې ونې پکې کرل کېږي چې هغه په سیمه کې د اوبو لګولو د سیستم د نشتوالي له امله له ماتې سره مخ شوې او ګټه اخیستونکو ویل چې که دغه بڼ ته په دوامدار ډول اوبه ور ونه رسېږي نو هغه به له منځه لاړ شي.

*موردي مطالعه: هرات*

په هرات کې د سولې د ولایتي کمېټې د غړو د مرکې له مخې له ۵۶۰ تر ۶۰۰ پراختیایي پروژې د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام له خوا پلې شوې دي. که څه هم چې د یوه شخص د تشرېح له مخې یوازې ۳۵۰ کورنۍ له هغو پروژو څخه په مخامخ ډول برخمنې شوې دي[203]. په دې پروژوکې د بېلګې په ډول په انجیل ولسوالۍ کې د پلونو بیارغاونه او د پستې د باغونو کېنول شامل دي[204]. ګڼو کسانو سره چې مرکه شوې وایي چې پراختیایي پروژې تر ډېره کوچنۍ او لنډمهالې دي[205]. مرکه شوي کسان وایي، په ګڼو سکتورونو کې د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت[206]، د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو چارو وزارت[207] او د ښارجوړونې [208] په ګډون له اړوندو وزارتونو [209] سره په ګډه پلان او عملي شوې.

---

[201] په لوګر کې د کاري ګروپ د غړو او د ګډ ولایتي سکرتریت له ډلې سره له یو ځای شوو سره مرکې، جولای، ۲۰۱۵.

[202] متمرکز ګروپي بحث له ښځینه ټولنو غړو سره، دوه بحثونه له پخلاشوو سره او په لوګر کې د کرنې او مالدارۍ له ریاست، ولایتي ګډ سکرتریت له غړو او د سولې له ولایتي کمېټې سره مرکې. لوګر، جولای، ۲۰۱۵.

[203] په هرات کې د سولې له ولایتي کمېټې سره مرکه، یو متمرکز ګروپ بحث له پخلاشوو سره.

[204] په هرات کې د سولې د ولایتي کمېټې له غړو سره مرکه، اګست، ۲۰۱۵.

[205] د ولایتي ګډ سکرتریت ډلې له غړو او د کار، ټولنیزو چارو، شهدا او معلولینو ریاست له کارکونکو سره مرکه او په هرات کې د ښځینه ټولنو له غړو سره ګروپي متمرکز بحث. اګست، ۲۰۱۵.

[206] په هرات ولایت کې له پخلا شوو سره متمرکز ګروپي بحث

[207] تکرار

[208] تکرار

[209] په هرات کې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا ریاست او د کار، ټولنیزو چارو، شهدا او معلولینو ریاست له چارواکو سره مرکه. اګست، ۲۰۱۵.

دولتي کارډلې هم په هرات کې د سولې او سوله‌ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام په چوکاټ کې فعال دي او د کرنې او مالدارۍ وزارت د ځنګل کېنولو پروژې هم د سولې او پخلاینې پروګرام لپاره ګوښې کړې دي[210]. د سولې او پخلاینې د راپورونو له مخې ۱۱۷ پخلاشوي کسان د ۲۰۱۳ کال تر پایه له کوچنیو پروژو څخه برخمن شوي دي[211]. څېړونکي په هرات ولایت کې اتو پروژو ته له نږدې ورغلي دي. په دې پروژو کې شپږ یې د نیالګي کېنولو، یوه یې د سړک جوړونې او یوه یې د یوه پل د جوړولو ده. د څارنې د چک‌لست له مخې د نیالګي کېنولو شپږ پروژې بشپړې او د پراختیایي ټولنیزو شوراګانو لخوا د کرنې او مالدارۍ ریاست له خوا پرمخ وړل شوې وې. د پروژو په اړه یې هېڅ معلومات تر لاسه نه شول خو ډېری یې د منځنې کیفیت درلودونکې وې. چې د نیالګي کېنولو پروژو په برخه کې د اوبو لګولو د سیستم نشتوالی د دګډو پروژو د دوام لپاره ننګونه وه. د څېړونکو د څارنې له مخې پخلا شووکسانو ته په ټولو هغو پروژوکې چې کتل شوې دي برخه ورکړل شوې ده، که څه هم په یادو ټولو پروژوکې واک د ټولنیزو پراختیایي شوراګانو په لاس کې و چې پروژو ته‌کسان وګوماري.

## 8. دویمه ملپاڼه: ډي ډي آر او د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو نور نوښتونه

| پایله | موخه | اداره او مسؤل | کال | نوم/ډول | ډول |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| څه باندې ۱۲۰۰۰۰ وسلې د افغانستان د۲۰۰ څخه زیاتو پوځي ځواکونو ثب شوې او ۵۰۰۰۰ وسلې راټولې شوې چې دې چارې د جنګسالارانو د شبکو په له منځه وړلوکې لړه ونډه واخیسته او دا د دولتي لوري لخوا د سیالو ځواکونو دګوښه‌کولو لپاره یوه وسیله شوه. | په اصل‌کې د افغانانو د نوي پیل د پروګرام دکتنې لپاره جوړ شو او په بې وسلې کولو، د وسله والو ډلو په انحلال او په شمالي منطقو کې د ملي امنیتي ځواکونو په ثبت منتج شو. | د افغانستان انتقالي اداره، (دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت) د جمهوري ریاست د فرمان له مخې | 2003 | د بې وسلې کولو ملي‌کمیسیون | ې وسلې کول او ملکي ژوند ته د ستنېدلو پروګرام |
| ۶۳۳۸۰ پخواني جنګیالي ملکي شول، ۲۵۹ پوځي جوړښتونه منحل شول؛ ۵۷۶۲۹سپکې او درنې وسلې راټولې شوې، د وسلو او جنګیالیوکموالي د امنیت په ښه کېدو کې رول ولوباوه، که څه هم چې شبکې فعالې شوې او په ډېرو مواردوکې افغان دولتي امنیتي ځاکونو ته انتقال شول. | د پخوانیو قوماندانانو او د هغوی د ځواکونو تر منځ تاریخي تړاو ماتول، ملکي ژوند ته د افغان پوځي ځواکونو اوکدرونو ستنول او د هغوی د وسلو ټولول. | د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په استازولۍ د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام | 2003 – 2005 | د افغانانو د نوي پیل پروګرام | |
| ۷۵۹ ناقانونه وسله وال‌ګروپونه له منځه لاړل، تر ۲۰۱۰ کال پورې ۵۴۱۳۸ وسلې راټولې شوې؛ ډېری یې هغه ملېشې وې چې یو ځل پخوا هم په نښه شوې وې، لکه له دوی وړاندې کوم ګروپونه و چې د حکومتي ځواکونو لخوا ګوښه شول او د دوی ځواک چې خپل افراد اوګروپونه له انحلال څخه وژغوري له منځه لاړ. | د هغه خلا د ډکولو هڅه یې‌کوله چې یو شمېر هغه ناقانونه وسله وال ګروپونه په نښه‌کول چې د افغانانو د نوي پیل پروګرام او د بې وسلې‌کولو د ملي پروګرام له دایرې بهر پاتې و | د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په استازولۍ د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام | 2005 – 2011 | د ناقانونه وسله والوګروپونو انحلال (DIAG) | |
| څه باندې ۱۲۰۰۰ درنې وسلې راټولې او زېرمه شوې | له ښار څخه بهر د درنو وسلو د له منځه وړلو او راټولولو پروګرام | آیساف او د ملي دفاع وزارت د جمهوري ریاست د فرمان له مخې | 2004 – 2006 | د درنو وسلو زېرمه کول | |

[210] د سولې او پخلاینې پروګرام د ۲۰۱۴ کال کلنی رپوټ، ملګري ملتونه، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام، ۲۰۱۴..
[211] د سولې او پخلاینې کلنی رپوټ ۲۰۱۳. د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام، ۲۰۱۳.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | د پرسونل ضد ماینونو او وسلو د انبارونو له منځه وړل | 2005 – 2009 | د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (داینکارپ انټرنشنل او هالوټرسټ) د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په استازولۍ | د پرسونل ضد ماینونو او د وسله کوټونو له منځه وړل | ۲۰۰۰۰ متریک ټنه مهمات او څه باندې ۵۰۰۰۰۰ پرسونل ضد ماینونه له منځه لاړل |
| انتقالي عدالت، بشري حقونه، سوله او پخلاینه او روڼتیا | د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون (AIHRC) | 2002 - | د بن د تړون له مخې خپلواکه اداره ده چې د ولسمشر د فرمان پر بنسټ رامنځته شوه | په هېواد کې د بشري حقونو د څار او ساتنې، د آزادیو په تضمین د څار، د بشري حقونو د نقض د څېړنې او په ټول کې په هېواد کې د بشري حقونو د ساتنې او ښه کولو لپاره د ګامونو اوچتول. | د بشري حقونو د نقض د تېرو مواردو په اړه پام وړ څېړنې او د عدالت لپاره غږ، د پروګرامونو او بېلابېلو رپوټونو د خپرولو او په عمل کې د هغو د پلي کولو لپاره پام وړ پرمختګ |
| | د ملي پخلاینې او عمومي بښنې او ملي ټیکاو قانون | 2008 - | دا قانون په ۲۰۰۷ کال کې پاس شو او په ۲۰۰۸ کال کې په رسمي جریده کې نشر شو او په ۲۰۱۰ کې عمومي شو. | د اساسي قانون او نورو واکمنو قوانینو د منلو په صورت کې د پخلاینې او ملي ثبات د پیاوړي کولو او د ستروګټو د خونډي کولو او د متخاصمو ډلو تر منځ د دښمنیو د ختمولو او باور د جوړولو په موخه چمتو شو . | له ۱۹۷۸ څخه تر ۲۰۰۱ کال پورې په جنګي جرایمو او د بشري حقونو په نقض کې د ښکېلو کسانو لپاره عملي بښنه او په جوړ شوي کاري پلان کې د راغلو موضوعاتو عملي کول |
| | ملي لومړي توب پروګرام (NPP 6) د بشري حقونو او مدني مسؤلیتونو په تړاو. | 2008 - | د ۲۰۱۰ کابل کنفرانس د موخې له مخې او د ملي پراختیایي ستراتیژۍ پر بنسټ د وزیرانو شورا پرېکړه | د سولې او پخلاینې د برخو په ګډون د بشري حقونو او مدني روزنې د هر اړخیز پروګرام معرفي او تطبیق | د دغه ملي لومړیتوب د پروګرام په ځای پاتې شوی اغېز د افغان ټولنیز تفاهم د پروګرام عملي کېدل دي؛ که څه هم له دې لارې د مدني زده کړو په برخه کې پام وړ کارونه وشول خو دا شوراګانې د امریکامتحدو آیالاتو د نړیوال پراختیایي پروګرام لخوا د مرستو له درېدو سره له منځه لاړې. |
| | ملي لومړیتوب پروګرام (NPP 5) قانون او عدالت د ټولو لپاره | 2008 - | د ۲۰۱۰ کابل کنفرانس د موخې له مخې او د ملي پراختیایي ستراتیژۍ پر بنسټ د وزیرانو شورا پرېکړه | د قانون د واکمنۍ د تطبیق له لارې د شخصي، اقتصادي، ټولنیزو او ملي ګټو د خونډي کولو او دفاع لپاره د عدالت په سیستم د افغانانو د باور راژوندي کول، او دا ب ملي عدالتي پروګرام کې د دوديز عدالت په یو ځای کولو سره تر لاسه کېدای شي. | د بشري حقونو په اړه د ډېر پوهاوي او د عدالت د میکانیزمونو له رامنځته کېدو سره سره دغه ملي پروګرام د رسمي عدالت او غیررسسمي عدالتي سیستم تر منځ د اړیکو په تړاو یوه ملي پالیسي رامنځته کړه او د عدلیې وزارت هغه په ۲۰۱۵ کال کې د یوې مسودې په توګه برابره کړه. |
| سوله او پخلاینه | د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو ملي خپلواک کمېسیون | 2005 – 2010 | د ولسمشر د فرمان له مخې خپلواک کمېسیون | د ګروپونو تر منځ وسله والې شخړې ختمول، د ملي شخړو حل، د پخوانیو بې عدالتیو له لامله د ټپونو مرهمول او د کورنۍ جګړې او بخوانیو تجربو د تکرار د مخنیوي لپاره اقدامات کول. | څه باندې ۴۵۰۰جنګیالي او ۵۰۰ نیول شوي کسان چې تر ډېره په طالبانو پورې تړلي کسان و، بېرته ملکي ژوند ته را ستانه شول. کره کتونکي وایي په دې شمېرو کې مبالغه شوې؛ په لوړه کچه دا راستنېدل له دې امله ستونزمن دي چې د پخوانیو جنګیالیو مصؤنیت هم له طالبانو او هم د نړیوالو ځواکونو له لوري ګران دی. |
| | د افغانستان د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام | 2010 - | د ولسمشر د فرمان له مخې خپلواک کمېسیون | د افغانانو په نوښت د سولې پروګرام چې په محلي کچه بیا پخلاینه او د جنګیالیو بېرته را یوځای کېدل او ملکي کېدل | ۵۷۸ جنګیالي د ۲۰۱۵ تر سپټمبر پورې بیاپخلا شوي؛ په داسې حال کې چې په ملي کچه د سولې خبرې اترې لا هم نامالومه دي، هان د دغه پروګرام له پیلېدو پنځه کاله وروسته او د طالبانو تاوتریخوالي هماغه راز |

| | | |
|---|---|---|
| روان دی. | پکې شاملېږي. | |

## 9. دریېمه ملپاڼه: د سولې عالي شورا اوګډې دارالانشا ته د مدني ټولنې د ګډون په اړه وړاندیزلیک

**په افغانستان کې د سولې د ملاتړ لپاره د مدني ټولنې د ادارو له خوا د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام ګډ سکرتریت او د سولې عالي شورا ته وړاندیز لیک**
**مې، ۲۰۱۳**

### 1 لنډیز

په ۲۰۱۰ کال کې د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام له پیل راهیسې افغان دولت د روانې جګړې لپاره د یوې سیاسي حل‌لارې د موندلو لپاره کار کوي. موږ د سولې او پخلاینې په پروګرام کې د سولې د عالي شورا اوګډ سکرتریت هغه هلې ځلې ستایو چې د مدني ټولنې د ښکېلولو لپاره یې کړې په تېره بیا د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ په ۲۲مه د سولې عالي شورا له خوا هغه رابلل شوی کنفرانس چې د مدني ارګانونو په غوښتنه یې د مدني ټولنې د ارګانونو یو کوچنی ګروپ جوړ کړ ترڅو د سولې پروسې د ملاتړ لپاره د کار نقشه برابره کړي. په دې سند سره د مدني ټولنې لاسلیک کوونکې ادارې چې په افغانستان کې په دواړو مدرنه مدني ټولنه (نادولتي مؤسسات، د مېرمنو او ځوانانو ګروپونه، رسنۍ او مسلکي اتحادیې) او دودیزه مدني ټولنه (قومي او مذهبي مشران، سپین ږیري او مخکښان) د بېلابېلو سکتورونو استازولي کوي، ټول به په افغانستان کې د سولې د راتګ لپاره خپلې هلې ځلې منسجمې کړي. موږ بل داسې ټولګډونه او هراړخیز د همکارۍ چوکاټ نه وینو چې په هغه کې د مدني ټولنې رول او ارزښتونه منعکس، درک او پېژندل شوي وي.

که څه هم موږ په دې پوهېږو چې د سولې په تړاوګامونه باید د سیاسي فعالینو او د جګړې د ښکېلو لورو له خوا پورته شي او په سیمه ییزه او نړیواله کچه یې ملاتړ وشي، خو موږ د مدني ټولنې بېلابېل فعالین په دې اند یو چې موږ مهم ملاتړی رول لوبولای شو او د سولې اوسنۍ پروسه راژوندۍ کولای او نوره هم هراړخیزه او پیاوړی کولای شو.

موږ په سولې عالي شورا اوګډ سکرتریت غږکوو چې ستره سیاسي اراده وښیي او په ډېر سیستماتیک، باثباته او رڼه ډول همکاریو او بحثونو سره د مدني ټولنې په تېره بیا د مېرمنو د لا ډېرې ښکېلتیا لپاره هغه هم په ولسوالیو او ولایتونو کې ګامونه پورته کړي. دا مهمه ده چې په افغانستان کې د سولې دښمن ته اجازه ورنه کړل شي چې د سولې له کاواکه هلو ځلو استفاده وکړي، په تېره بیا هغو ځایونو کې چې افغان حکومت د مدني ټولنې په تېره بیا د مېرمنو لپاره د فعالې ښکېلتیا مناسب چاپېریال نه دی رامنځته کړی تر څو په ژور ډول خپل ملاتړی رول ولوبوي.

په دې نظریو چې سوله یواځې هغه مهال شونې ده، چې موږ د ټولنې ټولو سکتورونو ته ځان ورسوو او هر اړخیزه ښکېلتیا او ژوره پروسه پرمخ بوځو تر څو د باثباته سولې لپاره په کافي اندازه هراړخیز ایتلاف رامنځته شي. سولې ته

رسېدل دي پروسې ته د يوې پروسې په سترګه وکتل شي نه د افرادو د يوځای کولو په توګه تر څو ټولنې وکولای شي چې خپلې ستونزې حل او جګړه په دوستانه فضا واړوي. د هغو ستونزو د بريالي حل لپاره چې د ټولنو تر منځ درز رامنځته کوي د سوله‌ييزې حل‌لارې کارول او د هغو موضوعاتو پېژندل دي چې خلک سره نښلوي او وېشي او دغه راز د جګړې په تېزوونکو عناصرو پوهېدل اړين دي. کنه نو د هغې پر ځای د ټولنو د زغم او انسجام لوړول اړين دي چې موږ د هڅوونکو په ملاتړ سره د جګړې د انګېزې او ټولنو د زيان‌منني کچه ټيټه کړو. د سولې ګټې او يا د سولې امتيازونه ټولنو ته وښودل شي نه يواځې جنګياليو ته. ښايي چې ټولنی خپله د دې پروسې له ګټو برخمنې شي او په محلي کچه د حکومتولۍ د ښه والي او د شخړو د حل د جوړښتونو، عدالت ته د لاسرسي، د خدماتو د وړاندې کولو او اقتصادي پرمختګ ملاتړ وکړي، ځکه دا دوی دي چې پخلا شوي کسانو ته په خپل ځان‌کې ځای ورکوی او دغه راز د هرې روغې جوړې او پخلاينې د پروسې د ماتې زيانونه به هم دوی زغمي.

موږ په دې اند يو چې سوله او بيا پخلاينه په ټولنه کې په پوهاوی دی چه اکثريت باندی اغيزه کوی، خو له دې هم مهم دا دی چې څرنګه د خپلو ډېرو کمزورو غړو حقوق خوندي کولای شي. د باوری سولې لپاره بايد نتايج هر اړخيز او د ټولو نظرونه، ارزښتونه او حقوق د منلو وړ وي په تېره بيا د ښځو او ګوښه شوو ټولنو. اصله خبره د جوړجاړی د لارو موندل ده نه د هغه نتايجو چه د مخورو د اغيز لاندی ترلاسه شوی وی.

## 2 د سولې په پروسه کې د مدني ټولنې ونډه

د سولې هره بريالۍ پروسه د مدني ټولنې فعال ملاتړ اوګډون ته اړتيا لري. څېړنو ښودلې چې د مدني ټولنې منل شوي اشخاص ( لکه مذهبي او قومي مشران) د رسمي خبرو اترو لپاره د لارې د هوارولو او د لانجې پر مهال د رسمي منځګړي د رول په لوبولو کې مهم رول لري. د مدني ټولنې پام وړ ګټې د نادولتي او خپلواکو فعالينو په توګه چې له بشري موازينو سره اړخ لګوي په دې ډول دي:

- د دواړو مدرن (مېرمنو او ځوانانو دګروپونو، رسنيو او صنفي اتحاديو) او دوديزې (قومي مشرانو، مذهبي او روحاني مخکښانو) مدني ټولنې بېلابېلښت چې‌که په سيستماتيک ډول په پوره اندازه ښکېل شی کولای شي چې د ډاډمنی سولې يو ټول‌ګډونه او هر اړخيز بهير رامينځته کول.
- د يو بې پرې او خپلواک درېمګړي په توګه د افغان حکومت او نورو ډلو تر منځ رول اداکول او دغه راز د ټولنو تر منځ د بحث طبيعي چوکاټ برابرول.
- پروسې ته د باوري بې پرې قومي مشرانو، روحاني شخصيتونو، مېرمنو او ځوانو فعالينو په ښکېلولو سره په ډېره ژوره کچه له خپلې پراخې شبکې څخه په استفادې د ملاتړي رول لوبول.
- د ولس منځ ته د پله ورجوړول د ټولنې په اړتياو او نظرياتو د پوهېدو په مانا دی، د حکومت او خلکو تر منځ  د باور جوړونې سره ترلی د ټولنو هڅول او دغه راز د خفګانونو په تړاو په منځګړتوب سره د مخلفو ډلوسره اړيکه نيول او د موجود خفګان له مينځه وړل. بريا هغه وخت راځي چې د خلکومالکيت رامنځته شي او هغه هم ټولو ته لکه نارينه، مېرمنو، ځوان او زاړه، مدرن او دوديز، مذهبي او سکولر، لږه‌کي او

ډېرهکي او په تېره بیا د هېرو شوو ټولنو لکه قومي لږهکي، کوچیان او داخلي بې ځایه شوي خلک. زموږ ځانګړی ټینګار دادی چې د افغان ټولنې د نیمایي تشکیلوونکې برخې په توګه مېرمنې په مساوي ډول باید په پروسه کې شاملې شي.

**د همکارۍ ممکنه ساحی**

له سولې عالي شورا او ګډ سکرتریت سره د مدني ټولنې وړاند نیو بحثونو او د ۲۰۱۱کال په میٔ میاشت کې د سولې او پخلاینې د پروسې د ارزولو د کنفرانس په ګډون د مدني ټولنې ګڼو اسنادو او دغه سند هغه برخې په ګوته کړې چې پکې مدني ټولنه د سولې له پروسې سره مرسته کولای شي هم د ژورتیا، پراختیا کې او هم د ژورې کچې تفاهم د تر لاسه کولو په برخه کې. دا فعالیتونه د سولې او پخلاینې د مهمی برخی ننګه کولای شي چې هغه پیغام رسول، یو ځای کېدل او د ټولنو رغول دي، په تېره بیا د بیا پخلاینې لپاره د بنسټیزو حل لارو په موندلو کې. موږ هیله لرو چې په دې وړاندیزونو سره موږ وکولای شي چې د سولې عالي شورا او ګډ سکرتریت او مدني ټولنې ګډه همکاري راژوندۍ کړو تر څو د یوه هر اړخیز پلان د نهایي کېدو او د هغو د عملي کیدو په لوري یې پوخ ګام وي. د هغه څه چې دلته وړاندې شوي ډېره برخه که څه هم د سولې لپاره د مدني ټولنې د کار د زمینې د برابرولو لپاره د سولې عالي شورا او ګډ سکرتریت سیاسي ملاتړ ته اړتیا لري خو په داسې حال کې چې په عین وخت کې زموږ خپلواکي هم په پام کې وي تر څو د سولې د پروسې په برخه کې خپل قوتونه وکاروو. په ګډو هلو ځلو او د سولې عالي شورا او ګډ سکرتریت لخوا زموږ د قوتونو په استفادې او د سولې او پخلاینې د موخې په پام کې نیولو سره موږ فکر کوو چې سوله شونې ده.

**له ټولنې سره سلامشورې او د باور جوړونې هڅې:** د ټولنی مالکیت د تلپاتی سولې د ملا تیر جوړوي. ټولنې باید خپله ووایي چې څوک غواړي چې ورسره پخلا شي او تر ټولو مهمه دا چې د سولې او پخلاینې بېلابېل بستی ( لکه پرمختګ، پوهنه او اقتصادي غوړېدنه) څرنګه د دوی ټولنې ته ګټه رسولای شي. دا د سولې او پخلاینې د بېلابېلو جوړښتونو او د مدني ټولنې د بېلابېلو سکتورونو په تېره بیا د اولس په کچه د ګډ تفاهم اړتیا مطرح کوي. مدني ټولنې کولای شي داسې یو تفاهم د بحثونو په چوکاټ کې په ملي، ولایتي او سیمه ییزه کچه د هراړخیزو نظر پوښتنو له لارې رامنځته کړي. دا مهمه ده چې د ګوښه شوو ډلو په ګډون د افغاني ټولنې بېلابېل غړونه اوربدل کیږی او په کافي اندازه ټول ګډونه او هر اړخیزه ایتلافونه چې قومي مشران او د مدني ټولنې او مېرمنو د ګروپونو فعالین پکې ګډون ولري تعقیب شي، ځکه دا د باور په راژوندي کولو او د بدلون او بیارغونې په لور د باثباته ګامونو اوچتولو ته لاره هواروي. بل انتخاب هم د ولسوالیو په کچه د سولې او پخلاینې د کمیټو جوړول دي چې بېلابېل د مدني ټولنې ګروپونه او فعالین پکې رول ولري. او دا به په هره سیمه کې د مدني ټولنې تنوع هم ښئي.

**د ناخوښيو د له منځه وړلو ملاتړ:** د بې پرې فعالينو په توګه د مدني ټولنې فعالين کولای شي چې د ټولنې بېلابېلو برخو ته د اوریکو د ورپخلاکولو لپاره ابتدائي خبرې اترې پیل کړي. د خپګانونو حل د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام یوه مهمه برخه ده چې جدي اقداماتو ته اړتیا لري. اوسمهال د پخوانیو او اوسنیو خپګانونو د حل لپاره د میکانیزم نشتوالی د افغان ټولنې د ځو قطبي کېدو لامل شوی. په پراخه چې د خپګانونو د له منځه تګ لپاره د سوله‌ییزو لارو چارو او انتقالي عدالت د پلي کولو د ملاتړ اړتیا ده او دا د اکتسابی عدالت د رامنځته‌کوونکو لخوا د بېرته تر لاسه کېدونکي عدالت لپاره یو میکانیزم برابروي تر څو اوریکي بېرته خپلو ټولنو ته جذب شي. د مېرمنو حقوق باید له اکتسابي میکانیزمونو سره وتړل شي او د ننواتې په څېر طرحو څخه باید ګټه واخیستل شي.

**د وړتیاوو روزنه:** د ناخوښۍ حل ته د لارې برابرولو ترڅنګ مدني ټولنې د دربیمګړتوب او د شخړو د سوله ییز حل په برخه کې د تعلیم ورکولو او دغه راز د سولې د تدریس تجربه هم د ولسوالیو، هم د ولایتونو او هم په ملي کچه لري تر څو د شخړو او خپګانونو له منځه وړلو ته لاره هواره کړي. مدني ټولنې کولای شي چې مسلکي روزونکي وړاندې کړي تر څو ښې پایلې وړ ورکشاپونه او بحثونه پر مخ بوځي او د ولس له منځ څخه ګډونوال غوره او معلومات ورکړي.

**د سولې زده‌کړې او د سولې د کلتور خپرول:** سولې کلتور د هغو ټولنو لپاره چې له تاوتریخوالي سره عادت شوې او بلد شوی وي ډېر مهم دی. مدني ټولنې د دودیزو او مذهبي رهبرانو سره اړیکی نیولی شي تر څو د شریعت او محلي عنعناتو مطابق د سولې پیغامونه رامنځته کړي او په ټولنیزو بحثونو کې شامل شي. دغه راز ځانګړی او عاجل ضرورت د دې هم شته چې ځوانانو ته سوله ییز پیغامونه ور ورسېږي او په سوله ییزو چاروکې برخه ورکړل شي تر څو له اوریکۍ راوګرځي. د ځوانانو د پیاوړتیا د مراکزو جوړېدل چې پکې ټولنیز، کلتوري او سپورتي پروګرامونه جوړ شي او بې پرې او نوښتګر بحثونه، پوهنه او مشورې پکې ورکړل شي ښایي ددی موخی تر سره کولو سره ډېره مرسته وکړی.

**څېړنه او څارنه: له وړاندې پوهاوی او تر لاسه شوي درسونه:** پوهه ځواک دی او د جګړې په شرایطو او عواملو پوهېدل د پخلاینې او د سولې د پروسې لپاره د ټولنې ملاتړ لومړنی ګام دی. په دې سربېره د جګړې د ارزونې هڅې چې په ټولنوکې د ادغام عوامل او د جګړې اساسي لاملونه په نښه‌کوي اړین دي، دغه راز مدني ټولنې د سولې عالي شورا اوګډ سکرتریت په ملاتړ سره د پخلاینې روانې پروسې څارلی او د سولې د ولایتي کمېټو چارې ارزولای شي او په دې هم پوهېدلای شي چې ځایي خلک دوی ته په‌کوم نظرګوري او یا هم دوی‌کوم درسونه زده‌کړي دي. په دې سربېره مدني ټولنې کولای شي چې د ټولنې په اقتصادي، ټولنیز، سیاسي او امنیتي شرایطوکې د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام په اغېز څارنه وکړي چې دا د سولې او سوله ییز ژوند ته د راستنېدلو پروګرام بریا ارزولای شي. د دغې څارنې یوه برخه‌کېدای شي چې د اوسنیو خپګانونو په له منځه وړلو او یا هم د پخلاینې د پروسې په جریان‌کې د راپورته‌کېدونکو شخړو د له منځه وړلو لپاره له وړاندې پوهاوي د میکانیزم په توګه د پام وړ اهمیت ولری.

## لاسلیکوونکې ادارې

1. د افغانستان د مدني ټولنې مجتمع (ACSFo)
2. د افغانستان د ټولنیزې احیاء مؤسسه (ACRU)
3. د افغانستان د پرمختګ اداره (ADA)
4. د افغاني نادولتي موسسو د پیوستون اداره (ANCB)
5. د افغانستان د عامه هوساینې مؤسسه (APWO)
6. د افغان مېرمنو د استعدادونو د ودې مرکز (AWSDC)
7. د افغان مېرمنو روزنیز مرکز (AWEC)
8. د افغان مېرمنو شبکه (AWN)
9. د افغان مېرمنو د سرچینو مرکز (AWRC)
10. د افغانستان د بشري حقونو او ډیموکراسۍ مؤسسه (AHRDO)
11. د بدلون کاروان
12. د جګړې او سولې د مطالعاتو مرکز (CAPS)
13. د مدني ټولنې د پراختیا مرکز (CSDC)
14. د سولې او ترقۍ مؤسسه (CPD)
15. د سولې او یووالي لپاره د همکارۍ اداره (CPAU)
16. د افغانستان بشري او پراختیایي خدمات اوکلیدګروپ (DHSA) & (TKG)
17. د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه (EPD)
18. د عدالت لپاره د پیوستون بنسټ (FOSJ)
19. د افغانستان د رسنیوګروپ
20. مېډیکا افغانستان Medica Afghanistan
21. د پوهنې د پرمختګ نوې مؤسسه (MODE)
22. د افغانستان د پرانیستې ټولنې بنسټ (OSA)
23. د سولې لپاره روزنیزه او څېړنیزه موسسه (PTRO)
24. د مېرمنو د سولې او امنیت د مطالعاتو انستیتوت (RIWPS)
25. سنایي پراختیایي مؤسسه (SDO)
26. د اړیکو دفتر (TLO)
27. د مېرمنو او ماشومانو د حقونو څېړنیز بنسټ (WCLRF)
28. د فساد پر وړاندې د افغانانو همغږي
29. د افغانستان د سولې لپاره د سولې موسسه (APPO)
30. د افغانستان د سولې د پرمختګ موسسه
31. افغان ښځو د پیوستون ملاتړ (AWCNC)
32. ځوانان په عمل کې ټولنه
33. په افغانستان دکې د ځوانانو ملاتړ د رینښتینې ولسواکۍ په لور
34. د مدني ټولنې د همغږۍ مرکز
35 د ښځو د پیاوړتیا مرکز ( ECW )
36. د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو بنسټ
37. د غزنې دکلیوالو مرستو پروګرام
38. میدیوتیک افغانستان
39. د افغان کارګرانو ملي اتحادیه
40. د نوي افغانستان د ښځو موسسه (نوا)

41. د ناروې د پروژو دفتر، د افغانستان لپاره دکليوالو سيمو د بيا رغاونې همکاري (NPO/RRAA)
42. د روغتيا، پوهنې او پراختيا لپاره د همکارۍ موسسه
43. د افغانستان د سوېل لويديځ او بلوڅستان د همغږۍ اداره
44. د افغانانو لپاره ټولنيزه او پراختيايي خيريه موسسه
45. د بشري حقونو او د تاوتريخوالي د له منځه وړلو موسسه
46 د ښځو سيمه ييزه شبکه – افغانستان
47 د پوهنې حقونو او عدالت غوښتنې موسسه
48. د سولې لپاره د افغاني مدني ټولنې د بنسټونو شبکه
49. د هرات ولايت د مدني ټولنې فعالان
50. د فارياب ولايت د ښځو شبکې همغږي کوونکې
51. د باميانو ولايت د ښځو شبکې همغږي کوونکې
52. دکندهار ولايت د ښځو د شبکې همغږي کوونکې
53. کندهاري خزانه
54. دکندوز د ښځو شبکې همغږي کوونکې
55. د باميانو مدني فعالان
56. د احمد خان کلي د خلکو د شورا استازي
57. د بگرامي د ښځو شبکې همغږي کوونکې
58. د بهسودو اوکامې ولسواليو د خلکو د شوراګانو استازي
59. د مدني ټولنې د پياوړتيا شبکه (CEN)